

د بشري حقونولپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب

کلنی راپور ۲۰۱۹

فبروری ۲۰۲۰ | کابل، افغانستان

## ۲۰۱۹ کال افغانستان کې د ولایت پر اساس ملکي تلفات



دغه راپور او په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندیتوب ټول نور راپورونه چې دلته حواله ورکړل شوي، د یوناما پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي:
http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

د ۲۰۱۹ کال د جولای پر لومړۍ نېټه، د طالبانو له خوا د دفاع وزارت پر ودانۍ د یوه برید په پایله کې، یو هلک او شپږ ملکي نارینه ووژل شول او ۱۴۴ نور ملکي وګړي ټپي شول. چاودنې دغه راز شا و خوا کورونو، کاروبارونو او ښوونځیو ته هم زیان واړاوه. په سیمه کې شپږ ښوونځي اغیزمن شول، چې ټولګي یې زیانمن شول او ښوونیز توکي یې ویجاړ شول.

انځور: هارون سباون/ای ایم ای



**دغه راپور د تیرکال په اوږدو کې په افغان جګړه کې د ملکي وګړو غمجن حالت مستندکوي او د جګړې د ټولو ښکیلو خواوو ته د ملکي تلفاتو د راکمولو په تړاو سپارښتنې کوي. له کوم وخت راهیسي چې په ۲۰۰۹ کال کې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستندکول پیل کړي، له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات ولسي وګړي ټپي او وژل شوي، اوس او تر اوږدې مودې را وروسته، د دې وخت را رسیدلی چې دغه بشري ناورین او تراژیدي ته د پای ټکی کېښودل شي. د ملکي وګړو د وژلو او ټپي کولو د درولو لپاره تر ټولو غوره لار د جګړې پای ته رسول دي. په داسې حال کې چې د ولسي وګړو مرګ ژوبله د ریکارډ لوړوکچو ته رسیدلې، تر بل هر وخت اوس د دې اړتیا ده، چې موږ خپلې ټولې هڅې د سولې د راستلو لپاره وکاروو. زه د جګړې له ټولو خواوو دا غوښتنه کوم، چې له هر فرصت څخه په ګټنې سره دغه کار ترسره کړي."**

**تدامچي یاماموتو،**

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی

افغانستان، کابل / فبروري ۲۰۲۰



**"په افغانستان کې خلک لا اوس هم د بې ګناه ملکي وګړو په ضد د تاوتریخوالي تر ټولو سخت شکلونه تجربه کوي. د کال دریېمه ربعه د وسله والې جګړې له امله د ریکارډ ترکچې د ملکي تلفاتو د لوړ شمیر شاهده وه. د تاوتریخوالي له امله بې شمیره وګړي کورنۍ او ټولنې له جسمي، رواني، ټولنیز او اقتصادي زیان څخه ځوریږي. زه د ښځو او ماشومانو د نا متناسب کړاو له امله سخت نارامه شوم. د تاوتریخوالي او جګړې دوران په معنا دار ډول پای ته رسول، د هغوکسانو لپاره چې په افغانستان کې اوسیږي د بخښنې، مننې، عدالت، ښېرازۍ او د سولې چانس لپاره یوه رېښتینې هیله رامنځ ته کیدای شي."**

**میشل بچلیت،**

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنره / جنیوا / فبروري ۲۰۲۰

## ماموریت

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۹ کال راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی او د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې موده رانغاړي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې دغه راپور د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پریکړه لیک لاندې د یوناما د ماموریت د تمدید په تعقیب "چې د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، د هغوي د ساتنې لپاره هڅې همغږې کړي، احتساب ته وده ورکړي، [...] او د افغانستان د اساسي قانون او نورو هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان یې غړیتوب لري، په ځانګړي ډول له ښځو حقونو د ښځو د بشپړ برخمن کیدو په تړاو، د بنسټیزو ازادي ګانو او بشري حقونو د احکامو په بشپړ تطبیق کې مرسته کړي" چمتوکړی.

د امنیت شورا ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پریکړه لیک د وسله والې جګړې وضعیت په تېره بیا د ملکي تلفاتو د روانې څارنې او امنیت شورا ته د هغې د راپور ورکونې اهمیت په رسمیت پیژني.

یوناما پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې د اغیز د راکمولو په موخه یو لړکړنې ترسره کړي لکه: د هغو پېښو څېلواکه او بې پرې څارنه چې ملکي مړګ ژوبله په کې رامنځ ته شوې وي؛ د وسله والې جګړې له امله د اغیزمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د پیاوړي کولو لپاره مدافعه کول؛ د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو په ځانګړي ډول د ژوند او جسمي خوندیتوب حقونو ته د درناوي په ګډون، د جګړې د ټولو ښکیلو خواوو تر منځ د مراعات کولو د ودې لپاره د نوښتونو رامنځ ته کول.

## د مطالبو فهرست


**میتودولوژي....... 1**

**د راپور لنډیز....... 5**

**سپارښتنې....... 12**

**۱. هغه سیاسي او امنیتي ډاینامیکونه چې د ملکي وګړو خوندیتوب اغیزمنوي....... 16**

**۲. پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې اغیز....... 18**

**الف. ښځې او وسله واله جګړه....... 18**

**ب. ماشومان او وسله واله جګړه....... 20**

**لومړی: د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارونه....... 23**

**دویم: د ماشومانو په وړاندې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالی....... 25**

**ج. پر پوهنې د وسله والې جګړې اغیز....... 26**

**د. پر روغتیا د وسله والې جګړې اغیز....... 28**

**ه. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي....... 30**

**۳. د دولت ضد عناصر....... 32**

**الف. عمومي کتنه....... 32**

**لومړی: طالبان....... 34**

**دویم: د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله....... 37**

**ب. د هغو تکتیکونو او پېښو ډولونه چې د زیات ملکي زیان لامل شوي....... 38**

**لومړی: تعبیه چاودیدونکي توکي (انتحاري او غیر انتحاري)....... 38**

**دویم: هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي....... 45**

**دریم: په جګړې پورې اړوند د ملکي وګړو تښتونې....... 51**

**څلورم: د ملکي وګړو په ضد ترسره شوې ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکې سزاګانې....... 52**

**پنځم: د نظامي موخو لپاره دکورونو او نورو ملکي ځایونوکارول....... 53**

**۴. دولت پلوه ځواکونه....... 54**

**الف. عمومي کتنه....... 54**

**/دویم. نړیوال پوځي ځواکونه....... 56**

**دریم. دولت پلوه وسله والې ډلې....... 59**

**ب. د هغو تاکتیکونو او پیښو نمونې کوم چې ملکیانو ته زیات زیان اړوي....... 61**

**لومړی: هوايي بريدونه** ........................................ 61

**دويم: د تلاشي عمليات**........................................ 68

**دريم: د په خپل سر اعدامونو په شمول، عمدي وژنې**........................................ 70

**۵. ځمکنۍ نښتې: د ډزو په تبادله کې راګير ملکيان**........................................ 73

**الف. عمومي کتنه** ........................................ 73

**ب. غير مستقيمې ډزې**........................................ 75

**ج. مستقيمې ډزې**........................................ 77

**د. د پولې په اوږدو کې پيښې**........................................ 77

**۶. د احتساب د هڅو په ګډون، د ملکي تلفاتو د راکمونې پاليسۍ ګانې او ميکانيزمونه**........................................ 78

**الف. افغان دولت او افغان ملي امنيتي ځواکونه**........................................ 78

**ب. نړيوال پوځي ځواکونه**........................................ 80

**ج. طالبان**........................................ 82

**لومړۍ ضميمه: حقوقي چوکاټ**........................................ 84

**دوهمه ضميمه: د شخړې اصلي خواوې** ........................................ 88

**دريمه ضميمه: اصطلاحات** ........................................ 91

**څلورمه ضميمه: د ملکي تلفاتو ولايتي تجزيه**........................................ 98

**پنځمه ضميمه: د طالبانو غبرګون**........................................ 100

# میتودولوژي

د ۲۰۰۹ کال راهیسې، یوناما د یوې ثابتې میتودولوژي په کارونې سره کومې چې کال په کال د تمایلاتو د شننې او راپور ورکوونې زمینه برابره کړې، په سیستماتیک ډول هغه ملکي تلفات مستندکوي چې په افغانستان کې د جګړې ښکیلو خواوو ته منسوب شوي. د ۲۰۱۲ کال راهیسې، کلني راپورونه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر له دفتر سره یو ځای په ګډه خپریږي. د یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب چارې د بشري حقونو او د بشرپالنې نړیوالو قوانینو باندې ولاړې او د ښو مشقونو او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د سلا مشورو او لارښوونو پر بنسټ دي.

د ملکي تلفاتو شتون په دې مانا نه دی چې ګواکې سرغړونه رامنځ ته شوې، خو بیا هم د تلفاتو لوړې شمیرې ښایي د تاوتریخوالي څرګندوي وي یا د اوښتي زیان نمونې منعکسې کړي.

## تاییدونه او د ثبوت معیار

د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه د خپلو راپورونو لپاره، یوناما یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي.[1] ملکي تلفات د "تایید شوي" په حیث هغه مهال ثبت کیږي، چې د یوناما له خوا دکتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ دا په ډاګه شوې وي، چې څرګند او قانع کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکي وګړي وژل شوي یا ژوبل شوي. د دغه معیار د پوره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې مختلف او خپلواکه سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، روغتیایي کارکوونکي، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچینې. چیرې چې شونې وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو او د پېښې د ځای د حقیقت موندنې د هڅو له لومړنیو سرچینو څخه تر لاسه کیږي. د حقیقت موندنې دغه ډول چارې د امنیتي محدودیتونو له امله چې لاس رسی اغیزمن کوي، تل شونې نه وي. په داسې شرایطوکې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د باوري شبکو له لارې چې تر شونې بریده پراخې سرچینې او معلومات کاروي معلومات راغونډکړي، چې ټول یې د اعتبار او باور په موخه ارزول کیږي. په دغو تخنیکونوکې د پېښو په صحنوکې د راغونډ شویو ډیجټالي شواهدو لکه د ویډیوګانو، انځورونو او غږیزو ریکارډونو ارزونه؛ له روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې؛ د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې راپورونه؛ د دویم لاس سرچینو معلومات، د نا دولتي ادارو او د درېیم لوري له خوا راغونډ شوي معلومات؛ او پخپله د جګړې ښکیلې خواوې شامل دي. یوناما په فعال ډول د جنډر په لحاظ له بېلابېلو سرچینو او دغه راز د نژادي، مذهبي او قومي لږکیو او په ټولنه کې له محروم شویو ډلو سره مشورې کوي، څو د نظرونو تنوع ډاډمن کړي او د کوم ځانګړې طرفدارۍ یا پلوۍ ګواښ راکم کړي. چیرې چې یوناما د ملکي تلفاتو د معلوماتو د کمیت یا کیفیت په اړه ډاډمنه نه وي ، نو هغه د تایید شویو په حیث په پام کې نه نیسي. نا تایید شوې پېښې په دغه راپور کې نه دي شامل شوي.



د یوناما د بشري حقونو د ټیم غړي د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره د فراه ولایت په بکوا ولسوالۍ کې د حقیقت موندنې په ماموریت کې د ټولنې له غړو د هغو ملکي تلفاتو په اړه مرکې کوي، چې د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د نشه یي توکو د پروسس پر ادعا شویو مرکزونو د ۲۰۱۹ کال په جون کې د نظامي بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي. انځور: یوناما

## د جګړې له ښکیلو خواوو سره تعامل

یوناما د تایید شویو پېښو معلومات د جګړې له ښکیلو خواوو سره شریکوي څو په راپور ورکونه کې کره والی ډاډمن کړي او له هغوي سره پر ملکي وګړو د هغوي د عملیاتو د اغیز په درک کولو کې مرسته وکړي، څو ښایي هغوي وکولای شي هغه زیان ته رسیدګي وکړي چې دوي لامل شوي او د ملکي وګړو د غوره ساتنې لپاره تدابیر عملي کړي. که چیرې کوم لوری د هغو پېښو په اړه چې ملکي تلفات په کې رامنځ ته شوي او دوي په کې ښکیل وي داسې معلومات ولري چې د حقایقو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي، اړوند لوری د دغه ډول معلوماتو شریکولو ته هڅول کیږي. یوناما د ملکي تلفاتو په اړه خپلو تاییدونوکې ټول شته معلومات د اعتبار او باور په موخه ارزوي.

## د سرچینو خوندیتوب

د ملکي تلفاتو د پېښو د مستندکولو پر مهال، یوناما د معلوماتو د ورکولو لپاره زیانمنیدونکې سرچینې له هر ډول ممکنه غچ اخیستنې څخه خوندي ساتلو ته پاملرنه کوي، لکه په خوندي ځایونوکې ناستې ترسره کول، له رایج ټولنیزو نورمونو سره سم له ښځو سره مرکې ترسره کول، او په هغو ځایونوکې چې سرچینې له ګواښ سره مخ کوي د حقیقت موندنې د چارو بیا تنظیمول یا درول.

## د مسوولیت منسوبونه

څرنګه چې په جګړه کې ګڼې خواوې ښکیلې دي، یوناما هره شوني هڅه ترسره کوي چې تر شوني بریده د هرې ځانګړې ملکي مرګ ژوبلې لپاره مسووله خوا په څرګند ډول په ګوته کړي. دغه کار له عملیاتي چاپېریال سره د مل ننګونو له امله شايي تل شونی نه وي. د بېلګې په توګه، لومړنۍ سرچینې شايي د دې وړ نه وي چې په څرګند ډول مسوولې خواوې په ګوته کړي یا په هره قضیه کې د مختلفو نظامي فعالینو یا د وسله والو ډلو د ګډو ترمنځ توپیر وکړي یا شايي داسې یو حالت چېرې چې هیڅ لوری د پېښې مسوولیت نه وي منلی. یوناما د هرې ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت یا دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو، په ګډه دواړو ډلو، یا د "نامشخص لوري" په څیر یوه لوري ته منسوبوي. د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال په هغو قضیوکې په کوموکې چې ملکي مرګ ژوبله یوه لوري ته منسوب کېدای نه شي ، یوناما دغه ډول مسوولیت په ګډه دواړو ډلو ته په دې ډول "دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو" ثبتوي او منسوبوي. چېرې چې مرېنې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي وي او په پرېکنده ډول یوې خوا یا خواوو ته نه شي منسوب کیدای یا شايي دغه توکي له پخوانيو جګړو څخه پاتې شوي وي، دغه ډول قضیې د "نا معلوم مرتکب" ته منسوب ډلبندي کیږي.

**یوناما د ملکي شخص لپاره هغه تعریف تطبيقوي کوم چې د بشرپالنې نړیوال قانون منعکسوي. د جګړې ښکیلې خواوې د ملکي شخص د تعریف په حقوق شننه کې له یوناما سره د نظر اختلاف لري.**

## د قربانیانو د ملکي وضعیت معلومول

په ځینو پېښوکې، د راپور شویو قربانیانو ملکي وضعیت په پرېکنده ډول نه شي په ګوته کیدای یا هم لانجمن وي. یوناما ملکي وګړي داسې تعریفوي ، هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو یا د تنظیم شویو وسله والو ډلو غړي نه وي. یوناما هغه تلفات نه مستندکوي چېرې چې ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پر مهال په مستقیم ډول په جګړو کې ګډون کړی وي، او نه له بریدونو څخه د هغو خوندي شویو افرادو تلفات مستندکوي څوک د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې ملکیان نه ګڼل کیږي، لکه له جګړې څخه لویدلي افراد یا د وسله والو ځواکونو روغتیايي او مذهبي کارمندان.[2] یوناما د جنګ کولو عمر په پام کې نه نیسي، نارینه یا خو ملکي وګړي دي یا هم جنګیالي. له بلې خوا دغه ډول ادعاوې د هر مرګ ژوبلې په تړاو د موجوده حقايقو پر بنسټ ارزول او مستند کیږي. چېرې چې بسیا معلومات د لاس رسي وړ نه وي، دغه ډول تلفات په احصائيي راپور ورکوَنه کې نه شاملیږي.

یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې احصائيې بشپړې دي او دا مني چې په عملیاتي چاپېریال کې د محدودیتونو په پام کې نیولو سره کېدای شي د ملکي وګړو مرګ ژوبله په بشپړ ډول نه وي راپور شوې.

## د جګړې له ښکیلو خواوو سره د ملکي تلفاتو په شمیرو کې توپیرونه

یوناما د دې یادونه کوي چې د دغې ادارې د ملکي تلفاتو شمیر شايي له هغو سره توپیر ولري کومې چې د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا راغونډې شوې. یوناما موندلې چې د جګړې ښکیلې خواوې د یوناما د موندنو په پرتله په ثابت ډول د هغو ملکي تلفاتو په اړه چې د دوی د عملیاتو په پایله

کې رامنځ ته شوي کم راپور ورکوي. د جګړې ښکیلې خواوې د معلوماتو د راغونډولو په خپلو میتودولوژي ګانو او په خورا مهم ډول د ملکي شخص د تعریف په حقوقي شننه کې له یوناما سره توپیر لري.

یوناما د ملکي شخص هغه تعریف تطبیقوي کوم چې د بشرپالنې نړیوال قانون منعکسوي. ملکي اشخاص د هغو په څیر تعریف شوي، څوک چې د جګړې د ښکیلو خواوو د وسله والو ځواکونو غړي نه وي. د داخلي وسله والې جګړې په صورت کې، په دې کې د دولتي وسله والو ځواکونو غړي او دغه راز د جګړې د غیر دولتي خواوو د تنظیم شویو وسله والو ډلو غړي شامل دي.[3] د منظم وسله والو ډلو غړي، په منحصر ډول د نادولتي ډلو وسله والې یا نظامي څانګې پر غړو اطلاق کیږي، چیرې چې افراد نا دولتي ډلو ته بل ډول فعالیتونه یا د ملاتړ نور شکلونه وړاندې کوي، نو هغوي د منظم وسله والو ډلو غړي نه ګڼل کیږي.[4] د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په جګړو کې د مستقیم ګډون د نظریې په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د تفسیري لارښوونو پر بنسټ، چې په تعقیب یې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو یو شمیر میکانیزمونه او څارندوی ماموریتونه هم رامنځ ته شوي، "په منظم وسله والو ډلوکې د انفرادي غړیتوب لپاره پریکنده معیار دا دی، چې یو شخص د یوې ډلې لپاره په جګړو کې د هغه/هغې د مستقیم ګډون لپاره یوه دوامداره دنده اشغالوي".[5] هغه کسان چې له وسله والې مخالفې ډلې سره مرسته کوي ـ په سیاسي، مالي یا بل ډول ـ خو په منظم وسله واله ډله کې کوم دوامدار جګړه ییز فعالیت نه لري، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کیږي. د ملکیانو په څیر، هغوي له بریدونو خوندي دي، تر هغې چې هغوي په جګړو کې په مستقیم ډول ګډون نه وي کړی.[6]

یوناما موندلي چې د جګړې ښکیلې خواوې د هغه څه په پرتله چې د بشرپالنې په نړیوال قانون کې منعکس شوي په دواړو پالیسي او عمل کې د "ملکي شخص" خورا کوچنی تعریف کاروي، چې له امله یې د وګړو پراخه برخه د هدف ګرځونې سره مخ شوي. یوناما په دوامدار ډول د هغه تعریف په اړه چې د طالبانو[7] له خوا کارول شوي اندېښنه څرګنده کړې او همدارنګه له دولت پلوه ځواکونو سره د خپلو تعاملاتو پرمهال په زیاته کچه ورته اندېښنې په ډاګه کړې.[8] د بشرپالنې د نړیوال قانون له معیارونو سره په تعریفونوکې دغه توپیرونه په عام ډول د ملکي وګړو لپاره خوندي شوی چاپیریال په منفي ډول اغیزمن کوي، او دغه راز د یوناما له خوا د مستند شویو په پرتله د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د راپور شویو ملکي تلفاتو د کم شمیر د راپور لامل ګرځي.

## د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره همکاري

یوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون په ځانګړي ډول د ځانګړو څیړنو له ټیم سره د پېښو په اړه د حقیقت موندنو د چارو په ترسره کولو او د عمومي جریانونو او نمونو په شننه کې همغږي او همکاري ترسره کوي. وخت نا وخت په ځانګړي ډول د لوړې کچې پېښو په اړه د یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ترمنځ ګډ ماموریتونه ترسره کیږي. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه کې یو ګډ ماموریت ترسره کړ، څو د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په اړه د حقیقت موندنې چارې ترسره کړي.[9]

# د راپور لنډیز

وسله والې جګړې لا اوس هم په افغانستان کې په ۲۰۱۹ کال کې ملکي وګړو ته د دروند زيان اړول جاري ساتلی، چې یوناما د پرلپسې شپږو کلونو لپاره هرکال له ۱۰۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات ثبتوي. په ۲۰۰۹ کال کې له کوم وخت راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي، دغې اداري له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات مستند کړي، چې له ۳۵۰۰۰ څخه زیات وژل شوي او له ۶۵۰۰۰ څخه زیات نور یې ټپي شوي. له دې سره سره د جګړې اغیز د افرادو، کورنیو او ټولنو فیزیکي، رواني، ټولنیزې او اقتصادي ښیرازۍ ته د اوښتي پراخ او دوامدار زیان په پام کې نیولو سره، له شمیرو هاخوا تیریږي.

یوناما د وسله والې جګړې له امله ۱۰۳۹۲ ملکي تلفات (۳۴۰۳ مړه او ۶۹۸۹ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵ سلنه کموالی ښیي او د ۲۰۱۳ کال راهیسې د ملکي تلفاتو تر ټولوکمه کچه ده.[10] د عراق او شام اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له امله اوښتي تلفاتوکې کمښت، په ملکي تلفاتوکې د عمومي کموالي لامل شوی. په وسله واله جګړه کې د نورو ښکېلو ډلو په ځانګړي ډول د طالبانو او نړیوال امنیتي ځواکونو له خوا ملکي تلفات زيات شوي .

دکال په اوږدو کې په دوحه کې د طالبانو او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د مذاکراتو پرمهال د پرمختګونو او شاتګونو سره سم، په تاوتریخوالوکې د پام وړ تغییر او تبدیل رامنځ ته شوي. دکال لومړۍ نیمه یې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو او د افغان ځواکونو په ځانګړي ډول د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو له خوا د چاپیزو عملیاتو له پراخ کمپاین سره مل وه. دغو عملیاتو دکال په نیمه یې کې د دولت ضد عناصرو[11] په پرتله دولت پلوه ځواکونو[12]ته منسوب شوي په زیات شمیر ملکي وژنه کې مرسته کړې، دا یو داسې تمایل و چې یوناما تر ۲۰۱۹ کال پخوا نه و مستندکړی.[13] د دغه تمایل په تعقیب د کال دریېمه ربع تاوتریخجنه ربع وه او د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي او د بلې هرې ربع په پرتله په دې کې یې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر ثبت کړی.[14] دغه زیاتوالی زیاتره د دولت

د ملکي وګړو مرګ ژوبله ۲۰۰۹ - ۲۰۱۹



## د تاکتیکونو پر بنسټ د ملکي وګړو مړګ ژوبله ۲۰۰۹ - ۲۰۱۹




ضد عناصرو په ځانګړي ډول د طالبانو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د انتحاري او غیر انتحاري بریدونو او د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله په ملکي تلفاتو کې د یوه چټک زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی. دکال په څلورمه ربع کې د ملکي تلفاتو په ۲۰۱۸ کال[15] کې د ورته مودې په پرتله کمښت سره سره، ۲۰۱۹ کال د هوايي بریدونو او چاڼیزو عملیاتو او د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو د ریکارډ کچې لوړ شمیر په درلودو سره پای ته ورسید چې د ۲۰۱۵ کال راهیسې بې سارې وه.

### په ۲۰۱۹ کې د طالبانو له خوا ځانمرګي بریدونه د ډله ییزو بریدونو په ګډون، د پام وړ زیات

په ۲۰۱۹ کال کې، دولت ضد عناصر بیا هم د زیاتو ملکي تلفاتو (۶۲ سلنه) لامل شوي. په ۲۰۱۹ کال کې دواړو انتحاري او غیر انتحاري بریدونوکې د دوي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکارونې په خورا لوړه کچه دوام درلود؛ په دواړو ډولونو انتحاري او غیر انتحاري بریدونوکې د دغو توکوکارونه د ملکي تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوی، چې د ټولو تلفاتو د ۴۲ سلنې لامل شوی. یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د انتحاري او غیر انتحاري بریدونو له امله ۴۳۳۶ ملکي تلفات (۸۸۵ مړه او ۳۴۵۱ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله شپږ سلنه کموالی ورانديې کوي. له دې سره سره، د طالبانو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو دواړو تکتیکونو ته په مشخص ډول منسوب شوي ملکي تلفات هغو لوړوکچو ته رسیدلي، چې تر دې دمه یوناما یوازې په یوه کال کې ثبت کړی

په ۲۰۱۹ کال کې دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بریدونه، د ډله ییزو بریدونو په ګډون، د ۲۰۷۸ ملکي تلفاتو (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۶ سلنه کموالي په ډاګه کوي. که څه هم دغه کموالی د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا په دغو بریدونوکې د پام وړ کموالي له امله رامنځ ته شوی.[16] له بلې خوا په ۲۰۱۹ کې د طالبانو له خوا ځانمرګي بریدونه د ډله ییزو بریدونو په ګډون، د پام وړ زیات شوي، څرنګه چې د هغوي له خوا په لویو

موټروکې ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ("ټرک بم") بریدونه تر سره شوي.[17]

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د دواړو طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د غیر انتحاري بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې ناڅاپه زیاتوالی مستندکړی. د دغو وسیلو بریدونه د ۲۲۵۸ ملکي تلفاتو (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی وړاندې کوي. خو لا اوس هم طالبان د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې په پرتله د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د درې برابره زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. طالبان د تعبیه شویو فشاري ماینونه چې د پرسونل ضد ماینونو په څیرکار کوي ، د دې کارونې ته ادامه ورکړې چې د زیات اندیښنې وړ ده . یوناما داسې پېښې مستندې کړي په کوموکې چې د طالبانو له خوا دغه ځای پر ځای شوې وسیلې یواځې د یوه ماشوم د وزن برابر فشار سره چاودیدلې دي. یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږکوي چې تعبیه شوي فشاري چاودیدونکي توکي چې د قرباني په وسیله فعالیږي او اصلاً بې توپیره دي، کارونه یې په سملاسي ډول ودروي او خپلې هغه پخوانۍ ژمنې رعایت کړي چې په خپلو عملیاتوکې به د پرسونل ضد ماینونه نه کاروي.

په ۲۰۱۹ کال کې ځمکنۍ نښتې، په ځانګړي ډول د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل پاتې شوی. یوناما د ۲۰۱۳ کال راهیسې د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمیر مستندکړی. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، په افغانستان کې ځمکنیو نښتو ۳۰۵۷ ملکي تلفات (۷۶۳ مړه او ۲۲۹۴ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۰ سلنه کموالی او د دوامدار عمومي کموالي دریم کال په ډاګه کوي. د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتوکې عمومي کموالی په بنسټیز ډول د مستقیمو ډزو له امله په ملکي تلفاتوکې د ۳۷ سلنه کموالي له امله رامنځ ته شوی، او د غیر مستقیمو ډزو له امله په ملکي تلفاتوکې د شپږ سلنه زیاتوالي له امله په جزئي ډول بیرته لوړ شوی. د تیروکلونو په خلاف چیرې چې دولت ضد عناصر د ځمکنیو نښتو له امله د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي، په ۲۰۱۹ کال کې، دولت پلوه ځواکونه د ورته تکتیک په کارونې سره د ملکي تلفاتو د نږدې عین شمیر لامل شوی دی، په ځانګړي ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د غیر مستقیمو ډزو له امله په ملکي تلفاتوکې لږ زیاتوالي را منځ ته شوی. د ځمکنیو نښتو له امله ملکي تلفات د دولت پلوه ځواکونو له خوا د عمومي ۲۵ سلنه زیاتوالي په پرتله د دولت ضد عناصرو له خوا ۱۱ سلنه راکم شوي.

د ځانګړې اندیښنې وړ ده، چې دولت ضد عناصرو د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ګډون د مختلفو تکتیکونو په کارونې سره په عمدي ډول د ولسي وګړو په نښه کول جاري ساتلي.[18] یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ۲۰۱۸ په پرتله ۳۱ سلنه کموالی مستندکړی، کوم چې په اساسي ډول د ولسي وګړو په وړاندې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی. د ولسي وګړو په وړاندې د هغو عمدي بریدونو له امله ملکي تلفات چې یوازې طالبانو ته منسوب شوي، شپږ سلنه راکم شوي، په داسې حال کې چې هغه بریدونه چې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي ۴۸ سلنه راکم شوي. د عمومي کموالي سره سره، یوناما په ځانګړي ډول د هغو عمدي بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې د زیاتوالي په

اړه چې قاضیان او څارنوالان، روغتیایي کارکوونکي او مرستندویه کارمندان په نښه کوي او د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا د شیعه مذهبو مسلمانانو په وړاندې چې ډیری یې هزاره توکمه دي د دوامدارو بریدونو په اړه اندېښمنه ده. په دغو بریدونوکې د اګست پر ۱۷ نېټه دکال تر ټولو خونړۍ پېښه هم شامله ده ــ برید د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا د زیاترو شیعه مذهبه مسلمانوګډونوالو د واده پر مراسمو د فرقه ییزې انګیزې لرونکی ځانمرګي برید و، په کوم کې چې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۹۱ ولسي وګړي ووژل شول او ۱۴۳ نور ټپي شول. یوناما همدارنګه د بشري حقونو پر مدافعینو او مرستندویه کارمندانو څوک چې د پرمختګ او بشري حقونو د خوندیتوب لپاره کارکوي، د طالبانو له خوا د بریدونو په اړه قهریدلې، لکه د مۍ په ۸ نېټه په کابل ښارکې دکاونټر پارټ انټرنیشل پر موسسې برید، د کوم له امله چې د پاملرنې نړیواله موسسه هم اغیزمنه شوه، او د سپتمبر په میاشت کې په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون څخه د بشري حقونو د مدافع عبد الصمد امیري تښتونه او وژنه شامل دي.

په ۲۰۱۸ کال کې د پارلماني ټاکنو پرمهال د ملکیانو او ملکي شیانو په وړاندې د بریدونو د هېښوونکي جریان په تعقیب، یوناما په ۲۰۱۹ کال کې تر ولسمشریزو ټاکنو په مخکې موده کې او ټاکنو پر مهال د رایه اچوونکو، دکمپاین دکارمندانو، نوماندانو او نورو اشخاصو په وړاندې چې په ټاکنیزه پروسه کې ښکیل وو، بریدونه مستندکړي، چې زیاتره یې د طالبانو له خوا ترسره شوي. د ټاکنو پر ورځ په ګڼ میشتو سیموکې د غیر مستقیمو وسلو پراخې کارونې د ماشومانو په ګډون ولسي وګړي په خپلوکورونوکې په نښه کړي، په داسې حال کې چې په انتخاباتي مرکزونو کې یا هغوي ته څېرمه تعبیه شوي چاویدونکي توکي رایه اچوونکي له سترګواښ سره مخ کړي وو. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکیان یا ملکي شیان په نښه کوي، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کیږي کوم چې ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا نهه داسې پېښې مستند کړې، چې د هغوي د موازي عدلي جوړښتونو د پریکړو د عملي کولو په پلمه د اعدامونو په ګډون، په ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو لاس پورې کول شامل دي. یوناما پر دې ټینګارکوي چې دغه ډول سزاګانې له بشري حقونو څخه سرغړونه او تېرى ګڼل کیږي، او د اعدامونو په څېر سختې سزاګانې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کیږي کومې چې ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړه او ۳۴۵ ټپیان) مستندکړي، چې د دولت پلوه ځواکونو له هوایي بریدونو څخه په ملکي تلفاتوکې په ټولیزه توګه لږ څه زیاتوالی او د دوامدار زیاتوالي پنځم پرلپسې کال په ډاګه کوي، چې په ملکي تلفاتوکې د ریکارډ د لوړې کچې لامل شوي.[19] هوایي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه اړولي، چې زیاتره (۷۲ سلنه) یې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي. سره له دې چې افغان هوایي ځواک د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر راهیسې د شپنیو هوایي بریدونو د ترسره کولو ظرفیت ترلاسه کړی، له کوم سره چې هغوي ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو د زیاتیدو شونتیا هم مل وه. یوناما هغوي ته په دغه ډول منسوب شویو تلفاتوکې کموالی مستند کړي.[20]

یوناما په ځانګړي ډول په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو (USFOR-A)) له خوا په عمدي ډول د هغو اشخاصو په نښه کولو پالیسۍ ګانو په اړه اندېښمنه ده، څوک چې نه په مستقیم ډول په شخړو کې ښکیل وو او نه یې په کومه وسله واله ډله کې دوامداره جګړه ییزې کړنې ترسره کولې، لکه د هغو اشخاصو په نښه کول چا چې ښایي له طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې سره مالي مرسته کوله.[21] یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي، هغه کسان چې له وسله والې مخالفې ډلې سره مرسته کوي ـ په سیاسي، مالي یا بل ډول ـ خو په منظم وسله واله ډله کې کوم دوامدار جګړه ییز فعالیت نه لري، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کیږي.[22] د ملکیانو په څېر، هغوی له بریدونو خوندي دي، تر هغې چې هغوی په جګړو کې په مستقیم ډول ګډون نه وي کړي.[23] که چیرې دغه افراد د جنایي کړنو په ترسره کولو کې ښکیل وي، پر وړاندې یې تر ټولو مناسب غبرګون د قانون انفاذ دی، نه نظامي اقدام.

یوناما د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو، د خوست ژغورنې د ځواک، او دغه راز په پکتیکا کې د "شاهین ځواکونو" په نامه د دولت پلوه وسله والې ډلې، کومې ته چې په لومړي ځل یوناما د ملکي تلفاتو منسوبول په ۲۰۱۹ کې پیل کړي، له خوا د چاپیزو عملیاتو ("شپنیو چاپو") پر مهال د قوي دکاروني له امله ملکیانو ته د لوړې کچې زیان ثبتول جاري ساتلي. یوناما د ملکي وګړو د عمدي وژنو یو شمیر داسې پیښې مستندې کړې، کومې چې د دغو چاپیزو عملیاتو پرمهال له کومې محکمې پرته پر اعدامونو/وژنو تمامې شوې.

ښځې او ماشومان لا اوس هم په نامتناسب ډول له وسله والې جګړې څخه کړیږي. یوناما د ښځو ۱۲۰۲ تلفات (۳۴۵ مړې او ۸۵۷ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله څلور سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د انتحاري او غیر انتحاري ګډو بریدونو د کاروني له

**یوناما له هوایي بریدونو څخه په ملکي تلفاتو کې د دوامدار زیاتوالي پنځم پرلپسې کال مستند کړی چې د ریکارډ لوړې کچې ملکي تلفات پکې رامنځ ته شوي.**

امله د ښځو په تلفاتوکې هغه کموالي بیرته زیات شوي کوم چې د هوایي بریدونو او ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي. یوناما د ماشومانو ۳۱۴۹ تلفات (۸۷۴ مړه او ۲۲۷۵ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله درې سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ښځو تلفات د عمومي ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه او ماشومان د ټولو تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي.

ماشومان لا اوس هم د طالبانو، افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا استخدام اوکارول کیږي. په داسې حال کې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د افغان ملي پولیسو د استخدام په مرکزونوکې د ماشومانو د خوندیتوب واحدونو د کار له لارې د ماشومانو د رسمي استخدام د مخنیوي په برخه کې پرمختګ شوی، د ماشومانو کارونه، په ځانګړي ډول په چیک پوستونوکې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا، لا اوس هم یوه ستونزه ګڼل کیږي، چې په دې کې د جنسي موخو لپاره د هلکانوکارول هم شامل دي.[24] که څه هم د یوناما له خوا دګمارنې اوکارونې زیاتره تصدیق شوې قضیې طالبانو ته منسوب شوې. یوناما د دې یادونه کوي چې د طالبانو ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتوکمیسیون په ۲۰۱۹ کال کې د طالبانو د قوماندانانو له خوا د ماشومانو دګمارنې په برخه کې ځینې مثبت ګامونه پورته کړي، او یوناما د دغه کار د مخنیوي لپاره د هغوی د لا زیات اقداماتو غوښتونکې ده.

د جزا په تعدیل شوي قانون کې د بچه بازۍ[25] (پر هلکانو د

جنسي تيري او استثمار يو ډول) د جرم ګڼلو سره سره، يوناما لا اوس هم د دغه ډول جرمونو د ارتکاب راپورونه ترلاسه کوي، چې زياتره يې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا

**يوناما زياتره ملکي تلفات -۶۲ سلنه - دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۴۷ سلنه يې طالبانو، ۱۲ سلنه يې د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې او درې سلنه نورو نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.**

ترسره شوي. يوناما د بچه بازۍ يوازې د يوې قضيې په اړه معلومات لري چې د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ کې د جزا د تعديل شوي قانون د اړوندو احکامو سره سم په برياليي ډول تر عدلي تعقيب لاندې نيول شوې.[26] د چوپتيا، شرم او د قرباني د ګرم ګڼلو کلتور د احتساب هڅې د پام وړ ننګونو سره مخ کوي.

په افغانستان کې پر ښوونځيو، روغتونونو، ښوونکو، روغتيايي کارمندانو د بريدونو او دغه راز د تهديدونو او ګواښونو له امله، د ټولو خلکو په تېره بيا د ماشومانو دا وړتيا چې زده کړو ته د لاس رسي حق د پوهنې او جسمي او رواني روغتيا د ترلاسه کيدو وړ تر ټولو لوړ معيار له خپلو بشري حقونو څخه برخمن شي، زيانمنه شوې. په ۲۰۱۹ کال کې، د ولسمشريزو ټاکنو پرمهال د ښوونځيو او روغتونو په وړاندې بريدونه ترسره شوي کله چې هغه د انتخاباتي مرکزونو په څېر کارول کيدل. يوناما د کال په اوږدو کې د طالبانو له خوا د ترسره شويو لوړ شمير نا متناسبو او بې توپيره بريدونو په اړه اندېښنمنه ده، کومو چې ښوونځي، روغتونونه زيانمن کړي او په داخل کې يې زده کوونکي او ناروغان متضرر کړي.

يوناما دغه راز د دولت پلوه ځواکونو له خوا په دغو مرکزونو کې د چاڼيزو عملياتو له امله د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او روغتيايي کارمندانو باندې د اغيز په اړه اندېښنمنه ده.[27]

## د ملکي تلفاتو منسوبونه

يوناما زياتره ملکي تلفات ـ۶۲ سلنه ـ دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۴۷ سلنه يې طالبانو، ۱۲ سلنه يې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې او درې سلنه نورو نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

په ۲۰۱۹ کال کې دولت پلوه ځواکونو د ۲۸ سلنه ملکي تلفاتو لامل وو ـ ۱۶ سلنه د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا، تقريباً اته سلنه له نړيوالو نظامي ځواکونو له خوا، تقريباً دوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا او د درې سلنې کم له نا معلومو يا ګډو دولت پلوه ځواکونو له خوا اوښتي.[28]

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنيو نښتو پر مهال د ډزو تبادله چې کوم مشخص لوري ته نه شي منسوب کيدای، د اووه سلنه ملکي تلفاتو لامل شوي. پاکستان نظامي ځواکونو ته د پولې په اوږدو کې منسوب شوي پېښې تر يوې سلنې دکمو ملکي تلفات لامل شوي.[29] د ملکي تلفاتو پاتې دوه سلنه په عمده ډول له جګړې څخه د هغو پاتې شونو چاوديدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، چې کومې مشخص لوري ته منسوب کيدای نه شوای.

### دولت ضد عناصر

په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما ۶۴۴۷ ملکي تلفات (۱۶۶۸ مړه او ۴۷۷۹ ټپيان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله اته سلنه کموالی په ډاګه کوي.[30] دکال په لومړيو شپږو مياشتوکې د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې ترکم فعاليت وروسته، دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات دکال په درېيمه ربعه کې لوړ




شوي، په تېره بیا د طالبانو د بریدونو له امله.

یوناما طالبانو ته ۴۹۰۴ ملکي تلفات (۱۳۰۱ مړه او ۳۶۰۳ ټپیان) منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او د ټولو ملکي تلفاتو ۴۷ سلنه جوړوي.[31] یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته ۱۲۲۳ ملکي تلفات (۳۰۹ مړه او ۹۱۴ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۴۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي او د ټولو ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه جوړوي.[32] یوناما ۳۲۰ ملکي تلفات (۵۸ مړه او ۲۶۲ ټپیان) نامعلومه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د ۲۰۱۸ کال په خلاف، په ۲۰۱۹ کال کې د تعبیه شویو غیر انتحاري چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفات د ځانمرګو بریدونو په پایله کې له رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو څخه زیات شوي، او د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي تلفاتو د کال مخکښ لامل ګڼل کیده. غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ۲۲۵۸ ملکي تلفاتو (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. ځانمرګي بریدونه دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل و، چې د ۲۰۷۸ ملکي تلفاتو (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) لامل شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۶ سلنه کموالی په ګوته کوي، چې په عمده دول د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته منسوب شویو ملکي تلفاتوکې د ۷۶ سلنه کموالي له امله رامنځ ته شوي، په داسې حال کې چې د طالبانو د ځانمرګو بریدونو له امله ملکي تلفات ۱۳۳ سلنه لوړ شوي. یوناما د ځمکنیو نښتو له امله دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتوکې ۱۱ سلنه کموالی مستند کړی، چې ۱۲۲۹ ملکي تلفات (۲۶۱ مړه او ۹۶۸ ټپیان) یې اړولي.

### دولت پلوه ځواکونه

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ۲۹۳۳ ملکي تلفات (۱۴۷۳ مړه او ۱۴۶۰ ټپیان) مستندکړي. دا د ۲۰۱۸ کال

په پرتله په ملکي تلفاتوکې ۱۳ سلنه زیاتوالی ښیې او د ۲۰۰۹ کال راهیسې، له کوم وخت راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي، دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه په ډاګه کوي. دغه زیاتوالی عمدتاً د ځمکنيو نښتو په زمینه کې ملکي تلفاتوکې د زیاتوالي او دغه راز د هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې د لږ څه عمومي زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی، کوم چې د ریکارډ تر حده په لوړه کچه پاتې وو. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات دکال په لومړیو دریو ربعوکې ۳۳ سلنه زیاتوالي ښودلی چې په تعقیب یې په څلورمه ربع کې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۳۹ سلنه کموالي رامنځ ته شوی. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي زیاتره ملکي تلفات د ځمکنيو نښتو (۴۳ سلنه)، هوایي بریدونو (۳۶ سلنه) او چاپیزو عملیاتو (۱۲ سلنه) پرمهال رامنځ ته شوي. هوایي بریدونه دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي مړینو مخکښ لامل ګڼل کیده، چې هغوی ته د منسوب شویو مړینو نږدې نیمه یې هغه جوړوي.

**په ۲۰۱۹ کال کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۳ سلنه زیات شوي چې عمده لامل یې ځمکنۍ نښتې وې.**

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۶۸۲ ملکي تلفات (۶۸۰ مړه او ۱۰۰۲ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله لږ څه زیاتوالی په ډاګه کوي.[33] یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۷۸۶ ملکي تلفات (۵۵۹ مړه او ۲۲۷ ټپیان) منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ۱۸۴ ملکي تلفات (۱۰۲ مړه او ۸۲ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله دوه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، چې لا اوس هم په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي تلفاتو د شمیر په پرتله د پام وړ دوه برابره زیات دی.

دولت پلوه ځواکونه د ځمکنيو نښتو پرمهال د ۱۲۶۰ ملکي تلفاتو (۳۶۳ مړه او ۸۹۷ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي، او دوامدار دوه کلن کموالي بیرته معکوسوي. یوناما د هوایي بریدونو له امله ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړه او ۳۴۵ ټپیان) مستندکړي.[34] د دغو له جملې، ۷۵۵ ملکي تلفات (۵۴۶ مړه او ۲۰۹ ټپیان) یې نړیوالو نظامي ځواکونو، ۲۳۱ ملکي تلفات (۱۱۳ مړه او ۱۱۸ ټپیان) افغان هوایي ځواک او پاتې ۵۹ ملکي تلفات (۴۱ مړه او ۱۸ ټپیان) یې نامعلومه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. چاپیز عملیات د ۳۶۰ ملکي تلفاتو (۲۷۸ مړه او ۸۲ ټپیان) لامل شوي چې دري برخې یې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو، شاهین ځواکونو او د خوست ژغورنې د ځواک له خوا رامنځ ته شوي، چې له ټولو سره یې د نړیوالو فعالینو له خوا ملاتړکیږي.[35]

## سپارښتنې

یوناما په شخړه کې ښکیلو خواوو ته لاندې سپارښتنې کوي څو د ملکیانو د ساتنې، د ملکي تلفاتو په مخنیوي او د بشرپالنې نړیوال قانون او د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د خپلو مکلفیتونو په ادا کولوکې د هغوی د هڅو ملاتړ وکړي:

**ټول دولت ضد عناصر:**

- د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ټولو ډولونو د بې توپیره او بې تناسبه کارونه په ځانګړي ډول په ګڼ میشتو سیموکې ودروئ.
- په ګڼ میشتو سیموکې د (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) غیر مستقیم کارونه ودروئ.

- په سملاسي ډول، د دولت د ملکي اداري غړو، د بشري حقونو مدافعینو، قاضیانو، خبریالانو، څارنوالانو د ښوونځیو ښوونکو، لومړني مرسته رسوونکو او د مرستندویه کارکوونکو په ګډون د ملکیانو عمدي په نښه کول ودروئ.
- د روغتیایي خدماتو د ودانیو، د پولیو د واکسیناتورانو او کمپاینرانو په ګډون د روغتیایي کارمندانو په وړاندې ټول بریدونه او ګواښونه ودروئ: د ښوونځیو د پوهنیزو کارکوونکو پر ضد ټول بریدونه ودروئ او ډاډمن کړئ چې د نظامي عملیاتو له امله ښوونې او روزنې ته د ماشومانو لاسرسي له خنډ سره نه مخ کیږي.
- په سملاسې توګه پر اشخاصو د بې رحمانه، غیر انساني، له سپکاوي ډک چلند او سزاګانو وضع کول ودروئ.

## طالبان

- ډاډ تر لاسه کړئ چې ټولې لارښوونې او حکمونه د بشرپالنې له نړیوال قانون سره مطابقت لري، په ځانګړې ډول د احتیاط، توبیر، او د تناسب له اصلونو سره، او ټولو هغو کسانو سره دې محاسبه وکړي چې بې توپیره بریدونه تر سره کوي او یا داسې بریدونه تر سره کوي چې په عمدي ډول ملکي کسان یا ملکي شیان په نښه کوي. د ملکي شخص لپاره هغه تعریف وکاروئ چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په مطابقت کې وي؛ د طالبانو د مشرتابه هغه اعلامیې پلې کړئ چې د ملکیانو او د ملکي کڼ میشتو سیمو پرضد بریدونه منع کوي؛ هغه لارښوونې پلې کړئ چې د طالبانو غړو ته امرکوي چې له ملکي تلفاتو مخنیوی او له هغو ډډه وکړي؛ او د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د طالبانو پالیسي خپره کړي.
- په سملاسي ډول د هغو تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکارونې ودروئ کوم چې د قرباني له تماس سره فعاله کیږي لکه فشاري تعبیه شوي چاودیدونکي ماینونه کوم چې د پرسونل ضد ماین په څیرکارکوي، او هغه پخوانې ژمنې چې د پرسونل ضد ماینونو د کارولو د منع کولو په اړه یې کړې، رعایت کړئ.
- د هغو لارښوونو د پلې کولو لپاره اقدامات غښتلی کړئ چې د ماشومانوګمارنه او استخدام منع کوي او له هغو قوماندانانو سره احتساب یقیني کړي څوک چې ماشومان ګماري اوکاروي.
- قوماندانانو ته د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او د بشري حقونو نورو مدافعینو چې په افغانستان کې د ټولو وګړو د حقونو لپاره کار کوي، د خوندي وضعیت په اړه سملاسي او روښانې لارښوونې ورکړئ، څو هغوی وکولای شي خپل کار پرته له کوم خنډ او زیان سر ته ورسوي.
- د رسنیو پر ضد ټول هغه ګواښونه او بریدونه او هر بل عمل ودروئ چې د مطبوعاتو او د بیان ازادي اغیزمنه کوي.
- له نظامي کمیسیون سره د خپلو اړیکو په ګډون، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د سمع شکایاتو د کمیسیون کار پیاوړی کړئ او د بشرپالنې نړیوال قانون په اړه خپلو جنګیالیو ته د روزنې د برابرولو په شمول د پیښو د څیړنو سربیره د ملکي تلفاتو پر مخنیوي خپل تمرکز زیات کړئ.

## ټول دولت پلوه ځواکونه:

- د مؤثریت د ارزونې او د بهتره کیدو لپاره د سپارښتنو د رامنځته کولو په موخه د ژوند طریقو د ارزونو په ګډون، د هدف د تثبیتولو په طرزالعملونو او د احتیاطی تدبیرونو په برخه کې پروخت او هر اړخیزه بیاکتنه تر سره کړئ، په ځانګړی ډول د هوایي عملیاتو د تر سره کولو په زمینه کې عملیاتو وروسته د ملکي تلفاتو د تورونو په صورت کې بیاکتنې او څیړنې پیاوړې کړئ، څو د زیان پراخ ډولونه په ګوته او عملیاتی کړنې بهتره او احتساب یقیني کړئ.
- د ملکي تلفاتو په پیښوکې د څیړنې شفافیت زیات کړئ او پایلې له ملکي قربانیانو او د هغوي له کورنیو سره شریکي کړئ؛ دا یقیني کړئ چې د اوښتي زیان په مقابل کې د خسارې کافي، اغیزمن او ګړندي جبران برابر شوی. او د اغیزمن شویو خلکو د باور بیا جوړولو لپاره د خسارې د جبران اضافي غیر مالي ډولونه لکه بخښنه غوښتنه هم په پام کې ونیسئ.

## افغان دولت

- د خوست د ژغورنې ځواک او د شاهین د ځواکونو په ګډون، زر تر زره ټولې ناقانونه وسله واله ډلې او ملیشې منحل او بې وسلې کړئ، یا یې غړي په رسمي ډول په افغان ملي امنیتي ځواکونوکې د چاڼ تر یوه پیاوړې کړندود وروسته ځای پر ځای کړئ. د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په تړاو شفافیت او احتساب زیات کړئ، کوم چې د حکومت د رسمي قوماندې له سلسله مراتبو څخه بهر ښکاري او باید د نړیوالو ځواکونو سره همغږي شي؛ او د دوي له خوا له محکمې پرته اعدامونو په ګډون د بشري حقونو د نړیوال قانون ټولې ترسره شوې سرغړونې او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د تیري ټول تورونه د احتساب د یقیني کولو په موخه وڅیړئ.
- په ګڼ میشتو سیموکې د (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) او نورو چاودیدونکو توکو چې پراخه سیمه اغیزمنه کوي، غیر مستقیم کارونه ودروئ؛ د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو د تاکتیکي لارښوونو، د جګړې د اصولو او نورو طرز العملونو طرحه کول او بهتره کول جاري وساتئ .
- د ساتنې او امنیت د اوسنیو اقداماتو د تقویه کولو، د مخنیوونکو میکانیزمونو غښتلي کولو او د متضرر شویو ټولنو سره د غوره همغږۍ او اړیکو د یقیني کولو په ګډون، د مذهبي مشرانو او دغه راز له فرقه ییزو انګیزه لرونکو بریدونو څخه د شیعه مذهبه لړکیو د ساتنې لپاره هڅې زیاتې کړئ.
- د تعبیه شویو چاودیدنکو توکو د استحصال په ګډون، د دغو توکو د له منځه وړلو لپاره د مؤثرو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت تقویه کول جاري وساتي، او دا یقیني کړي چې دولت د دې لپاره ټولې اړینې سرچینې ځانګړې کوي څو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ضد د ملي ستراتیژي بشپړ تطبیق یقیني کړئ.
- د عمر د معلومولو او چاڼ طرز العملونه تقویه کړئ او په افغان ملي پولیسوکې د ماشومانو د ساتنې د واحدونو چارې لا پسې پراخې کړئ څو په امنیتي پوستوکې فعاله اوګټوره څارنه ځای کړئ چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو له خوا په جګړه ییزو او نا جګړه ییزو نقشونوکې د ماشومانو د کارونې د پیښو مخنیوی وکړي؛ د جزا په تعدیل

شوې کود کې د بچه بازۍ اړوند احکام تنفیذ او د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي د جرمونو لپاره احتساب یقیني کړئ.

## نړیوال نظامي ځواکونه

### الف) په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه

- د ملکي تلفاتو د راکمولو ټیم ته کافي سرچینې ځانګړې کړئ څو دوی د دې جوګه کړي چې د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه لا ژورې او پر وخت ارزونې تر سره کړي او د خپل ټیم دندې پراخه کړي څو د هغوي لپاره د زده شویو درسونو په پلې کولو کې د برخه اخیستو زمینه برابره شي.
- د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره، په تیره بیا د هغو هوایي بریدونو په زمینه کې چې په سیمه کې تر برید لاندې د راغلو افغان او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو د ملاتړ لپاره ترسره کیږي او یا په بله هره زمینه کې پر ودانیو د ترسره کیدونکو بریدونو لپاره موجوده تاکتیکي پروتوکولونه په بشپړ ډول بیا وګورئ او غښتلي کړئ.
- د هوایي او چاپېزو عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر تورونو وروسته د زیان د پراخو ډولونو د معلومولو د شفافیت د یقیني کولو، د عملیاتي کړنو بهتره کولو، احتساب ته د ودې ورکولو او له زیان د اغیزمن شویو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو، اغیزمن او چټکو جبرانونو د برابرولو د یقیني کولو په موخه تر عملیاتو وروسته بیا کتنې او څېړنې جاري وساتي. له افغان همکارانو سره د ملکي تلفاتو د پېښو د بیاکتنې هڅې غښتلې کړئ کوم چې د ګډو عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوې؛ د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د جګړې د زیان د ارزونو په ترسره کولوکې زیاته روزنه او مرسته برابره کړئ؛ او په هغو پېښوکې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي له اغیزمن شویو ټولنو سره د هغوي د افغان شریکانو له لارې ګډون او ښکیلتیا زیاته کړي.
- د هغو وګړو په نښه کولو پالیسي ګانو بیاکتنه، څوک چې نه په مستقیم ډول په دوښمنۍ کې ګډون کوي، او نه دکومې وسله والې ډلې لپاره جګړه ییز فعالیت تر سره کوي، څو نوموړې پالیسۍ ګانې د بشرپالني له نړیوال قانون سره په سمون کې شي.

### ب) غوڅ ملاتړ ماموریت

- افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په پالیسي عملیاتي او تاکتیکي کچو د دوامدارو روزنو، سرچینو او اړوند ملاتړ د برابرولو له لارې د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ملي پالیسي په تطبیق کې د افغان دولت ملاتړ جاري وساتي، په ځانګړي ډول له غیر مستقیمو وسلوکارولو، چاودیدونکو وسلو چې پراخه سیمه اغیزمنه کوي او همدارنګه له جنګي الوتکو څخه ملکي وګړو ته د زیان اوښتلو د مخنیوي لپاره مخه نیوونکي تدابیر ترسره کړئ.

# ۱. هغه سیاسي او امنیتي ډینامیکونه چې د ملکي وګړو خوندیتوب اغیزمنوي

په ۲۰۱۹ کال کې په افغانستان کې وسله والې جګړې ولسي وګړو ، په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو ته د درانه زیان اړول جاري ساتلي. دکلونو روانه جګړه د پراخې داخلي بېځایه کیدنې، د ژوند بدلوونکو دردوونکو ټپونو، دکونډو له خوا د سرپرستوکورنیو لپاره د اقتصادي بې ثباتۍ، د هغو کسانو لپاره چې د مکررو ضایعاتو زیان یې ګاللي د زیاتو رواني روغتیا اړتیاوو، او بنسټیزو خدمتونو ته د لاس رسي د نشتون لامل شوي.

په داسې حال کې چې دکال په لومړیو اتو میاشتو[36] کې د قطر په دوحه کې د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ یوې هوکړې ته د رسیدو هڅې زیاتې شوي، په ورته ډول د جګړې په ډګرکې تاوتریخوالی هم زیات شوی. د طالبانو د مشرانو په نښه کولو او "د سیاسي حل لپاره د شرایطو د برابرولو"[37] د ستراتیژۍ د یوې برخې په څیر، د امریکا متحده ایالاتو د هوایي بریدونو یو پیاوړی کمپاین ترسره کړ چې د کال په لومړۍ او دویمه ربعه کې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوي ملکي تلفات لوړ شول. په معکوس ډول، دکال په لومړۍ نیمه یي کې په ځانګړي ډول د ځانمرګو بریدونو له امله طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتوکې له یوه ښکاره کموالي سره، د دولت ضد عناصرو له خوا په ترسره شویو بریدونوکې یو څرګندکموالی موجود و. دغه فکتورونه دکال په نیمه یي کې د دولت ضد عناصرو په پرتله دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شو ملکي مړینو د لوړ شمیر لامل شول، یو داسې جریان چې تر دې مخکې د یوناما له خوا نه و مستند شوی.

د اپریل پر ۱۲ نېټه طالبانو د الفتح په نامه خپل کلنیو د پسرلي عملیاتو پیل اعلان کړ، په کوموکې چې یې د بهرني اشغال پای ته رسولو او د "اسلامي نظام پر جوړولو" تمرکزکړی و. د راپورونو له مخې تر دغه اعلان وروسته په ټول هیوادکې د امنیتي پېښو شمیر زیات شو، په عام ډول د ۲۰۱۸ کال په ورته موده کې د مستند شویو ملکي تلفاتو دکچې په پرتله، دکال په دویمه ربعه کې د بریدونو شمیر او د طالبانو د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات کم وو.[38]

دکال په دریېمه ربعه کې امنیتي وضعیت خورا تاوتریخجن او بې ثباته و په داسې حال کې چې په دوحه کې خبرو اترو پرمختګ کړی و او د ولسمشریز ټاکنو لپاره کمپاینونه پیل شوي وو. د جولای پر ۷ـ۸ نېټه، د قطر په دوحه ښارکې د سولې بین الافغاني کنفرانس ترسره شو، چې د افغان دولت، مخالفو سیاستوالو، د مدني ټولنې او طالبانو غړو په کې په خپل شخصي ظرفیت ګډون کړی وو. ښځو هم په دغه کنفرانس کې ګډون کړی وو، خو د طالبانو له خوا نه. د دغو خبرو په پایله کې یو دوه مخیز پریکړه لیک رامنځ ته شو چې د جګړې پر ټولو ښکیلو خواوو یې د تاوتریخوالي دکمولو، پر عامه ودانیو د بریدونو نه ترسره کولو، د ملکي تلفاتو "صفر ته" راکښته کولو، ښوونځیو او نورو ښوونیزو مرکزونو او ملکي میشتو سیمو ته د درناوي غږکاوه.[39]

په دوحه کې د ورکړل شویو بیانیو سره په څرګند مخالفت کې، طالبانو په جولای میاشت کې خپل عملیات زیات کړل، چې د ډله ییزو بریدونو او په سترو لاریوکې د ځای پر ځای چاودیدونکو توکو ("ټرک بم") پر بریدونو د بیا لاس پورې کولو په ګډون لکه څرنګه چې په ۲۰۱۸ کال کې لیدل شوی،

یو شمیر د لوړې کچې ځانمرګي بریدونه ترسره کړل. دا په دغې میاشت کې د تمې خلاف یا وړاندوینې پرته ملکي تلفات رامنځ ته شول . په ورته وخت کې د امریکا متحده ایالاتو او افغان ځواکونو د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي حکومت ــ خراسان ولایت ډلې پر ضد په لوړه کچه هوایي بریدونه او چاڼیز عملیات جاري ساتلي. د سپتمبر پر ۲، د افغانستان د سولې او پخلاینې لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد اعلان کړه چې د طالبانو او د امریکا د متحده ایالاتو د مذاکراتو ټیم په اصولو کې یوې هوکړې ته رسیدلي چې د متحده ایالاتو د حکومت په تایید پورې مشروط ده. د سپتمبر پر ۷، ولسمشر ټرمپ له طالبانو سره خبرې لغوه کړې، چې لامل یې د طالبانو له خوا په کابل کې د سپتمبر د ۵ نېټې برید و چې له امله یې یو امریکایي سرتیری ووژل شو.[40]

تر یو شمیر ځنډونو وروسته ولسمشریزې ټاکنې د سپتمبر پر ۲۸ ترسره شوې، له ۲۰۰۴ راهیسې دا څلورمې ولسمشریزې ټاکنې وې. طالبانو د رایې اچونې تر ورځې په مخکې اونیو او ورځوکې د ټاکنو د ګډوډولو نیت په ډاګه کړ، او ولسي وګړو ته یې ګواښ کاوه چې په ټاکنوکې ګډون و نه کړي او یا به د دوي له بریدونو څخه متضرر شي. په داسې حال کې چې د ټاکنو پر ورځ د سترو تلفاتو پېښې نه وې ریکارډ شوې، خو د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی د سلګونو ملکي تلفاتو لامل و، چې له نیمه یي زیات یې د غیر مستقیمو وسلو لکه راکیټونو، هاوانونو او لاسي بمونو د پراخې کارونې له امله رامنځ ته شوي و.[41]

د ۲۰۱۹ کال درېیمه ربعه د بلې هرې ربعې په پرتله له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې سیستماتیک ډول ملکي تلفات مستندکول پیل کړي د ملکي تلفاتو د تر ټولو لوړ شمیر په ثبتونې سره پای ته ورسیده، چې په عمده ډول د طالبانو له خوا د انتحاري او غیر انتحاري بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې د پام وړ زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي. دکال په څلورمه ربعه کې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې جنګیالیو د پام وړ تسلیم کیدو او د نومبر په اوږدو کې په سلګونو بیځایه کیدنې له امله چې د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې پیل شوه، تاوتریخوالی راکم شو.[42] د طالبانو او امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ خبرې اترې بېرته په دسمبرکې پیل شوې، کومې چې د دواړو لورو له خوا د تاوتریخوالي په کمولو تمامې شوې، چې د افغانانو لپاره د تاوتریخوالي راکمولو یوه هیله رامنځ ته کوي، کوم چې ښایي د بین الافغاني خبرو اترو او اوربند لامل شي.

# ۲. پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې اغېز

## الف. ښځې او وسله واله جګړه

> "زما د تره زوی زه وتښتولم او د طالبانو پر قوماندان یې وپلورلم، پرته د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې زه یوه واده شوې ښځه او له لومړي مېړه څخه د څلورو ماشوم امیندواره وم. پرکومه ورځ چې زما لومړی ماشوم پیدا شو، د طالبانو قوماندان د ماشوم د وژلو امر وکړ ځکه چې هغه یې پلار نه و- دغه تر اسلامي شریعت لاندې د منلو وړ نه و. ماشوم زما په مخ کې شکنجه شو. ما هیڅ مرسته نه شوه کولای او تر زیږون وروسته هیڅ د خوځیدو نه وم. ما یوازې د خپل ماشوم د درد ژړا اوریده کله چې یې هغوی لاسونه مات کړل او غاړه یې پرې تاوه کړه. دوی فکر وکړ چې زما لور مړه شوې او جسد یې زما مخې ته پرېښود. زما کوچنۍ لور له دغه سخت جسمي عذاب څخه ژوندۍ پاتې شوه خو بله ورځ ومړه. زه د طالبانو د قوماندان تر ولکې لاندې پاتې شوم او د هغه د ټولې کورنۍ له خوا شکنجه کېدم. زه د یوې وینځې په څیر وم او د کور ټول کارونه به مې کول. زما روغتیا خرابه شوه او کله چې د کټ شوم، زه یې د پلار کور ته ولیږدولم چې هلته ژوند وکړم، چیرې چې سوکه سوکه بیرته ښه شوم. کله چې پر دې پوهه شوم چې زما مور او پلار د دې چمتوالی نیوه چې ما بیرته د طالبانو قوماندان ته واستوي، ما د ځان وژنې هڅه وکړه. له نیکه مرغه زه وژغورل شوم او پر وخت روغتون او د ښځو امن خونې ته ولیږدول شوم. زه پر دې پوهیږم که چیرې بیرته کور ته لاړه شم زما مور او پلار به ما بیرته د طالبانو قوماندان ته واستوي."
>
> — په بادغیس ولایت کې د طالبانو د تښتونې یوه ۳۱ کلنه قرباني ښځه

ښځې لا اوس هم د جګړې درونډ زیان ګالي. د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ښځو ۱۲۰۲ تلفات (۳۴۵ مړې او ۸۵۷ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله څلور سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دولت ضد عناصر د ښځو د ۶۵۸ تلفاتو (۱۴۸ وژل شوې او ۵۱۰ ټپي شوې) لامل شوي، چې د ښځو د ټولو تلفاتو ۵۵ سلنه جوړوي؛ دولت پلوه ځواکونه د ښځو د ۴۳۳ تلفاتو (۱۷۲ وژل شوې او ۲۶۱ ټپي شوې) لامل شوي، چې د ښځو د ټولو تلفاتو ۳۶ سلنه ورانديې کوي. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو تبادله چې د جګړې کوم مشخص لوري ته نه شي منسوب کېدای د ښځو د ۱۰۰ تلفاتو (۱۹ وژل شوې او ۸۱ ټپي شوې) لامل شوي.[43]

د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله د ښځو په تلفاتو کې ۲۴ سلنه زیاتوالی او دغه راز په لاس جوړ چاودیدونکو غیر انتحاري توکو له امله ۴۸ سلنه زیاتوالی د هوایي بریدونو په پایله کې (۱۴ سلنه) او ځمکنیو نښتو (۹ سلنه) کموالی په نسبت زیات دی.

یوناما د بشري حقونو د سرغړونو څلور داسې قضیې مستند کړي په کوموکې چې طالبانو د خپل عدلي سیستم سره سم د زنا یا د "غیر اخلاقي"کړنو په تور د ښځو په ضد سزاګانې جاري کړي. له دغو قضیو په دریو کې ښځې په دورو وهل شوې او په یوه کې ښځه له کور څخه د تېښتې په تور اعدام شوې.

په کومه قضیه کې چې د طالبانو له خوا یوه ښځه اعدام شوې، پیښه د ۲۰۱۹ کال د نومبر پر ۲۲ نېټه د فاریاب ولایت په کوهستان ولسوالۍ کې رامنځ ته شوې. یوه شپه مخکې، هغه له یوه سړي سره دکوهستان ولسوالۍ په اداري مرکزکې له دولتي چارواکو سره د لیدو لپاره تللې وه، چیرې چې هغې غوښتل چې د خپل مېړه له خوا چا چې دویېمه ښځه کړې وه، له کور څخه د ایستلو لپاره عدالت تر لاسه کړي. د طالبانو غړو ښځه او سړی کله چې پر لار وو دواړه ونیول او بیرته یې خپل ځای ته ستانه کړل، او د شپې له خوا یې د طالبانو له

## د ښځو د تلفاتو مخکښ لاملونه




(۴۴٪) ۵۲۴ د ځمکنۍ نښتو له امله

(۱۹٪) ۲۲۹ د ځانمرګي او په لاس جوړ چاودیدونکو توکو له امله

(۱۷٪) ۲۰۳ د ځانمرګو پرته نور په لاس جوړ چاودیدونکو توکو له امله

(۱۱٪) ۱۳۵ د هوایي بریدونو له امله

خوا د تش په نامه ولسوال په کورکې وساتل. د ښځې د پلار په امر او خوښه، څوک چې پخپله هم د طالبانو غړی و، طالبانو ښځه اعدام کړه او د تیښتې په تور یې سرې ۴۰ دورې ووهاه.

ښځې همدارنګه د جګړې د پراخو اغیزو له امله په نامتناسب ډول متاثره کیږي، کوم چې له یو شمیر بنسټیزو حقونو څخه د هغوی برخمن کیدل اغیزمن کوي، لکه د ګرځیدو ازادي، پوهنې ته لاس رسی، روغتیا او عدالت. دکورنۍ د نارینه غړو له لاسه ورکول ښځې له تبعیض، بې وزلۍ او تاوتریخوالي سره مخ کوي، څرنګه چې په افغانستان کې نارینه د ټولنیز- اقتصادي پایښت او د کورنۍ د امنیت لپاره خورا مهم دي. ښځینه قربانیان په ځانګړې ډول د ساتنې او مرستې اړتیاوې لري چې له جګړې، اجباري بېځایه کیدنې، د ژوندانه له لاسه ورکولو او بنسټیزو خدمتونو ته د محدود لاس رسي څخه راولاړیږي.[44]

یوناما لا اوس هم د ښځو په وړاندې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالي د قضیو مستندکول جاری ساتلي. پر قربانیانو د دغه کار اغیز ویجاړوونکی دی، په ځانګړې ډول د محافظه کارو ټولنیزو نورمونو له امله. له جسمي او رواني پایلو پرته، قربانیان زیاتره وخت دکورنۍ او ټولنې د غړو له خوا له پیغور او نه منلو سره مخ وي. د دغو فکټورونو له امله، د دې شونتیا شته چې د ښځو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي قضیې په جدي ډول کم راپور شي او د مرتکبینو لپاره معافیت یو نورم پاتې شي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د افغان حکومت لپاره دا خورا اړینه ده چې د ښځو، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پریکړه لیک په اړه د عمل ملي پلان په بشپړ ډول تمویل او تطبیق کړي.



*تر لمر ختو مخکې، د ۲۰۱۹ کال د اګست پر ۱۷ د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولايت ډلې له خوا د واده پر مراسمو تر ځانمرګي برید یوه ورځ وروسته، د کابل په څنلو کې د قربانیانو خپلوان د خښ شویو مړو پر قبرونو ماتم کوي. په دغه برید کې ټولټال ۹۱ ملکي وګړي ووژل شول، چې د ملکي تلفاتو د کال تر ټولو خونړۍ پېښه ګڼل کیږي. انځور: انډریو کویلټي*

## ب. ماشومان او وسله واله جګړه

د جګړې ښخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د وژنې او ژوبلې، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او هوایي بریدونو؛ د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د جګړې او ملاتړ په موخه ګمارنې اوکارونې؛ او د بچه بازۍ، د جنسي استثمار او تاوتریخوالي په ګډون، ماشومان د روانې جګړې له امله له سخت زیان سره مخ دي. دواړه دولت پلوه ځواکونه او دولت ضد عناصر د ماشومانو په ضد د جدي سرغړونو له امله په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په اړه د ملګرو ملتونو عمومي منشي دکلني راپور په ضمیمه کې لست شوي.[45]

ماشومان په ۲۰۱۹ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي، چې د ۲۰۱۸ په پرتله دوه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او دسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما د ماشومانو ۳۱۴۹ تلفات (۸۷۴ مړه او ۲۲۷۵ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله درې سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. نجونې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۲۹ سلنه او هلکان یې ۷۱ سلنه جوړوي.[46]

ګراف ماشومانو په تلفاتوکې دغه زیاتوالی د دولت ضد عناصرو له خوا د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د زیاتې کارونې له امله دی، کوم چې د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو په تلفاتوکې کموالی بیرته پوره کوي. دولت ضد عناصر د ماشومانو د ۱۵۳۵ تلفاتو (۳۲۱ مړه او ۱۲۱۴ ټپیان) چې ۱۴ سلنه زیاتوالی وړاندې کوي، لامل شوي، په داسې حال کې دولت پلوه ځواکونه د ماشومانو د ۱۰۳۲ تلفاتو (۴۰۸ مړه او ۶۲۴ ټپیان) لامل شوي، چې دوه سلنه کموالی په ډاګه کوي. یوناما په اندیښنې سره مشاهده کوي چې په کونړ، زابل او خوست ولایتونوکې

## د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لاملونه




(۳۹٪) ۱۲۱۳ د ځمکنۍ نښتو له امله

(۱۸٪) ۵۷۵ د ځان وژونکو غیر په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي

(۱۵٪) ۴۶۰ د ځانمرګو چاودیدونکو توکو له امله

(۱۳٪) ۴۰۳ د جګړې نه پاتې شوي چاودیدونکي توکي

(۱۱٪) ۳۴۱ د هوایي بریدونو له امله

پاکستاني نظامي ځواکونو ته منسوب شویو د ماشومانو د ۳۹ تلفاتو (اته وژل شویو او ۳۱ ټپیان) یادونه کوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله له دوه برابرو څخه زیات شمیر په ګوته کوي.[47]
ماشومان لا اوس هم له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو او ځمکنیو ماینونو له امله د تلفاتو زیاتره برخه (۷۸ سلنه) جوړوي، چې له امله یې د ماشومانو ۴۰۳ تلفات (۱۱۳ مړه او ۲۹۰ ټپیان) رامنځ ته شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله پنځه سلنه کموالی وړاندې کوي.

د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل لا اوس هم د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې ګڼل کیږي، کوم چې د ماشومانو د ۳۹ سلنه تلفاتو لامل شوي. ځمکنیو نښتو د ماشومانو ۱۲۱۳ تلفات (۲۷۰ مړه او ۹۴۳ ټپیان) اړولي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په څیر نږدې ورته شمیر وړاندې کوي. د دغو تلفاتو ستره برخه د غیر مستقیمو وسلو دکاروني له امله رامنځ ته شوي. د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ماشومانو د تلفاتو دویم لامل وي، چې د ماشومانو ۵۷۵ تلفات (۱۴۷ مړه او ۴۲۸ ټپیان) یې اړولي، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله د ماشومانو ۴۶۰ تلفات (۶۱ وژل شوي او ۳۹۹ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۶۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. یوناما د ماشومانو دغه ډول ۳۵۲ تلفات (۲۰ وژل شوي او ۳۳۲ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳۲۴ سلنه زیاتوالی ښیي. یوناما د ماشومانو دغه ډول ۹۲ تلفات (۴۰ مړه او ۵۲ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳۹ سلنه کموالی ښیي.

یوناما د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو د تلفاتو د وامدارو لوړوالي په اړه اندېښمنه ده. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې د مستند شویو د ریکارډ لوړې کچې په پرتله په ۲۰۱۹ کال کې د دغه تاکتیک له امله د ماشومانو تلفات راکم

شوي، خو بیا هم یوناما د دې یادونه کوي چې په تېره یوه لسیزه کې په ۲۰۱۹ کال کې د هوايي بریدونو له امله د ماشومانو د تلفاتو دویم لوړ شمیر ثبت شوی.[48] د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوايي بریدونه د ماشومانو د ۳۴۱ تلفاتو (۲۱۱ وژل شوي او ۱۳۰ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي. په ۲۰۱۹ کال کې د هوايي بریدونو له امله د ماشومانو د تلفاتو له دوه پر درې څخه زیاته برخه یې (۶۹سلنه) نړیوالو نظامي ځواکونو، ۲۷ سلنه یې افغان هوايي ځواک او پاتې نور یې نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

یوناما دغه راز د ماشومانو د تښتونې نهه پېښې تاییدکړې چې ۱۴ هلکان په کې تښتول شوي وو، اووه تنه یې طالبانو، یو یې افغان ملي پولیسو او یو یې دولت پلوه وسله والې ډلې ته منسوب شوي. د مثال په ډول، د مارچ پر ۲۸ دکونړ ولایت په مروره ولسوالۍ کې، طالبانو د قربانیانو له کورنۍ سره د ځمکې پر سر د شخړې له امله، له یوه ۱۸ کلن کس سره یو ځای دوه هلکان (۱۶ او ۱۷ کلن) وتښتول. هلکان تر دوه اونیو د زیاتې مودې لپاره بندي وو او د اپریل پر ۱۲ نېټه د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته راخوشې شول. د اکتوبر پر ۲۳ دکونړ ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې، یوې ډلې طالبانو د څلورو ماشومانو په ګډون چې عمرونه یې اته او ۱۴ کلونه وو ۱۰ ملکي وګړي هغه مهال وتښتول کله چې کور ته پر لار وو. دوي په سیمه کې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې سره په ملاتړ تورن وو. ماشومان بیرته پر هماغې ورځ را خوشې شول، په داسې حال کې لویان د دغه راپور تر لیکلو پورې له هغوي سره بندیان وو.

## د ماشومانو د خوندیتوب په اړه د ملي حقوقي چوکاټ پرمختګونه

د مارچ پر ۵ نېټه، ولسمشر غني د یوه تقنیني فرمان (۳۶۲ شمیره) له لارې د ماشومانو د ساتنې قانون توشیح کړ.[49] نوموړی قانون ماشوم د یوه داسې شخص په څیر معرفي کوي چا چې د ۱۸ کلنۍ عمر نه وي "بشپړ" کړی. قانون د ۲۰۱۴ کال یو لومړیتوب د "انطباق لار نقشه" برخه جوړوله کوم چې د ۲۰۱۱ کال د عمل پلان د بشپړ تطبیق لپاره تدابیر په تفصیل سره په ډاګه کوي، څو په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د ماشومانوګمارنه اوکارونه پای ته ورسوي. په قانون کې داسې احکام شامل دي چې د ۲۰۱۸ کال د جزا له تعدیل قانون سره سم بچه بازي او د ماشومانوګمارنه اوکارونه منع کوي. یوناما په فعال ډول له حکومت سره تعامل جاري ساتلی څو د دغه ډول احکامو شاملول ډاډمن کړي.

نوموړي قانون همدارنګه د ماشومانو د ساتنې یو ملي کمیسیون را منځ ته کړی چې مشري یې د ولسمشر دویم مرستیال له خوا کیږي او دنده ورسپارل شوې چې د ماشومانو حقونه وڅاري او ساتنه یې وکړي، د ماشومانو د قانون د احکامو تطبیق څارنه او ارزونه وکړي، او په دې اړه د وزارتونو او اړوندو دولتي او نا دولتي ادارو ترمنځ همغږي ډاډمنه کړي. د اکتوبر پر ۲۲ نېټه، تر نوموړي کمیسیون لاندې یوې تاسیس شوې ملي تخنیکي کمېټې د لومړي ځل لپاره سره وکتل، چې د ماشومانو د ساتنې قانون د تطبیق لپاره د عمل ملي پلان طرح او د څار یو میکانیزم رامنځ ته کړي، څو د قانون مناسب تطبیق ډاډمن کړي.

د ولسمشر فرمان د ۳۰ ورځو په دننه کې د پارلمان له لارې ، لکه څرنګه چې یې د افغانستان قوانینو[50] له خوا غوښتنه کیږي، د قانون تصویبولو هڅې لا تر اوسه نه دي بریالۍ شوي. د دسمبر پر ۹، ولسي جرګې د تقنیني فرمان په اړه

مباحثې وکړې، چې تمرکز یې د ماشوم پر حقوقي تعریف و. د فرمان د تصویب پلویانو استدلال کاوه چې ماشوم باید د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو له کنوانسیون سره سم تعریف شي ـ یعني هغه کس چې تر ۱۸ کلنۍ کم عمر ولري ـ د قانون مخالفینو بیا ټینګار کاوه چې د ماشوم دغه تعریف له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي، کوم چې ماشوم د یوه داسې شخص په څیر تعریفوي په چاکې چې د بلوغ نښې نښانې نه وي څرګندې شوي. د قانون مخالفینو د اعتراض په توګه تالار پرېښود او د پارلمان پاتې غړو فرمان تصویب کړ، وروسته دا معلومه شوه چې د وکیلانو نصاب نه و پوره او له امله یې د قانون د تصویب رایه اچونه بې اعتباره اعلان شوه.

## لومړی: د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د ماشومانو ګمارنه اوکارونه

ماشومان لا اوس هم د طالبانو، افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ګمارل کیږي. د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، د دولت ضد عناصرو د جګړې او حمایت په موخه د ماشومانوکارونه اوګمارنه جارې ساتلې. له بلې خوا افغان ملي امنیتي ځواکونو د ماشومانو دګمارنې په مخنیوي کې پرمختګ کړی، د تالاشۍ پوستوکې د جګړې اوکمک په موخه د افغان سیمه ییزو پولیسو او تر یوې ډېرې کمې اندازې د افغان ملي پولیسو له خوا د ماشومانوکارونه اوس هم یوه اندېښنه ګڼل کیږي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ۶۴ هلکانوګمارنه اوکارونه تایید کړې، چې زیاتره یې د هیواد په شمالي سیمه کې رامنځ ته شوې. دغې ادارې د ۵۸ ماشومانوګمارنه اوکارونه طالبانو، درې یې افغان ملي پولیسو، یوه یې افغان سیمه ییزو پولیسو، یوه یې دولت پلوه وسله والو ډلو او یوه یې په ګډه افغان سیمه ییزو پولیسو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړې. خو له دې سره سره، باور کیږي چې د حساسیتونو او ماشومانو د خوندیتوب د اندېښنو په پام کې نیولو سره دغه ډول پېښې په پراخ ډول کم راپور کیږي.

یوناما د طالبانو له خوا د چاودیدونکو توکو د ځای پر ځای کولو، د چاودیدونکو توکو د لیږد، د استخباراتي معلوماتو په راغونډولوکې د مرستې، د ځانمرګو بریدونو د ترسره کولو او په دښمنیوکې دګډون لپاره د ماشومانو دګمارنې اوکارونې قضیې مستندې کړي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د اګست پر ۲۲ د ننګرهار په جلال اباد ښارکې، افغان ملي پولیسو یو ۱۳ کلن هلک د افغان ملي امنیتي ځواکونو د شپږو غړو په وژنه کې د لاس لرلو په تور ونیوه. د سرچینو له معلوماتو سره سم، دغه هلک د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ځانګړي ډول د ملي امنیت د ریاست د غړو په نښه کولو لپاره د طالبانو له خوا په ځانګړي ډول روزل شوی و او د تیرو اوو میاشتو لپاره یې په ښارکې فعالیت کاوه. د هلک تر نیونې وروسته والي او امنیي قوماندان په یوه کنفرانس کې د دې ادعا وکړه چې هلک پر وژنو اعتراف کړی او هغه په کابل کې د افغان ملي پولیسو له تروریزم سره د مبارزې واحد ته د لا زیاتو څېړنو لپاره او په هماغې میاشت کې د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکز ته لیږدول شوی.

یوناما د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمیسیون له خوا د ځینو مثبتو ترسره شویو کامونو او د ماشومانو د ګمارنې اوکارونې د قضیو د څېړلو او رغنده ګامونو یادونه کوي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال په اګست میاشت کې د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې نوموړي کمیسیون د یوه لوړ پوړي پلاوي له خوا د ټولنې تر شکایتونو وروسته هغه ۱۴ هلکان خوشې شول چې د طالبانو له خوا ګمارل اوکارول شوي وو. پلاوي دغه ماشومان بې وسلې کړل او هغوی بیرته خپلوکورنیو ته وسپارل، او خپلو

قوماندانانو ته یې لارښوونه وکړه چې بیا دغه ډول کار ترسره نه کړي. خو د پلاوي تر ستنیدو وروسته، یوناما ته راپور ورکړل شو چې له دغو هلکانو ۱۲ یې بېرته طالبانو ته ستانه شول او دوه نور یې د خپلوکورنیو په مرسته ایران ته کډوال شول. یوناما دغه معلومات د لا زیاتې تعقیبونې لپاره د طالبانوکمیسیون ته ولیږدول.

یوناما د افغان حکومت له خوا د افغان ملي پولیسو د استخدام په مرکزونوکې د ماشومانو د ساتنې واحدونو، کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې په ټولو ۳۴ ولایتونوکې تاسیس شوي، دکار له لارې د ماشومانو د استخدام د مخنیوي په برخه کې د پرمختګ ستاینه کوي. د یونیسف له معلوماتو سره سم، دغو واحدونو په ۲۰۱۹ کال کې د ۴۳۹ کم عمرو درخواست ورکونکو د افغان ملي پولیسو له لیکو سره د یو ځای کیدو مخه نیولې.

له دې سره سره یوناما لا اوس هم په جګړه ییزو او حمایتي رول ، ساتونکو، په پوستو کې د خوړو او څښاک د خدمتګارانو په ځانګړي ډول د افغان سیمه ییزو او افغان پولیسو کې دکارونې راپورونه تر لاسه کوي. په ځینو مواردو کې ماشومان همدارنګه د جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال په مئ میاشت کې د هیواد په شمالي سیموکې یو ۱۳ کلن هلک چې تمانچه یې له ځان سره لیږدوله د پولیسو له خوا و نیول شو. هغه د پولیسو له خوا د یوې شپې لپاره توقیف او تر پوښتنوګرويږونو لاندې ونیول شو. د پوښتنو اوګرويږونو پر مهال، پولیسو وموندہ چې هلک د افغان سیمه ییزو پولیسو او دولت پلوه وسله والو ډلو د قوماندانانو له خوا د ۲۰۱۵ راهیسې تښتول شوي او نیول شوي او په دغې موده کې د جنسي تیري ښکار شوی. نوموړی هلک د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکز ته ولیږدول شو او د ۲۰۱۹ کال په جون کې له ټولو تورونو برئ الذمه اعلان شو او محکمې یې د حکومت له خوا اداره کیدونکي د ماشومانو د ساتنې مرکز ته د هغه د استولو حکم وکړ. دکار او ټولنیزو چارو ولایتي ریاست د محکمې له دغه حکم سره مخالفت وکړ او ادعا یې وکړه چې هلک په جنایي کړنوکې ښکیل و او د هغه لیږد به په مرکزکې نور ماشومان له ګواښ سره مخ کړي. د دغه مخالفت له امله هلک بیرته د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکز ته ولیږدول شو. په دغې قضیه کې د ښکیلو افغان سیمه ییزو پولیسو او د دولت پلوه وسله والو ډلو د قوماندانانو د نیولو حکم هم صادر شوی، خو د یوناما له معلوماتو سره سم، هغوي لا تر اوسه نه دي نیول شوي.

یوناما پر دولت غږکوي چې د ۲۰۱۱ کال تر عمل پلان لاندې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکوکې د ماشومانو دګمارنې اوکارونې د پای ته رسولو خپلې ژمنې په بشپړ ډول عملي کړي. یوناما مشاهده کړې چې د هغو ماشومانو لپاره چې پخوا له وسله والو ځواکونو یا ډلو سره مل وو، هغه چې له توقیف څخه ازاد شوي او هغه چې د عمر له امله دګمارنې د پروسې پر مهال د پولیسو او وسله والو ځواکونو له خوا چاڼ او په ګوته شوي، د اړتیاوو ته ته جواب ویلو کافي میکانیزمونه شتون نه لري. د مناسبې تعقیبونې پرته، دغه ماشومان د بیا ګمارنې اوکارونې په وړاندې زیانمنیدونکي پاتې کیږي.

دغو موضوعاتو ته په رسیدګۍ کې د ننګونو په منلو سره، یوناما د نړیوالې ټولنې په ملاتړ افغان دولت د داسې لارو چارو لټولو ته هڅوي چې په رواني ډول د مرستې ، روغتیا، پوهنې، حرفوي روزنې او د عاید رامنځ ته کوونکو پروګرامونو ته د ماشومانو لاس رسی زیات کړي، او خپلو کورنیو او ټولنو سره د هغوي له بېرته یو ځای کیدنې سره مرسته وکړي. سربیره پر دې یوناما ،دولت په افغان ملي پولیسوکې د ماشومانو د ساتنې د واحدونو د چارو لا زیاتو

پراخولو ته هڅوي، چې په پوستوکې فعاله څارنه شامله کړي، د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د ماشومانو د ګمارنې او کارونې په اړه د جزا د تعدیل شوي قانون احکام تنفیذکړي، جعلي پیژند پاڼې په ګوته کړي او د ټولو تورونو د چټکو او موثرو څیړنو او د شکمنو اشخاصو د عدلي تعقیب له لارې د دغه ډول جرمونو لپاره احتساب ډاډمن کړي.

## دویم: د ماشومانو په وړاندې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالی

په افغانستان کې د وسله والې جګړې پر مهال د ماشومانو په وړاندې جنسي تاوتریخوالی لا اوس هم یوه جدي خو په کمه کچه راپور شوې اندیښنه ګڼل کیږي. د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري هلکان او نجونې د جنسي تاوتریخوالي قربانیان او له ځورونې، جنسي تاوتریخوالي او تیري سره مخ دي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د د ۱۳ هلکانو او پنځو نجونو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي اته پیښې تاییدکړي: چې پنځه یې د طالبانو له خوا، دوه یې د افغان ملي پولیسو او یوه یې د دواړو افغان سیمه ییزو پولیسو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ترسره شوي. که څه هم دغه شمیرې د هغو سختیو چې قربانیان او شاهدان ورسره په راپور ورکولو او هغو ننګونو په پام کې نیولو سره چې یوناما ورسره د خورا سختو حساسیتونو او د قربانیانو او شاهدانو د خوندیتوب د اندیښنو له امله د دغو قضیو په تاییدولوکې مخ دي، د ستونزې اصلي کچه نه منعکسوي. له دغو قضیو سره د "چوپتیا کلتور" مل دی. د شرم د احساس له امله قربانیان نه شي کولی پر هغوي د تحمیل شوي زیان راپورونو له خلکو سره شریک کړي؛ زیاتره یې د دې له امله ګرم ګڼل کیږي چې په جنسي ډول ځورول شوي یا پرې تیری شوی، او زیاتره وختونه د ټولنې له خوا منزوي آن ګواښل شوي که چیرې د تورونو په اړه معلومات خپاره شي.

یوناما لا اوس هم د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هلکانو د بچه بازۍ[51] په ګډون د جنسي ځورونې او استثمار راپورونه ترلاسه کوي. د دغه ډول جرمونو لپاره د احتساب د نشتوالي، د فرهنګي حساسیتونو، د قربانیانو د ساتنې اړتیا، پیغور او له ټولنې څخه د منزوي کیدو له امله د بچه بازۍ په ګډون د هلکانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي په اړه دکم راپور ورکړه او نه رسیدګي یوه اندیښنه ګڼل کیږي.[52] یوناما افغان دولت د جزا د تعدیل شوي قانون د هغو مادو په ګډون چې بچه بازي جرم ګڼي د اړوندو قوانینو او پالیسي ګانو بشپړ تطبیق او د مرتکبینو احتساب ته هڅوي. دغه راز د د دغې پدیدې په وړاندې د خلکو حساسولو د مناسبو کمپاینونو له لارې د بچه بازي د یوه ناوړه عمل په څیر چې د جزا قانون لاندې د سزا وړ دی د درک او پوهاوي لپاره یوه چټکه اړتیا لیدل کیږي. یوناما همدارنګه دولت د قربانیانو او شاهدانو د ساتنې لپاره د تطبیق وړ پلانونو په ګوته کولو ته او د داسې تدابیرو پلي کولو ته هڅوي چې د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره ټولنیزه قبلونه زیاته کړي.

د ماشومانو دواړو هلکانو او نجونو په وړاندې جنسي تیری او د جنسي تاوتریخوالي نورې بڼې د بشري حقونو له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښایي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي تیری وګڼل شي. ماشومان د نړیوال قانون لاندې له ځانګړو حمایتونو څخه برخمن دي، د بشري حقونو د ساتنې او ترویج لپاره د لومړني مسوولیت لرونکي په څیر، افغان دولت باید هغوي د جنسي تیري[53] او دغه راز شکنجې او ناوړه چلند[54] په ګډون د جسمي یا رواني تاوتریخوالي له ټولو شکلونو څخه د ژغورنې لپاره اقدامات ترسره کړي. طالبان هم دغه راز تر خپلې ولکې لاندې سیمو

کې د دې مکلیفت لري چې د قربانیانو د ساتنې لپاره ګامونه پورته کړي او خپل هغه قوماندانان محاکمه کړي کړي چې د زیان لامل شوي.

## ج. پر پوهنې د وسله والې جګړې اغیز

د جګړو د وختونو په ګډون ماشومان د پوهنې حق لري. دغه حق د وسله والې جګړې پر مهال د رواني نا امنۍ او دغه راز پر ښوونځیو، ښوونکو او زده کوونکو د مستقیمو بریدونو دګواښونو او د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو د کارونې له امله زیانمن شوي. یوناما د وسله والې جګړې له امله په پوهنې د زیات اغیز له امله اندیښمنه ده او په ځانګړي ډول د نجونو په اړه کله چې له تاوتریخوالي او نا امنیو سره مخ کیږي نو په زیات احتمال له ښوونځیو شخه بهر ساتل کیږي. دا مهمه ده چې په افغانستان کې د ټولو ماشومانو لپاره ښوونځي د زده کړې د خوندي ځای په څیر خوندي وساتل شي.

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او دسمبر ۳۱ ترمنځ، یوناما ۷۰ داسې پیښې تایید کړي چې د هغو بریدونو په ګډون چې ښوونځي په نښه کوي یا یې په تصادفي ډول زیانمنوي، پوهنې ته لاس رسي اغیزمنوي، د پوهنې دکارمندانو تښتول وژل او ژوبلول او د ښوونیزو مرکزونو اوکارمندانو په ضد ګواښونه شامل دي. د هغو پیښو پرمهال چې پوهنه اغیزمنوي په ټولیز ډول د پوهنې څلورکارمندان وژل شوي او څلور نور ژوبل شوي، دغه راز نهه زده کوونکي وژل شوي او ۲۹ نور ټپي شوي. د پوهنې ۵۲ پرسونل تښتول شوي. د دغو پیښو زیاتره برخه د هیواد په ختیځو او مرکزي سیموکې (په هره سیمه کې ۱۸ پیښې) او په تعقیب یې په شمال ختیځو سیمو کې (۱۲ پیښې) رامنځ ته شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله د پام وړ کموالی په ډاګه کوي چیرې چې یوناما ۱۹۲ داسې پیښې مستندکړې وې چې پوهنه یې اغیزمنوله ،چې په دې کې ۹۲ هغه پیښې وې چې ښوونځي د رایې اچونې د مرکزونو په څیرکارول شوي وو.

یوناما د طالبانو له خوا د بریدونو د هغه لوړ شمیر په اړه اندیښمنه ده، چې دکال په اوږدوکې یې ماشومان او دغه راز ښوونیز مرکزونه اوکارمندان په سخت ډول اغیزمن کړي. د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، یوناما د طالبانو د عملیاتو له امله د ۲۴ ښوونځیو زیانمنیدل مستندکړي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د جولای پر لومړۍ نېټه، طالبانو په کابل کې د دفاع وزارت د لوژستیک او انجنیرۍ پر قرارګاه ډله ییز برید ترسره کړ. د قرارګاه په دروازه کې د موټر بم تر چاودنې وروسته، کومې چې شاو خوا کورونه، کاروبارونه او ښوونځي سخت زیانمن کړل، بریدګر قرارګاه ته ننوتل او ډزې یې پیل کړې. دوه بریدګر چې ملکي جامې یې پر تن او پرکلاشنکوفو سمبال وو د یوې نږدې ودانۍ پر سر مورچل نیولی و چې په لومړي پوړ کې یې یو شخصي ښوونځی و چیرې چې شا و خوا ۳۰۰ زده کوونکي په خپلو ټولګیوکې وو. د عملیاتو پر مهال، یو هلک او شپږ ملکي نارینه ووژل شول او ۱۴۴ نور ملکي وګړي (۲۱ هلکان، ۷ نجونې، ۱۰۱ سړي او ۱۵ ښځې) ژوبل شول او څلور بریدګر هم ټپیان وو. په ټولیز ډول، د لومړنۍ چاودنې له امله په سیمه کې شپږ ښوونځي اغیزمن شول ـ ټولګي زیانمن شول او ښوونیز توکي ویجاړ شول. که چیرې د چاودنې له امله په انګړکې د ننه د تیلو ټانک اغیزمن شوی وای، زیان او تلفات ښایي تر دې ډیر لوړ او زیات وای. طالبانو د دغه برید مسوولیت ومانه.[55]

دولت ضد عناصرو همدارنګه په عمدي او مستقیم ډول ښوونیز مرکزونه اوکارمندان په نښه کړي. یوناما ۲۹ داسې پیښې[56] مستندکړي په کوموکې چې دولت ضد عناصرو د ښوونځیو د سوځولو، د ښوونکو د تښتولو، د ښوونیزو مرکزونو اجباري تړلو او پر زده کوونکو او د پوهنې پرکارمندانو د

مستقیمو بریدونو په ګډون ښوونځي یا د پوهنې پرسونل په مستقیم ډول په نښه کړي.[57] د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې په پروان ولایت کې طالبانو د دولت د هغې پریکړې په غبرګون کې چې د ښوونکو د معاشاتو د تادیې وسیلې بدلې کړي ۴۹ ښوونکي وتښتول. دوه ورځې وروسته، د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته ښوونکي بېرته خوشې شول. دغې پېښې د دولت له خوا د مشخصو پریکړو په غبرګونونو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ښوونیزو مرکزونو او پرسونلو په وړاندې د بریدونو اوګواښونه هغه جریان تعقیب کړکوم چې په ۲۰۱۸ کال کې راڅرګند شوی. یوناما دغه راز د ۲۰۱۹ کال له جنوري تر اپریل پورې میاشتو په موده کې د نجونو د ښوونځیو په وړاندې په ځانګړې ډول په فراه ولایت کې عمدي بریدونه اوګواښونه مستندکړي. یوناما د دې یادونه کوي چې آن که چېرې پر پوهنې بریدونه په ځانګړي ډول نجونې یا د نجونو ښوونځي نه په نښه کوي، خو بیا هم هغوي په نا متناسب ډول له تاوتریخوالي څخه اغېزمني کیږي، ځکه چې مینډې او پلرونه ښوونځیو ته د خپلو زامنو په خلاف د خپلو لوڼو لیږدولو ته کم زړه ښه کوي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۱۱ داسې پېښې[58] تاییدکړي چېرې چې د ملي امنیت د ریاست، افغان ملي پولیسو او نړیوالو نظامي ځواکونو په ګډون، دولت پلوه ځواکونو ښوونیزو مرکزونو ته زیان اړولی. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۳۰ د ننګرهار ولایت په شیرزادو ولسوالۍ کې، د ملي امنیت صفر دوه قطعې چې هوایي ملاتړ ورسره مل و د بلواګرو پر ضد شپنې چاپېز عملیات ترسره کړل. د عملیاتو پر مهال، د ملي امنیت ریاست د صفر ۲ قطعې ځواکونو یوه لیسه تلاشي کړه، د دوو ساتونکو سترګې وتړلې، هغوي له لیسې د باندې یوړل او خوشې یې کړل. دولت پلوه ځواکونو پر ښوونځي څلور هوایي بریدونه ترسره کړل چې ۱۲ ټولګي، دفتر، دکتابونو زیرمې، حویلۍ، دیوالونه، تشنابونه، د اوبو څاه، عمومي دروازه او نوره شتمنۍ او ونې ویجاړې کړې. دغه ښوونځي د ۳۲۵ نجونو په ګډون د ۱۳۳۷ زده کوونکو لپاره ښوونه او روزنه برابروله.

یوناما د ولسمشریزو ټاکنو د رایې اچونې پر ورځ د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله ښوونځیو ته د زیان ۲۱ پېښې تایید کړې، چې په عمده ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر مستقیمو وسلو دکارونې له امله رامنځ ته شوي. دولت د رایې اچونې پر ورځ په دولتي ښوونځیو د زده کوونکو لپاره رخصتي اعلان کړه کوم کار چې پر هغو ښوونځیو چې د انتخاباتي مرکزونو په څېرکارول شوي د مستقیمو بریدونو له امله د ماشومانو د متضرر کیدوګواښ راکم کړ. خو بیا هم د مستقیمو او تصادفي بریدونو له امله د ښوونځیو ودانۍ اغېزمنې شوې، چې پوهنې ته د ماشومانو لاس رسی اغیزمن کاوه او زده کوونکو لپاره د یوې نا امنې فضا په رامنځ ته کولوکې مرسته کوله.

د بشرپالنې نړیوال قانون د وسله والې جګړې په حالاتوکې پوهنې ته د ماشومانو د لاس رسي حق خوندي کوي.[59] یوناما د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو غوښتنه کوي چې زده کوونکي، ښوونکي، ښوونځي او دغه راز ملکي وګړي او ملکي شیان وژغوري، او د نظامي موخو لپاره د ښوونیزو مرکزونو له کارونې لاس په سر شي. یوناما افغان دولت د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د خپلو مکلفیتونو یادونه کوي څو پوهنې ته د ماشومانو حق ډاډمن کړي او افغان ملي او امنیتي ځواکونه د خوندي ښوونځیو د پریکړه لیک رعایتولو ته هڅوي.



*د ۲۰۱۹ کال په مارچ کې، زده کوونکي د ننګرهار ولایت په ده بالا ولسوالۍ کې د پخوانی پاپین لیسې په ځای کې په پرانیستې فضا کې زده کړې کوي، کومه چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې ترمنځ د درنو جګړو له امله پر یوې کنډواله بدله شوې. انځور: نور الله شیرزاده*

## د. پر روغتیا د وسله والې جګړې اغیز

جګړه لا اوس هم خلک بنسټیزو روغتیایي خدمتونو له لاس رسي محروموي. د ۲۰۱۹ کال له جنوري تر نومبر میاشت پورې، د وسله والې جګړې اړوند پېښو له امله د روغتیایي مرکزونو د اجباري تړنې او ویجاړېدو په پایله کې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو شاو خوا ۲۴۰۰۰ ساعتونه ضایع او ۴۱۰۰۰ روغتیایي سلا مشورې له لاسه ورکړل شوي.[60]

یوناما د روغتیایي مرکزونو او پرسونلو په وړاندې د مستقیمو بریدونو یا د بریدونو د ګواښونو او دغو مرکزونو ته د اتفاقي زیان په ګډون، ۷۵ داسې پېښې تاییدکړي چې په ۲۰۱۹ کال کې یې روغتیا اغیزمنه کړې. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله چیرې چې یوناما ۶۵ دغه ډول پېښې تاییدکړي، زیاتوالي په ډاګه کوي. په ټولیز ډول ۱۳ روغتیایي پرسونل وژل شوي او ۳۴ نور ژوبل شوي او دغه راز پنځه دیرش نور یې تښتول شوي.

یوناما له دغو پېښو ۵۷ هغه یې دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۵۳ یې طالبانو، دوه د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې، او دوه یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. یوناما ۱۷ دغه ډول پېښې دولت پلوه ځواکونو[61] او یوه په ګډه دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

یوناما د واکسیناتورانو د تښتونې، امبولانسونو د نیونې او د کلینیکونو د لوټلو او اجباري تړلو په ګډون د طالبانو له خوا د هغو بریدونو اوکړنو په اړه اندېښمنه ده کوم چې روغتیایي مرکزونه او خوندي شوي پرسونل په نښه کوي. یوناما د ۲۰۱۸ کال د ۳۱ پېښو په پرتله په ۲۰۱۹ کال کې ۵۳ دغه ډول پېښې مستندکړي، چې ۱۹ هغه یې د هیواد په ختیځو برخوکې رامنځ ته شوي. د مثال په ډول، د نومبر پر ۱۲ نېټه د ننګرهار ولایت په شیرزادو ولسوالۍ کې، طالبانو چې له افغان ملي امنیتي

ځواکونو او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې سره تر جګړې وروسته درانه تلفات واوښتل او طبي مرستې ته اړ شول، په سیمه کې د ځایي خلکو پر مخ کلینیک وتاړه. د اکتوبر پر ۲۸ د جوزجان ولایت په آقچه ولسوالۍ کې، طالب جنګیالیو د ولسوالۍ پر روغتون برید وکړ، و یې نیوه او تر هغې یې د نظامي موخو لپاره وکاروه، ترڅو چې افغان ملي امنیتي ځواکو بېرته سیمه تر خپلې ولکې لاندې راوسته. د دغه برید له امله دوه ملکي وګړي ووژل شول او دوه نور ټپي شول. روغتون ته هم یو څه زیان واوښت.

د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال روغتیایي مرکزونه همدارنګه د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله اغېزمن شول، خو د ښوونځیو په پرتله په خورا کمې کچې. د راپې اچونې ځینې مرکزونه په روغتیایي کلینیکونوکې ځای پر ځای شوي وو، چې هغه یې د بریدونو له ګواښونو سره مخ کړي وو. یوناما د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال درې داسې پېښې تاییدکړې چې روغتیایي مرکزونه یې اغېزمن کړي.

یوناما د دولت پلوه ځواکونو ـ د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو په ګډون ـ یو شمیر داسې پېښې مستند کړې چې په روغتیایي مرکزونوکې د ننه چاپېز عملیات ترسره کوي، چې له امله یې د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې ځنډ او ملکي تلفات رامنځ ته شوي. د مثال په ډول، د جولای پر ۸ او ۹ د وردګو ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې، د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو په یوه روغتیایي کلینیک کې چې د افغانستان لپاره د سویډن دکمیټې له خوا یې ملاتړکیده، چاپېز عملیات ترسره کړل. دغو ځواکونو د کلینیک له اصلي ودانۍ د باندې یو نارینه پالونکی په ډزو وواژه، ودانۍ ته ننوتل اوکوټه په کوټه تلاشي یې ترسره کړه. د ملي امنیت ریاست دوه سړي، یو ساتونکی او د لابراتوار یو تکنیشن د باندې وایستل او نورو ته یې په داخل کې د پاتې کېدو امر وکړ. له لسو تر ۱۵ دقیقو وروسته د ډزو غږ واوریدل شو چې له کلینیک څخه د نږدې ۲۰۰ میټرو په واټن د لابراتوار د تکنیشن او ساتونکي جسدونه ومونډل شول چې دواړه یې پر سر ویشتل شوي وو. یوناما په ټولیز ډول د دریو ملکي وګړو وژنه تاییدکړې. د جولای پر ۱۳، د راپورونو له مخې د دغې پېښې په غبرګون کې، طالبانو د میدان وردګو په ولایت کې تر خپلې ولکې لاندې په دریو مختلفو سیمو کې ۴۲ کلینیکونه د نږدې یوې اوونۍ لپاره وتړل.

د ځانګړې اندېښنې وړ دا ده چې د ۲۰۱۹ کال په اپریل کې طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې د روغتیا د نړیوالې ادارې پر فعالیتونه یې بندیز لګاوه، او په ډاګه کوله یې چې د واکسیناسیون د کمپاینونو پر مهال د نوموړې ادارې د کارمندانو له خوا "شکمن فعالیتونه" ترسره شوي.62 دوی د سپټمبر د وروستۍ اونۍ په اوږدو کې د پولیو پر فعالیتونو بندیز په مشروط ډول پای ته ورساوه. په ځانګړي ډول، له هغه وخت راهیسې واکسین یوازې په روغتیایي مرکزونوکې ترسره کیږي او د کور په کور واکسین پرکمپاین لا اوس هم بندیز پر ځای پاتې ده. د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، په افغانستان کې د پولیو د ۲۸ پېښو راپور ورکړل شوی چې ۲۳ هغه یې له هغو سیمو راپور شوي چیرې چې واکسیناتوران ماشومانو ته په لاس رسي کې له خنډونو سره مخ دي. د بندیز له امله د ۲۰۱۹ کال په دوهیمه ربعه کې د پولیو واکسینو محدود شمیر فعالیتونه ترسره شول. په سپټمبر میاشت کې د بندیز تر خوشې کیدو وروسته څلورکمپاینونه ترسره شول؛ خو بیا هم د لاس رسي نه وړ سیموکې واکسین باید یوازې په روغتیایي مرکزونوکې تر سره شي. سربیره پر دې، د پولیو د بشپړوونکو واکسینو فعالیتونه لکه د ترانزیت له دایمي ټیمونو سره د لاس رسي په نه وړ سیموکې د حمایوي دیوال رامنځ

ته کول، د ورځني معافیت پیاوړي کول، د روغتیا د کړنځنډه ټیمونو له لارې واکسینول، د شرې د واکسینو د کمپاینونو په څیر له نورو فرصتونوګټه پورته کول، د هیواد لاس رسي نه وړ سیموکې ترسره شوي.

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې، ناروغ او ټپي د خپل وضعیت سره سم باید روغتیایي پاملرنه ترلاسه کړي او د جګړې ښکیلې خواوې د دې مکلفیت لري چې د ناوړه چلند په وړاندې د هغوي د ژغورنې او ساتنې لپاره ټول ممکنه اقدامات ترسره کړي. سربیره پر دې، طبي پرسونل او مرکزونه (د امبولانسونو په څیر د نقلیه وسیلو په ګډون) چې په ځانګړي ډول د ناروغو او ټپي وګړو په درملنه کې ښکیل دي، له بریدونو خوندي دي.63 د بشري حقونو له نړیوال قانون سره سم، په افغانستان کې خلک هم د فیزیکي او رواني روغتیا تر ټولو لوړ د ترلاسه کیدو وړ معیار حق لري، کوم چې د وسله والې جګړې پرمهال هم د تطبیق وړ دی.64

## ۵. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي

هرکال په افغانستان کې د رواني او پخوانیو جګړو څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله په سلګونو ملکي وګړي زیانمن کیږي. د دغو تلفاتو ستر شمیر د ماین پاکۍ د موثرو پروګرامونو له لارې په بشپړ ډول د مخنیوي وړ دی.

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او دسمبر ۳۱ ترمنځ، یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله ۵۲۰ ملکي تلفات (۱۴۹ مړه او ۳۷۱ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله شپږ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او دوه کلن کموالی بیرته معکوسوي.65

ماشومان لا اوس هم له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله په نا متناسب ډول زیانمن کیږي، کوم چې د ماشومانو د معلولیت یو تر ټولو مهم ونډه لرونکی فکتور ګڼل کیږي. په ۲۰۱۹ کال کې، ماشومان د ۴۰۳ تلفاتو

**په ۲۰۱۹ کې له جګړې څخه د پاتې شونو چاویدونکو توکو له امله ملکي تلفات**



(۱۱۳ مړه او ۲۹۰ ټپیان) چې ۳۶۰ یې هلکان دي په درلودو سره، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د ټولو ملکي تلفاتو کابو ۷۸ سلنه جوړوي. هغه ماشومان چې له جګړې څخه د چاودیدونکو توکو له پېښو ژوندي پاتې دي د پښو یا سترګو له لاسه ورکولو، نورو جدي ټپونو او رواني تروما له امله د د ژوند پرکیفیت له پاییدونکو منفی اغیزو کړیږي.

یوناما ګڼ شمیر داسې پېښې مستندکړي په کوموکې چې ماشومان له جګړې څخه پاتې شونو چاودیدونکو توکو سره د لوبوکولو یا د اوسپنې ټوټو د راغونډولو له امله زیانمن شوي. د مثال په ډول، د دسمبر پر ۱۷ په کندز ښارکې د راکټ یوه ناچاوده سرګلوله هغه مهال وچاودیده کله چې ماشومانو ورسره د سرک پر سر لوبې کولې. د دغې پېښې له امله اته ماشومان (یوه نجلۍ او اووه هلکان) ټپي شول. هغه کلی چېرې چې دغه پېښه رامنځ ته شوې د طالبانو تر ولکې لاندې و. یوناما ماشومانو ته د ماینونو د ګواښ په اړه د پوهنې او له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په اړه د هغوي د پوهاوي د لوړولو پر اهمیت ټینګارکوي.

په ۲۰۱۹ کال کې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو نږدې دوه پر درې برخه تلفات د وروستیو جګړو لورو ته منسوب شوي، چې زیاتره ملکي تلفات یې په ګډه دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. یوناما یو ځل بیا هغو بېځایه شویوکورنیو ته د مخ سترګواښ یادونه کوي کومې چې هغو سیمو ته بیرته ستنیږي چیرې چې درنې جګړې ترسره شوي. که چیرې له جګړې د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د ارزونې، نښانې کولو او پاکولو لپاره کوټلي ګامونه پورته نه شي، د دغو توکو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله به دوام ومومي. د جګړې ښکیلې خواوې د دې مکلفیت لري چې له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي نښاني، پاک کړي او له منځه یوسي او د دغو توکو د خطرونو او اغیزو څخه د ولسي وګړو د ژغورنې لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ترسره کړي. د ماینونو د ګواښ په اړه د پوهاوي روانې هڅې د خلکو د ساتنې لپاره خورا مهمې دي. یوناما د دولت له خوا د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په تړاو د ځینو مشخصو دودیزو وسلو د کنوانسیون د پنځم پرتوکول سره سم کوم چې د ۲۰۱۸ کال د فبروري پر ۹ مرعی الاجراء شوی، د خپلو ژمنو د رعایت کولو لپاره د ترسره شویو اقداماتو هرکلی کوي. د ماین پاکۍ د همغږۍ ریاست د حکومت په د ننه کې "د پنځم پروتوکول د تطبیق لپاره میکانیزم" د طرحې لپاره هڅې رهبري کوي. د دغه راپور تر لیکلو پورې، نوموړی میکانیزم د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا تصویب او د ملي امنیت شورا د دفتر له خوا بیا وکتل شو. یوناما د دې یادونه کوي چې نړیوال نظامي ځواکونه د دې مرستې مسوولیت لري څو ډاډمن کړي چې دولت تر پنځم پروتوکول لاندې خپل مکلفیتونه رعایت کوي او نړیواله ټولنه په هر ممکنه ډول د خپل ملاتړ دوام ته هڅوي. یوناما دغه راز له طالبانو هم غوښتنه کوي چې د کنوانسیون روحیه وساتي او تر خپل کنترول لاندې سیموکې د ماین پاکانو لپاره لاس رسی ډاډمن کړي.

# ۳. د دولت ضد عناصر

## الف. عمومي کتنه

دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۹ کال کې په افغانستان د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو زیاتره په ګڼ میشتو ښاري مرکزونو کې له بې توپیره کارونې او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه په سرغړونه کې د ملکي وګړو د دوامداره عمدي هدف ګرځولو سره د زیاترو ملکي تلفاتو ـ کابو دوه پر درې برخې ـ اړول جاري ساتلي. د دولت ضد عناصرو تاوتریخوالي په ځانګړې ډول دکال په دریمه ربعه کې کله چې په ځانګړې ډول د طالبانو له خوا تاوتریخوالي لوړوکچو ته ورسید، د ناامنۍ او بې باورۍ د چاپېریال له رامنځ ته کولو سره مرسته کړې. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او دسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا ۶۴۴۷ ملکي تلفات (۱۶۶۸ مړه او ۴۷۷۹ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله په ملکي تلفاتوکې اته سلنه کموالی وړاندې کوي.66 د ډله ییزو بریدونو او ځمکنیو نښتو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې کموالي په ځانګړې ډول د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله بیرته لوړ شوي.

په ملکي تلفاتوکې مخ په ځوړ عمومي کلنی جریان په جګړه کې دکال په اوږدوکې تغییر او تبدیل رامنځ ته کوي. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمه یې کې، د دولت ضد عناصرو له خوا ملکي تلفات د ۲۰۱۸ په پرتله د پام وړکم وو. خو له دې سره سره، څرنګه چې دکال په دریمه ربعه کې د طالبانو او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ خبرو اترو دوام پرمختګ وکړ د جګړې په ډګرونوکې تاوتریخوالی هم زیات شو.67 د دولت ضد عناصرو له خوا نږدې نیمه یې ملکي تلفات دکال په دریمه ربعه کې اړول شوي. دغه زیاتوالی له لومړۍ، دویمې او څلورمې ربعو هغو سره په ښکاره مغایرت کې دی چیرې چې یوناما دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو

په ۲۰۱۹ کې د دولت ضد عناصرو له خوا دربعې پر اساس را منځ ته شوی ملکي تلفات



| | |
|---|---|
| د هغو پېښو له امله ملکي تلفات، چې طالبانو يې په ښکاره مسوولیت منلی | ۱۷۱۲ (۲۰۴ مړه او ۱۵۰۸ ټپیان) |
| طالبانو ته د هغو منسوب شويو پېښو له امله ملکي تلفات، چې طالبانو يې په ښکاره مسوولیت نه دی منلی | ۳۱۹۲ (۱۰۹۷ مړه او ۲۰۹۵ ټپیان) |
| د هغو پېښو له امله ملکي تلفات، چې داعش/د اسلامي دولت ډلې ـ خراسان ولایت يې په ښکاره مسوولیت منلی | ۷۸۸ (۱۸۱ مړه او ۶۰۷ ټپیان) |
| داعش/د اسلامي دولت ډلې ـ خراسان ولایت ته د هغو منسوب شويو پېښو له امله ملکي تلفات، چې دغې ډلې يې په ښکاره مسوولیت نه دی منلی | ۴۳۵ (۱۲۸ مړه او ۳۰۷ ټپیان) |
| دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات، چېرې چې په ښکاره دکوم لوري له خوا مسوولیت نه وي منل شوی یا يوې مشخصې ډلې ته منسوبونه شوني نه وي. | ۳۲۰ (۵۸ مړه او ۲۶۲ ټپیان) |

تلفاتوکې د پام وړ کموالي مستندکړي وو. د ۲۰۱۹ کال په دربیمه ربعه کې، یوناما د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر ثبت کړی له کوم وخت راهیسې يې چې په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي. په تاوتریخوالي کې دغه د پام وړ زیاتوالی د طالبانو له خوا د فعالیتونو د زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي، لکه په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې په بې توپیره ځانمرګو بریدونوکې زیاتوالی او دغه راز د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د رامنځ ته شويو ملکي تلفاتو ۷۶ سلنه طالبانو، ۱۹ سلنه د عراق او



شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې او پنځه سلنه نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.68

یوناما په دوامداره ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د مختلفو تکتیکونو په کارونې سره د بې توپیره بریدونو له ترسره کولو د ملکي تلفاتو لوړې کچې مستندکړي. په دغو تکتیکونوکې ملکي شیانو ته څیرمه د ځانمرګو او په سترو لاریوکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بریدونو ترسره کول؛ په ګڼ میشتو سیموکې غیر مستقیمې ډزې، کوم چې زیاتره وختونه بې توپیر اغیزې لري؛ او د قرباني په وسیله فعالیدونکي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه، کوم چې د تعبیه شویو ځمکنیو ماینونو په څیرکارکوي.

## لومړی: طالبان

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۴۹۰۴ ملکي تلفات (۱۳۰۱ مړه او ۳۶۰۳ ټپیان) مستندکړي چې د طالبانو له خوا د بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله طالبانو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په شمیر ۲۱ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. دا د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله (د ۲۰۱۸ په پرتله ۱۳۳ سلنه زیاتوالی) په ملکي تلفاتوکې د زیاتوالي او دغه راز د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله (۲۱ سلنه) په ملکي تلفاتوکې د زیاتوالي امله رامنځ ته شوی، کوم چې د ځمکنیو نښتو له امله (۱۹ سلنه) په ملکي تلفاتوکې کموالی بیرته پوره کوي. یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د وسله والې جګړې له امله د رامنځ ته شویو ټولو ملکي تلفاتو ۴۷ سلنه طالبانو ته منسوب کړې. دا په ۲۰۱۸ کال دغې ډلې ته د ۳۷ سلنه منسوب شویو تلفاتو په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

**د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د یوه کارمند تښتونه او وژنه69**

د سپټمبر پر ۳ نېټه، عبد الصمد امیري، په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ریاست سرپرست چې له کابل څخه یې غور ولایت د بس له لارې سفرکاوه، د میدان وردګو ولایت په جلریز ولسوالۍ کې وتښتول شو. د ښاغلي امیري له کورنۍ سره په همغږۍ کمیسیون له طالبانو سره د هغه د راخوشې کولو پر خبرو اترو بوخت و چې په رسنیوکې د سپټمبر پر ۵ د هغه د وژنې خبرونه خپاره شول. د یوناما له معلوماتو سره سم نوموړی د شا له خوا څلور مرمۍ ویشتل شوی و. د طالبانو د ملکي وګړو د ساتنې او سمع شکایت کمیسیون دغه قضیې څېړلې، چې پایلې یې د دغه راپور تر لیکنې پورې له خلکو سره نه دي شریکې شوې.

یوناما د ښاغلي امیري عمدي وژنه غندي او یو ځل بیا په کلکه د دې یادونه کوي چې د هغو ولسي وګړو قصدي وژنه څوک چې په مستقیم ډول په دښمنیو/شخړوکې ګډون نه کوي د بشرپالنې د نړیوال قانون له خوا منع او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي. سربېره پر دې، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون کارمندان، د بشري حقونو د یوې داخلي اداري دکارکوونکو په څیر چې د پاریس له اصولو سره سم فعالیت کوي، د بشري حقونو مدافعین ګڼل کیږي.70 په ورته ډول، له کومې محاکمې پرته د ښاغلي امیري وژنه یوه زړه بګنونکې کړنې ده.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي، چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون کارمندان، د بشري حقونو د یوې داخلي اداري په څیر په ملي کچه د ټولو هغو د حقونو د ساتنې او ودې خورا مهمه دنده لري، څوک چې په افغانستان کې ژوندکوي. یوناما د طالبانو له مشرتابه څخه غوښتنه کوي چې خپلو قوماندانانو ته د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون غړو اوکارمندانو د خوندي شوي وضعیت په اړه چټکې او څرګندې لارښوونې صادرې کړي، چې د هغوي په ضد ژر تر ژره د تهدیدونو،ګواښنې او تاوتریخوالي له هر ډول کړنو لاس په سر شي، څو ډاډمن کړي چې نوموړی کمیسیون کولی شي په خوندي او خپلواک ډول خپلې چارې ترسره کولی شي.

د اګست په پای او سپټمبر په پیل کې، طالبانو پر دریو ولایتي مرکزونو ـ کندز، پلخمري او فراه ښارونو ـ ستر یرغلیز بریدونه ترسره کړل، کوم چې له متحده ایالاتو سره د مذاکراتو سره هم مهاله ترسره شول. پرکندز ښار برید پر ولسي وګړو پراخ اغیز درلود چې د اګست له ۳۱ د سپټمبر تر ۱۱ پورې د جګړې په موده کې د ۹۹ ملکي تلفاتو (۲۰ مړه او ۷۹ ټپیان) لامل شو، چې ۵۵ ملکي تلفات (۱۳ مړه او ۴۲ ټپیان) یې طالبانو او ۴۴ ملکي تلفات (اووه مړه او ۳۷ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي، چې زیاتره یې د ځمکنیو نښتو له امله پېښ شوي.

## د رسنیو او مخابراتي شبکو په وړاندې بریدونه او ګواښونه

یوناما دکال په اوږدو کې د طالبانو له خوا پر رسنیو د بریدونو اوګواښونو له امله اندېښمنه ده، کوم چې په عام ډول د رسنیو او بیان پر ازادۍ هېښوونکی اغیز درلود. د جون پر ۲۵، د طالبانو نظامي کمیسیون یوه اعلامیه خپره کړه چې په افغانستان کې یې د رسنیو د هدف ګرځولو ګواښ کاوه،71 چې د یوناما او په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې له غندنې سره مخ شوه.72 په ۲۰۱۹ کال کې، د طالبانو له خوا د یوه ژورنالست تښتونه او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د برید له امله د یوه بل ژورنالست ژوبلونه طالبانو ته منسوب شوي.73

یوناما پر دې ټینګارکوي چې د بشرپالنې نړیوال قانون د ولسي وګړو په ضد بریدونه او داسې کړنې یا د تاوتریخوالي ګواښونه چې موخه یې د خلکو ترمنځ چې د په هغوکې د رسنیوکارمندان هم شامل دي، د ویرې او ډار خپرول وي په څرګند ډول منع کوي. سربیره پر دې، د بشري حقونو نړیوال قانون د ژورنالستانو د ژوند او ازادۍ د حقونو ملاتړکوي او دغه راز په شفاهي یا لیکلې بڼه د رسنیو له لارې د معلوماتو او نظریو د لېږد، تر لاسه کولو او تر خلکو د رسولو د ازادۍ پر بنسټ د هغوي دکار ملاتړکوي.

رسنیو ته پرګواښونو سربیره، طالبانو د ۲۰۱۹ په اوږدو کې پر مخابراتي شبکو خپل فشار او تهدید زیات کړي څو د هغوي له غوښتنو سره سم عمل وکړي، لکه د شپې له خوا د شبکو بندول او د اوږدې مودې لپاره د مخابراتي شبکو د خدمتونو له ستونزو سره مخ کول، په ځانګړې ډول د ولسمشریزو ټاکنو پرمهال. طالبانو په عمدي ډول د سلام په مخابراتي شبکې پورې اړوند زیربناوې او افراد په نښه کړي، کومه چې یوه دولتي شبکه ده او په عمومي ډول د نورو شبکو خلاف د طالبانو له غوښتنو سره سم عمل کول ردوي.74

د اګست پر ۲۶ نېټه، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه چې نوموړې شبکه او د هغې زیربناوې یې د نظامي اهدافو په څیر پیژندل، او په ډاګه کوله یې چې د دغې شبکې کارمندان د "استخباراتي اداري" د پرسونلو په څیرګڼل کیږي، او له هر چا سره چې د سلام سیم کارت ونیول شي په وړاندې به یې "قانوني اقدام" ترسره شي.75 د ۲۰۱۹ کال د جولای د ۲۳ او پاي تر منځ، یوناما اووه داسې پېښې مستندې کړي چې د سلام شبکې کارمندان، شتمني او دغه رازګټه د دغې شبکې ګټوونوال یې په نښه کړي. د سپتمبر پر ۲۵ نېټه د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې طالب جنګیالي د سلام مخابراتي شبکې پایې ته ننوتل. د پایې ساتونکی یې وواهه او وتاړه او په پایې پورې چاودیدونکي توکي وتړل. افغان ملي پولیسو مداخله وکړه، د پایې ساتونکي یې خوشې او مخکې له دې چې چاودیدونکي توکي وچوي، خنثی یې کړل. د سپتمبر پر ۲۸ د ټاکنو او تر هغې په وروسته ورځ، طالبانو دکندز ولایت په ګڼ شمیر ولسوالیوکې لږ تر لږه د مخابراتي شبکو ۲۵ پایې زیانمنې کړې.

***"د چهار شنبې د سهار شاوخوا ۱۰:۳۰ بجې وې؛ پر دې ورځ په ټولګي کې ۶۳ زده کوونکي موجود وو. ما د ټولګي په مخ کې یو څه تشریح کول او پر تخته مې لیکنه کوله، چې ناڅاپه د ټولګي په کونج کې یوه ستره چاودنه رامنځ ته شوه. د چاودنې زور زه د مخکې کتار پر چوکیو ور وغورځولم او زما پښې ټپي شوې. زه په هوښ وم او ومې کړای شول چې د ټولګي تر دروازې ځان ورسوم، خو کله چې تر هغه ځایه ورسیدم نور مې د تګ توان نه درلود. یو چا راسره مرسته وکړه لاندې د ودانۍ لومړي پوړ ته کښته شم. زه بې د غزني روغتون ته یوړم او زیاتې وینې د بهیدنې له امله روغتون ته پر لار بې هوښه شوم. ډاکټرانو ویل نږدې وه چې مړ شوی وای ".***

-- یو نارینه زده کوونکی څوک چې له ۲۰ ښځینه او شپږو نورو نارینه زده کوونکو سره یو ځای د غزني پوهنتون په یوه ټولګي د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو په برید کې چې د ۲۰۱۹ د اکتوبر پر ۸ ترسره شو، ټپي شوی و؛ د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت ومانه، چې د یوې فرقه ییزې انګیزې درلودونکې و.

## دویم: د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله

د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله لا اوس هم د هیواد په ختیځو سیمو په ځانګړې ډول په ننګرهار اوکونړ ولایتونوکې، چیرې چې پر محدودو سیموکنټرول لري، فعالیت کوي. یوناما همدارنګه د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې د بریدونو له امله په کابل76، غزني، هرات، لغمان او خوست ولایتونوکې ملکي تلفات مستندکړي. خو له دې سره سره دوي په ۲۰۱۹ کال کې د لوړې کچې د بریدونو د ترسره کولوکمه وړتیا ښودلې، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله چیرې چې یوناما د ریکارډ تر لوړې کچې شمیرې مستندکړې وې، دوي ته په منسوب شویو د ملکي تلفاتو په راکمونه کې مرسته کړې.77

د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته ۱۵۷ پیښې چې له امله یې ۱۲۲۳ ملکي تلفات (۳۰۹ مړه او ۹۱۴ ټپیان) رامنځ ته شوي، منسوب کړې چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۴۴ سلنه کموالی وړاندې کوي. دغه کموالی په عمده ډول د ډله ییزو بریدونو په کمېدون په ځانمرګو بریدونو او نورو هغوکې د کموالي له امله رامنځ ته شوی چې ولسي وګړي او ملکي ګڼ میشتې سیمې یې په نښه کولې. دغه بریدونه په ۲۰۱۸ کال کې د ۸۷ سلنې په پرتله په ۲۰۱۹ کال کې دغې ډلې ته د منسوب شویو ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړوي. خو له دې سره سره دغه کموالی د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو (۱۸۳ سلنه) او دغه راز د ځمکنیو نښتو (۷۴۲ سلنه) له امله دغې ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتوکې د پام وړ زیاتوالي له امله په جزئي ډول بیرته پوره شوی، چې د دغې ډلې د بدلیدونکو تکتیکونو ښکارندوي دی.78 د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوې امنیتي پیښې ورته نمونې منعکسوي لکه څرنګه چې ملګرو ملتونو په کابل، کونړ او ننګرهار ولایتونوکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کشفونو او چاودنو او همدارنګه د وسله والو نښتو لوړ شمیر ثبتوي.79 د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې له خوا بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه جوړوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله اته سلنه کموالی په ډاګه کوي.

د نومبر په میاشت کې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې په سلګونو جنګیالي له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د جګړې، د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو او تر یوې کمې کچې له طالبانو سره د ځمکنیو

نښتو د فشار له امله افغان ځواکونو ته تسلیم شول، چې دغه بهیر د ننګرهار ولایت په آچین ولسوالۍ کې پیل شو. د نومبر پر ۱۹، ولسمشر غني ادعا وکړه چې امنیتي ځواکونو په افغانستان کې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله په بشپړ ډول محوه کړه.80 د دسمبر پر ۴ نېټه، د متحده ایالاتو ځانګړي استازي پر خپل ټویټر پاڼه لیکلي و چې "د متحده ایالات/متحدینو او افغان امنیتي ځواکونو او دغه راز د طالبانو د موثرو عملیاتو له امله "د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله سیمه او جنګیالي له لاسه ورکوي.81 د موجوده شواهدو پر بنسټ، د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت پر ډلې د طالبانو د فشار رامنځ ته کولو ریکارډ مختلط دی او د نړیوالو نظامي ځواکونو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د عملیاتو په پایله کې د رامنځ ته شوي هغه په پرتله د پام وړ کم دی.

د ۲۰۱۹ د دسمبر په لومړیو کې، شاو خوا ۱۵۰۰ افراد چې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې سره تړلي وو د هیواد په ختیځو سیموکې تسلیم شول. د راپوروونو له مخې د تسلیم شویو ترمنځ، نږدې نیمه یې هغه یې بهرني اتباع وو.

افغان دولت د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې سره د تړاو په تور شکمن اشخاص تر څارنې او عدلي تعقیب لاندې نیولي. د راپوروونو له مخې له دغي ډلې سره تړلې ښځې او ماشومان د هغوي خپلوانو ته سپارل شوي. د دغه ډول بهرني تابعیت لرونکو ښځو او ماشومانو په تړاو د هغوي په ګډون چې په افغانستان کې زیږیدلي، د افغانستان پالیسي نه ده څرګنده. شاو خوا ۸۰ ښځې او ۱۴۰ ماشومان چې انګېرنو له مخې بهرني اتباع دي، په کابل کې توقیف ځایونو ته لیږدول شوي، چیرې چې به هغوي ښایي خپلو هیوادونو ته تر لیږدولو پورې پاتې شي. په داسې حال کې چې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډله یوه کمزوری ګواښ ګڼل کیږي او ختیځ ننګرهارکې یې د پام وړ شاتګ کړی، دغه ډله په بشپړ ډول له منځه نه ده تللې او په تیرکې یې د پام وړ مقاومت ښودلی، داسې اندېښنې هم موجودې دي چې نوموړې ډله ښایي په کونړ اوکابل ولایتونو کې ځای پر ځای شوې وي.

## ب. د هغو تکتیکونو او پېښو ډولونه چې د زیات ملکي زیان لامل شوي

### لومړی: تعبیه چاودیدونکي توکي (انتحاري او غیر انتحاري)

په ۲۰۱۹ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا په دواړو انتحاري او غیر انتحاري بریدونو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکارونې په لوړوکچو دوام درلود، چې دواړه په ګډه د ملکي تلفاتو دکال مخکښ لامل ګڼل کیدل، چې له امله یې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه رامنځ ته شوي. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د دواړو انتحاري او غیر انتحاري بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي ۴۳۳۶ ملکي تلفات (۸۸۵ مړه او ۳۴۵۱ ټپیان) مستند کړي.82 په داسې حال کې چې دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله د شپږ سلنې یو عمومي کموالي په ډاګه کوي، خو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د دواړو ډولونو له امله په یوه واحدکال کې طالبانو ته د منسوب ثبت شویو ملکي تلفاتو شمیر تر ټولو لوړوکچو ته رسیدلی، چې له امله یې ۳۰۸۳ ملکي تلفات (۶۰۳ مړه او ۲۴۸۰ ټپیان) اوښتي او د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵۸ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. د طالبانو په خلاف، د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د دواړو انتحاري او غیر انتحاري بریدونو دکېدې کارونې په پایله کې ۵۴ سلنه کم ملکي تلفات را منځ ته شوي.

> ***"کله چې د تیلو ټانک مخې ته د تېرېدو په حال کې وو، د یوې زره بګنونکې چاودنې غږ مو واورید. هر څه تیاره شول او د لوګیو بد بوی رامنځ ته شو. و مې لیدل چې زموږ دریو یا څلور ښځینه همکارانې لا وختي مړې شوې وې. د دوی کوټې په بشپړ ډول ماتې شوې وې، تر دې حده چې په سختۍ پېژندل کېدې. د دغې صحنې په لیدو بې هوښه شوم، کله چې په هوښ راغلم په روغتون کې وم. ما هلته درې ورځې تېرې کړې، د الله شکر مې ادا کاوه، او دغه راز مې د ولسي وګړو په ضد د تروریستانو د دغه بې توجیه کړنې په اړه فکر کاوه. زه د خپلو کوچنیو ماشومانو په اړه فکر کوم. که چیرې زه وژل شوی وای، چا به د هغوی پالنه کوله؟ له هغوی سره به څه پېښیدل؟ زه پر دې نه پوهېږم، دولت ضد عناصر ځانونه مسلمانان بولي، خو دوی د اسلامي آیډیالوژی د کوم مکتب پیروان دي؟ په پېښه کې زما سر ټپي شو. زه اوس هم تر طبي درملنې لاندې یم. ډاکټران را ته وایي چې د خپلې درملنې لپاره بهر (پاکستان یا هندوستان) ته لاړ شه، خوزه یې وس نه لرم."***
>
> -- په کابل ښار کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د برید یو قرباني چې د دولتي کارمندانو بس یې هدف ګرځولي و؛ په دغه برید کې اووه کسان ووژل شول او ۳۲ نور ټپي شول.

په داسې حال کې چې د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ټول بریدونه نه دي منع، خو چې په کوم ډول کارول کیږي زیاتره په برید کې د توپیر، تناسب او احتیاطي تدابیرو له اصولو سرغړونه کوي.83 ځانمرګي بریدونه معمولا د دې لپاره طرحه کیږي چې په عمدي ډول د ملکي وګړو ګڼې ګوڼې په نښه کړي خو یې پر هغوي له زیانه ډک اغیز زیات کړي، چې د زیاتې ټولنیزې ګډوډۍ او مهمو زیربناوو ته د زیان لامل کیږي. که کله هم د مشروع نظامي اهدافو په وړاندې وکارول شي، زیاتره یې بې توپیره اغیزې لري، لکه په زیاته کچه د چاودیدونکو توکو کارونه چې پراخه سیمه اغیزمنوي؛ په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې تصادفي چاودنه، څرنګه چې دغه کار د تعبیه شویو یا "کور جوړ" چاودیدونکو توکو سره د تعامل په قضیو رامنځ ته شوی؛ اوکله چې ځانمرګي بریدګر د یوه داسې تکتیک په څیر څو یو امنیتي کمربند مات کړي په داخل کې د پام وړ هدف ته ځان ورسوي، په عمدي ډول په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي نظامي هدو ته څیرمه یا بهر چوي. پر دې سربیره، د چاودیدونکو توکو فشاري تختې چې د قرباني په وسیله فعالیږي، په طبیعي ډول بې توپیره دي او له همدې امله کارونه یې هر وخت ناقانونه ګڼل کیږي.

د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو دواړه بې توپیره او نا متناسب بریدونه که انتحاري وي یا غیر انتحاري، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي. یوناما پر دولت ضد عناصرو غږکوي چې په ګڼ میشتو ملکي سیموکې د هغې دکارونې په ګډون، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او نا متناسبه کارونه، او ژر تر ژره د قرباني په وسیله د چاودیدونکو توکو د فشاري ماین کارونه او په عمدي ډول د ولسي وګړو او ملکي شیانو په نښه کول پای ته ورسوي.

**د ځانمرګو چاودیدونکو توکو له امله د ملکيوګړو تلفات ۲۰۱۴ – ۲۰۱۹**




## ځانمرګي بریدونه

په ۲۰۱۹ کال کې، د دولت ضد عناصرو له خوا د ډله ییزو بریدونو په ګډون ځانمرګو بریدونو ۲۰۷۸ ملکي تلفات (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۶ سلنه کموالي ورانديې کوي. دغه کموالي په اصلي ډول د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا په ځانمرګو بریدونو کې د عمده کموالي له امله رامنځ ته شوی.84 له بلې خوا د طالبانو له خوا په ۲۰۱۹ کال کې ځانمرګي بریدونه د پام وړ زیات شوي، لکه څرنګه چې د هغوی له خوا په سترو لاریوکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکارونه زیاته شوې.

یوناما په ۲۰۱۹ کال د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله ۱۴۹۹ ملکي تلفات (۱۶۵ مړه او ۱۳۳۴ ټپیان) مستندکړ، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۳۳ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.85 له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندول پیل کړل، دا د طالبانو له خوا د دغه تکتیک له امله د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ثبت شوی شمیر دی.

**د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر پر ۱۹ د زابل ولایت په قلات ښارکې یو بې توپیره ځانمرګی موټر بم برید چې له امله یو روغتون اغیزمن شوی**

**"د سهار ۵:۱۵ بجې وې، د سهار تر لمانځه وروسته له جوماته راووتم چې د یوې سترې چاودنې غږ مې واورېده. [...] تر یو څه وخت وروسته کله چې کور ته ورسیدم، زما د کورنۍ شپږ غړي چې په کور کې پراته دي او ماتې شویو شیشو له امله ټپي شوي. ما په کور کې د هغوی درملنه پیل کړه. بیا ما ته د خپلوګاونډیو شا و خوا ۱۰ نفر راوړل شول چې د ماتو شویو شیشو له امله ټپي شوي وو. شیبه وروسته مې یو زنګ تر لاسه کړ چې له هغو قربانیانو سره مرسته وکړم چې تر نړېدلې ودانۍ لاندې بند پاتې وو. زه هلته د لومړنیو مرستې له بستې سره یو ځای لاړم."**

–– د ځانمرګي برید د قربانیانو ډاکټر او خپلوان

د سپټمبر پر ۱۹ د زابل ولایت په قلات ښارکې طالبانو د ملي امنیت ولایتي ریاست په موټرکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ځانمرګي برید په واسطه په نښه کړ، چې د ولایت روغتون څخه د ۲۰ متری په واټن کې وچاودید. د دغې چاودنې اغیز خورا پراخ و، چې د لږ تر لږه دووه ماشومانو په ګډون ۲۸ ملکي وګړي یې ووژل او د لږ تر لږه ۳۳ ماشومانو او ۲۷ ښځو په ګډون ۱۳۰ ملکي وګړي یې ټپي کړل. زیاتره قربانیان ناروغان او د هغوی دکورنیو غړي، ډاکټران، نرسان او د روغتیا پالنې نور کارمندان وو. د ولایت روغتون ودانۍ سخته زیانمنه شوې، امبولانسونه او نور اړین طبي سامان الات ویجاړ شوې. روغتون باید د عامې روغتیا ریاست ته نقل مکان شوی وای. د ټپیانو ترمنځ د روغتیا پالنې ۱۹ کارمندان هم شامل وو.

طالبانو پر خپلې ټویټر پاڼه د پېښې مسوولیت پر غاړه واخیست او د ملي امنیت ریاست یې د خپل هدف په څیر په ډاګه کاوه، خو دا یې هم منله چې "ولایتي روغتون ته هم یو څه زیان اوښتی." په اعلامیه کې افغان دولت د دې لپاره ګرم ګڼل شوي چې د ملي امنیت د ریاست ودانۍ په یوه ملکي میشتې سیمه کې ځای پر ځای شوې.86

د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتوکمیسیون د دغې پېښې څېړنه وکړه او سیمې ته یې یو پلاوي په روغتون کې له افرادو، ناروغانو، زده کوونکو او نورو سره د خبرو اترو ترسره کولو لپاره واستوه. د دوی له موندنو سره سم، په دغه بریدکې ۱۷ ملکي وګړي وژل شوي و ۱۳۰ نور ټپي شوي وو. د راپورونو له مخې د پېښې مرتکب پخپله په پېښه کې وژل شوی.

یوناما پر دې ټینګارکوي چې د جګړې ښکیلې خواوې د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د دې مکلفیت لري چې د برید د ترسره کولو پرمهال د احتیاط او تناسب اصولو ته درناوی وکړي. ولسي وګړو او ملکي شیانو ته د ملي امنیت د ریاست په څیر د نظامي شیانو نږدیوالی باید د زیان د مخنیوي په موخه د ټولو ممکنه احتیاطي تدابیرو سره یو ځای د عملیاتو پلانولو او ترسره کولو پرمهال په پام کې نیول شوی وای. په هستوګنیزې سیمه کې د ملي امنیت د ریاست ودانۍ شتون دغه مکلفیتونه نه نفي کوي او نه هم یو داسې برید توجیه کولی شي چې دغو اصولو ته درناوی نه کوي. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د طبي مرکزونو او ترانسپورت لپاره ځانګړی ملاتړ او ساتنه برابره شوې. بې توپیره او بې تناسبه بریدونه د بشرپالنې له نړیوال قانون جدي سرغړونې دي او ښای جنګي جرمونه وشمیرل شي.



د سپټمبر پر ۱۹ د زابل ولایت د قلات په ښارکې د ملي امنیت پر ریاست د طالبانو د برید په پایله کې امبولانسونه ویجاړ شوي. روغتون او ناروغان دواړو سخت زیانمن شوي. انځور: نثار احمد څپاند

د ډله ییزو بریدونو په ګډون، له ۲۶ ځانمرګو بریدونو له جملې طالبانو په ښکاره د ۲۳ هغو مسوولیت پر غاړه اخیستی، چې د یوناما له خوا دغې ډلې ته له ۱۴۹۹ منسوب شویو ملکي تلفاتو څخه د ۱۴۳۷ هغو لامل شوي. په تیرکې، کله چې به طالبانو دکومې پېښې مسوولیت ومانه، خو بیا به یې رامنځ ته شوي ملکي تلفات ردول. په استثنایي ډول، طالبانو د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر پر ۱۹ نېټه د زابل ولایت په قلات ښارکې د ملي امنیت پر ریاست په موټرکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ځانمرګي برید له امله پر رامنځه ته شویو تلفاتو د هغوي د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتوکمیسیون له خوا تر څېړنو وروسته، اعتراف وکړ (لاندې برخه وګورئ).

## د لاس جوړ پرسونل ضد ماینونو په ګډون، غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي

***"موږ د خاکریز ولسوالی اداري مرکز ته څېرمه د شاه آغا زیارت ته تلو. شا و خوا د ماسپښین ۱:۰۰ بجه وه موږ خپل منزل ته په رسیلو وو. له باغ پل کلي څخه زما کلیوال په دوو نقلیه وسیلو کې سپاره وو. موږ به شاوخوا ۱۰۰ کسان وو، ځانونه مو نه وو شمیرلي. پیسې موږ نه درلودې څو زیات موټر کرایه کړو. زموږ سره زیاتره ښځې او ماشومان وو. تر دې وروسته بیا نو چاودنه رامنځ ته شوه. [په ژړا کیږي]. د خپلو کورنیو د جسدونو غړي مو په هر ځای وموندل. بیا به هیڅکله دغه ځای ته لاړ نشو."***

-- د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۱۵ د کندهار ولایت په خاکریز ولسوالی د طالبانو له خوا د فشاري تختې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو یوه خلوبښت کلنه ښځینه قرباني، په پېښه کې ۱۳ ملکيوګړي ووژل شول او ۴۰ نور ټپي شول؛ دغې ښځې د خپلې کورنۍ پنځه غړي چې ټول یې ماشومان وو، له لاسه ورکړل.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د غیر انتحاري بریدونو له امله ولسي وګړو ته د زیان لوړې کچې مستندکړې. د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما له دغو وسیلو څخه ۲۲۵۸ ملکي تلفات (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) مستندکړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ټولو ملکي تلفاتو ۲۲ سلنه برخه جوړوي، چې زیان یې د ډله ییزو بریدونو په ګډون له ځانمرګو بریدونو اوړي او تر ځمکنیو نښتو وروسته د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل ګڼل کیږي.

دواړو طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې په ۲۰۱۹ کال کې د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکارونه زیاته کړې. د دغه تکتیک له امله طالبانو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۲۱ سلنه او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې منسوب شوي ملکي تلفات ۱۸۳ سلنه زیات شوي. په عمومي ډول، لا اوس هم طالبان د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې په پرتله د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د درې برابره زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي او د دغو وسیلو څخه د ملکي تلفاتو دویم تر ټولو زیات زیان دې چې یوناما تر اوسه د دغې ډلې لپاره ثبت کړی.87 د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د مقناطیسي او ریموټي بمونوکارونه په ځانګړې په ۲۰۱۹ کال کې زیاته شوې، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله په ترتیب سره د ۴۸ سلنې او ۳۸ سلنې نورو ملکي تلفاتو لامل شوې.

## د پرسونل ضد ماینونو په څېر کارکونکي، په لاس جوړ چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه

> *"د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۸، دسرک پر غاړه ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي وچول او زما ۱۳ کلن زوی یې سخت ټپي کړ. دغه چاودیدونکي توکي یو لیسې ته څېرمه چې انتخاباتي مرکز په کې موقعیت درلود ځای پر ځای شوي وو او هغه مهال وچاودیدل کله چې هغه خر چې زما زوي پرې سپور و پر دغو توکو وخوت. موږ یوه خورا بې وزله کورنۍ یو او زما خاوند د کار کولو ورتیا نه لري. زما زوی پر خره کچالان بار کړي وو. زه د هغه لپاره ډېره اندېښمنه یم او هیله لرم چې هغه بیرته ژر ښه شي. خدای مه کړه که چیرې د سترګو دید له لاسه ورکړي، زه به مړه شم. هغه زموږ د کلي په ښوونځي کې د اتم ټولګي زده کوونکی دی."*
>
> -- د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۸ د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال، د تعبیه شویو چاودیدونکو د پېښې د قرباني خپلوان، چې له امله یې یو هلک د بدخشان ولایت په راګو ولسوالۍ کې ټپي شو.

یوناما په دوامدار ډول د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله ملکي وګړو ته د اوښتي زیات زیان په اړه اندېښنې راپورته کړي په مکرر ډول یې پر دولت ضد عناصرو د دغه ډول وسلو د کارونې زر تر زره پر پاي ته رسولو غږ کړی. په داسې حال کې چې د دغو وسیلو له امله ملکي تلفات مخ په کمیدو دي، خو د ماشومانو په ګډون ملکیانو ته یې ضرر لا اوس د پام وړ پر خپل حال پاتې دی.

په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله ۶۵۰ ملکي تلفات (۲۷۵ مړه او ۳۷۵ ټپیان) مستندکړي،88 چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د دغو تلفاتو له جملې ۹۶ سلنه یې طالبانو ته منسوب شوي، چې ۶۲۱ ملکي تلفات (۲۶۵ مړه او ۳۵۶ ټپي) ورانديې کوي.

د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري تختې د قرباني په وسیله د فعالیدو خاصیت لرونکې دي او د یوه مشخص نظامي هدف په لور نه شي رهنمايي کیدای او د ملکي وګړو او جنګیالو ترمنځ توپیر نه شي کولی. طالبانو په دې ورروستیو کلونوکې په ډاګه کړې چې دوی د دغو وسلو په کارونه کې احتیاطي تدابیر په پام کې نیسي خو ملکیانو د زیان مخه




**په ۲۰۱۹ کې د فشاري ماینونو له امله رامنځ ته شوي ملکي تلفات**



*د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۱۵ نېټه د کندهار ولایت په خاکریز ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په یوه برید کې ټپي شوی ماشوم قرباني په امبولانس کې وړل کيږي. دغه فشاري ماین د دوي د موټر پر کاروان داسې مهال وچاودید کله چې دوي یوه زیارت ته پر لار وو. په دغې چاودنه کې ۱۳ ملکيوګړي ووژل شول او ۴۰ نور ټپي شول. انځور: نعمان*

ونیسي، لکه د سرکونو بندول، خلکو ته خبرداری ورکول چې د مشخصو لارو څخه راشه درشه و نه کړي، او په دغو وسیلو کې په کمه کچه د چاودیدونکو توکوکارونه. خو له دې سره سره بیا هم دا څرګنده ده، چې د دغو وسیلو د قرباني په وسیله د فعالیدو ماهیت له امله، هیڅ اندازه احتیاطي تدابیرکافي نه دي، څو د هغه زیان کچه راکمه کړي چې دغه وسیلې ملکي وګړي ورسره مخ کوي.

د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر پر لومړۍ نېټه د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې پر یوې رکشا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماین وچودکوم چې د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوی و. د دې پېښې له یو ۵۰ کلن ملکي ملا امام و وژل شو او دو نور سړي ټپي شول، سره له دې چې طالبانو ځایي خلکو ته د دغه سرک د نه کارولو خبر ورکړی و. د ۲۰۱۹ کال د دسمبر پر ۱۳ نېټه، د غزني ولایت په جغتو ولسوالۍ کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماین چې د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوی و له دایکندي څخه غزني ته پر لار پر یوه مني بس وچاودید. په دغې چاودنه کې لس ملکي وګړي (پنځه سړي، درې ښځې، یوه نجلۍ او یو هلک) ووژل شول او نهه نور (شپږ سړي، دوه هلکان او یوه نجلۍ) ټپي شول. دغه پېښه په داسې حال کې رامنځ ته شوې

چې یو شمیر سرچینې ادعا کوي چې نوموړی سړک د طالبانو له خوا بند شوی و.

د ملکي نقلیه وسیلو په وړاندې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونو د چاودنو سربیره، د یوناما اسناد ښیي چې دغه وسلې همدارنګه د تعبیه شویو پرسونل ضد ماینونو په څیر هم کارول شوي چې آن مازې د یوه ماشوم د وزن له امله هم چوي. د مثال په ډول د ۲۰۱۹ د اکتوبر پر ۲۷، د فاریاب ولایت په پښتون کوټ ولسوالۍ کې یو هلک د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو پر فشاري ماین وخوت چې د هغه او څلورو نورو هلکانو چې عمرونه یې د ۱۳ او ۱۵ کلونو ترمنځ وو د مړینې او د یوه بل لس کلن د ژوبلې لامل شو. دغه وسیله د طالبانو له خوا پر یوه عمومي سړک د ملي اردو یوې پوستې ته څیرمه ځای پر ځای شوی و څو نظامي پرسونل هدف وګرځوي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي، چې د پرسونل ضد ماینونو د کاروني د مخنیوي، زیرمه کولو او لیږد او د هغوي د له منځه وړلو د کنوانسیون ("د ماینونو د بندیز تړون") تر تصویب یوکال وروسته، ملا عمر یوه اعلامیه خپره کړه چې د ځمکنیو ماینونوکارونه یې غندله، د ملکي وګړو په وړاندې یې د هغوي ویجاړوونکی څواک پیژنده، او د هغوي پرکارونه یې د بشپړ بندیز غوښتنه کوله او په ډاګه کوله یې چې هر څوک چې دغه ماینونو د شخصي، سیاسي یا د بل کوم هدف لپاره کاروي، له اسلامي شریعت سره به سم مجازات شي. دغه اعلامیې د ماینونو د بندیز له تړون سره خپل غښتلي ملاتړ په ډاګه کړ. طالبان لا اوس هم د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه کاروي کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په څیرکارکوي. یوناما له طالبانو غوښتنه کوي چې زر تر زره د دغو وسیلوکارونه ودروي او خپلې هغه پخوانۍ ژمنې رعایت کړي چې د هغوي د بندیز لپاره یې ترسره کړې وې.

## دویم: هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي

دولت ضد عناصرو د مختلفو تکتیکونو په کارونې سره د مشخصو افرادو له عمدي هدف ګرځونې نیولې د ډزو، مقناطیسي او ریموټي بمونو، او تر ځانمرګو بریدونو پورې چې په پراخه کچه د ملکي وګړو ګڼه ګونې په نښه کوي په ۲۰۱۹ کال کې پر ولسي وګړو عمدي بریدونه جاري ساتلي.

د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ملکي وګړو د عمدي په نښه کولو څخه ۲۸۳۲ ملکي تلفات (۸۱۷ مړه او ۲۰۱۵ ټپیان)89 مستندکړي چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳۱ سلنه کموالي په ډاګه کوي. دغه کموالی په عمده ډول د عراق او شام د اسلامي دولت ـ د خراسان ولایت ډلې له خوا د ملکیانو د غونډو ترمنځ د ډله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې دکموالي په پایله کې رامنځ ته شوي.  هغه ځانمرګي بریدونه چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي د ۱۰۳۲ ملکي تلفاتو (۲۷۱ مړه او ۷۶۱ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵۷ سلنه کموالی ښیي. د ملکي وګړو له عمدي هدف ګرځونې له امله هغه ملکي تلفات چې طالبانو90 ته منسوب شوي شپږ سلنه راکم شوي په داسې حال کې هغه چې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ د خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي ۴۸ سلنه راکم شوي.

له عمومي کموالي سره سره، یوناما په ځانګړي ډول د قاضیانو او څارنوالانو، روغتیایي کارمندانو او مرستندویه کارکوونکو په وړاندې د عمدي هدف ګرځونې له بریدونو څخه په ملکي تلفاتوکې له زیاتوالي او دغه راز د شیعه مذهبه مسلمانانو په وړاندې د دوامدارو بریدونو له امله اندېښمنه ده. د ولسمشریزو ټاکنو مخکې او د ټاکنو پر مهال د رایه اچوونکو، دکمپاین کارمندانو، نوماندانو او نورو هغو چې په انتخاباتي

پروسه کې ښکیل وو بریدونو د ګډوډیو هغه هیښوونکي جریانونه جاري ساتلي کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې د ولسي جرګې د ټاکنو پرمهال ثبت شوي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې پر ملکي وګړو او ملکي شیانو عمدي بریدونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې ګڼل کیږي او ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي. سربیره پر دې، کله چې دا د ملکي وګړو په وړاندې د پراخو یا سیستماتیکو بریدونو د یوې برخې په څیر ترسره شي، دغه ډول کړنې ښایي د بشریت پر ضد جرمونه تشکیل کړي. په ځانګړي ډول، کله چې دغه بریدونه د دین یا نورو پیژندل شویو دلایلو پر بنسټ د تشخیص وړ ډلې په ضد لکه شیعه مذهبه لړکیو په وړاندې ترسره شي، دغه ډول بریدونه ښایي د ظلم او ستم جرم وګڼل شي.

## دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۹ کال کې د مختلفو تاکتیکونو په کارولو سره په عمدي ډول پر ملکیانو او ملکي شیانو خپلو بریدونو ته دوام ورکړ.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د قضایي قوې د غړو په ضد د عمدي په نښه کونې ۱۷ پېښې مستندکړې، چې له امله یې ۳۱ ملکي تلفات (۲۰ مړه او ۱۱ ټپیان) رامنځ ته شوي، کوم چې په ۲۰۱۸ کال د پنځو دغو ډول پېښو په پرتله زیاتوالی په ډاګه کوي، چې له امله یې پنځه مړینې رامنځ ته شوې وې. د نومبر پر ۷ نېټه، د لوګر ولایت په محمد آغه په ولسوالۍ کې د دریو قاضیانو او د پکتیا محکمې د سکرتریت د یوه کارمند په ګډون د پکتیا ولایت د قضائیه قوې څلور غړي د طالب جنګیالیو له خوا هغه مهال ووژل شول کله چې کابل ته په یوه شخصي موټرکې پر لار و. د سپتمبر پر ۵ نېټه، په نوموړې ولسوالۍ کې د پکتیا محکمې یو بل کارمند په خپل کور کې د ۱۵ طالب جنګیالیو له خوا چې نظامي یونیفورم یې پر ځان، مخونه یې پټ او پرکلاشنیکوفونو سمبال وو، په ډزو سره ووژل شو. دوی دکارمندکور ته د شپې راغلي وو چې ځینې یې پر بام ختلي وو او نورو یې دکور دروازه وټکوله. کله چې د قرباني وررور دروازه پرانیزي دوی هغه نیسي، د محکمې کارمند وژني او موټر یې اخلي او له سیمې څخه ځي.

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د دوو پېښو په پرتله په کومه کې چې دوه ملکي تلفات (یو مړ او یو ټپي) یې رامنځ ته کړي وو، په ۲۰۱۹ کال کې د روغتیایي کارمندانو د عمدي په نښه کولو اته پېښې مستندکړي چې له امله یې ۲۲ ملکي تلفات (نهه مړه او ۱۳ ټپیان) رامنځ ته شوي.91 د اپریل پر ۴ نېټه د بغلان ولایت په پلخمري ښارکې د یوه ډاکټر په شخصي کلینیک کې یو ریموټي بم وچاودید، چې ډاکټر یې وواژه او د یوې ښځې په ګډون شپږ نور ناروغان یې ټپي کړل.92 د یوناما له خوا د راغونډو شویو معلوماتو سره سم، شاو خوا شپږ میاشتې پخوا، د دغه ولایت لپاره د طالبانو د تش په نامه د والي د مرستیال زوی د ملي امنیت د ریاست له خوا ونیول شو. طالبانو پر دغه ډاکټر فشار راوړ چې د هغه د زوی رواني بې ثباتي تاییدکړي، خو هغه یې خبره و نه منله، چې په مرګ وګواښل شو. یوناما دغه پېښه طالبانو ته منسوب کړې.

یوناما د تښتونې د یوې پېښې په ګډون د دولت ضد عناصرو له خوا ، په عمدي ډول د رسنیو د کارمندانو د په نښه کولو پنځه پېښې مستندکړې چې له امله یې د ژورنالستانو او رسنیو دکارمندانو په ګډون اته ملکي تلفات (یو مړ او اووه ټپیان) رامنځ ته شوي. په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما درې دغه ډول پېښې مستندکړې وې چې د رسنیو دکارمندانو په ګډون د ۲۲ تلفاتو (۱۲ مړه او ۱۰ ټپیان) لامل شوي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۹ کال د اګست پر ۴ نېټه، د مازدیګر شا و خوا ۴:۰۰ بجې دکابل ښار په څلورمه ناحیه کې په یوه بایسکل کې ځای پر ځای

شوي د ریموټي بم چاودنې هغه بس په نښه کړ چې د خورشید خصوصي تلویزیون کارمندان یې انتقالول. په دغې چاودنه کې دوه سړي، د ټکسي یو چلوونکی او د ځایي تیلو ټانک دوه کارمندان ووژل شول او د خورشید تلویزیون درې کارمندان ټپي شول. د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست.93

## ولسمشریزې ټاکنې

یوناما د ملکي وګړو او ملکي شیانو د عمدي هدف ګرځولو په ګډون د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله پر ملکي وګړو د پام وړ اغیز له امله اندېښمنه ده، چې زیاتره د طالبانو له خوا رامنځ ته شوی. د نوم ثبتونې پروسې د پیل سره سم چې د جون پر ۸ نېټه پیل شوه د ۲۰۱۹ کال تر پای، یوناما د ټاکنو اړوند ۲۷۷ پېښې تاییدکړي چې د ۴۷۴ ملکي تلفاتو (۹۱ مړه او ۳۸۳ ټپیان) او ۲۴ تښتونو لامل شوي. یوناما د ټولو ۲۴ تښتونو په ګډون، د ۲۷۷ پېښو له جملې ۲۶۶ هغه یې طالبانو ته منسوب کړي چې د ۳۹۱ ملکي تلفاتو (۷۰ مړه او ۳۲۱ ټپیان) لامل شوي. د ټاکنو اړوند یوه ملکي ژوبله د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې او یوه دولت پلوه وسله والې ډلې ته منسوب شوي. د جولای پر ۲۸ نېټه په کابل کې د زرغون بهیر د سیاسي ګوند پر دفتر د مسوولیت نا منل شوي ډله ییز برید په پایله کې د ۷۱ ملکي تلفاتو (۲۱ مړه او ۵۰ ټپیان) په ګډون، پاتې ملکي تلفات نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

د ټاکنو له ورځې مخکې، د ښوونکو او زده کوونکو په ګډون افغان اتباعو ته یو جدي ګواښ خپور کړ چې له ټاکنیزې پروسې خپل ځانونه لرې وساتې څو د هغوي د نظامي عملیاتو له زیان څخه وژغورل شي.94 د بشرپالنې نړیوال قانون په صراحت سره وایي چې د جګړې ښکیلې خواوې باید مخکې له مخکې د هغو بریدونو په اړه موثر خبرداري ورکړي چې ښایي ولسي وګړي اغیزمن کړي، مګرکله چې شرایط د دغه کار اجازه ور نه کړي.95 په داسې حال کې چې د خبرداري ورکولو مکلفیت مطلق نه دی، هر صادر شوي خبرداری باید موثر وي؛ خبرداری هغه مهال موثرګڼل کیږي چې پرهغه د عمل کولو قابلیت ولري.96 د طالبانو له خوا د ټاکنو پر ورځ ترسره شویو بریدونو د خپل پراخ او بې توپیره ماهیت له امله هر ډول خبرداری بې اغیزې کړ؛ آن هغه چې د ټاکنو له پروسې یې ځانونه لرې ساتلي وو، لا اوس هم د زیان له جدي ګواښ سره مخ وو. سربېره پر دې، پر انتخاباتي مرکزونو د بریدونو د ارادې په اړه ملکي وګړو ته خبرداري ورکول د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د جګړې اړونده خوا د نورو مشخصو احتیاطي تدابیرو په ګډون، د خپلو مکلفیتونو له رعایت کولو څخه نه خلاصوي.

د سپټمبر پر ۲۸ د ټاکنو پر ورځ، یوناما په ټول افغانستان کې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي ۱۰۴ پېښې تاییدکړي چې د ۲۸۱ ملکي تلفاتو (۳۱ مړه او ۲۵ ټپیان) لامل شوي. د قربانیانو له یو پر درې برخې څخه زیات هغه یې ماشومان وو. یوناما دغه راز د ټاکنو پر ورځ دګواښونو، تهدیدونو او ځورونې ۹۳ پېښې مستندکړي، چې په عمده ډول انتخاباتي مرکزونو ته څېرمه د چاودیدونکو توکو له ځای پر ځای کولو، همدارنګه له ګډون څخه د رایه اچوونکو د مخنیوي په هڅه د غیر مستقیمو وسلو په ګذارولو سره د ولسوالیو د اداري مرکزونو او انتخاباتي مرکزونو له هدف ګرځونې څخه جوړ وو. د ټاکنو پر ورځ د ټاکنو اړوند پېښو څخه زیاتره رامنځ ته شوي ملکي تلفات ــ ۹۷ سلنه ــ طالبانو ته منسوب او پاتې نور یې د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د ډزو تبادلې او یوه پېښه دولت پلوه وسله والې ډلې ته منسوب شوي.97

په ۲۰۱۸ کال کې د ولسي جرګې د ټاکنو پر مهال د مستند شوي جریان په تعقیب، یوناما په ګڼ میشتو ملکي سیموکې د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله کومې چې د بې توپیره اغیز درلودونکې دي، د ملکي وګړو د زیان پام وړ کچې مستندکړې. یوناما له اندېښنې سره د دې یادونه کوي چې لږ تر لږه ۸۵ ملکي وګړي (۱۲ مړه او ۷۳ ټپیان) په خپلوکورونو کې له انتخاباتي پروسې لیرې د دغو پېښو له امله زیانمن شوي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې ټاکنیزه پروسه یوه ملکي دنده ده. د ټاکنو لپاره کارول شوي مرکزونه او ودانۍ نظامي موخې نه دي او له همدې امله له بریدونو خوندي دي. د ملکي وګړو او ملکي شیانو هر ډول عمدي په نښه کول ښایي جنګي جرمونه وګڼل شي. له کوم تبعیض او نا موجهو محدودیتونو پرته د نوماندانو، رایه اچوونکو یا د ټاکنو د کارمندانو په څیر په ټاکنوکې ګډون کول یو بشري حق دی چې د بشري حقونو تر نړیوال قانون او افغان لاندې تضمین شوی. سربیره پر دې، د یوې ټاکنیزې پروسې لپاره د ټولو افرادو ــ رایه اچوونکو، نوماندانو، د هغوی د ملاتړو او د ټاکنوکارمندانوــ دا حق خورا مهم دی چې د رایه ورکوونکو او نوماندانو له ثبت نیونې تر رایې اچونې او تر ټاکنو تر وروستۍ مودې پورې په ټولو پړاونوکې د ویرې او تهدیدونې څخه ازاد او خوندي وي.98

د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د دغې موضوع په اړه د یوناما ځانګړی راپور(اکتوبر ۲۰۱۹) وګورئ.

## هغه بریدونه چې عبادت ځایونه، دیني مشران او عبادتکوونکي په نښه کوي

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ۲۰۱۸ کال په پرتله د هغو بریدونو له امله چې عبادت ځایونه، دیني مشران او عبادت کوونکي99 یې په نښه کړي په ملکي تلفاتوکې ۴۸ سلنه کموالی مستند کړي، چې دغه کموالي عمدتا د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا په دغو بریدونوکې د کموالي له امله رامنځ ته شوي.100 په ټولیز ډول، د دولت ضد عناصرو له خوا ۲۰ بریدونه د ۲۳۶ ملکي تلفاتو (۸۰ مړه او ۱۵۶ ټپیان) لامل شوي، چې زیاتره (۶۵ سلنه) یې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې له خوا اړول شوي. له عمومي کموالي سره سره، د طالبانو له خوا د دغه ډول بریدونو له امله ملکي تلفات له دوه برابرو څخه زیات شوي.101

ځانمرګي بریدونه د هغو بریدونو لپاره د پېښې د نوعیت مخکښې هغه دي چې عبادت ځایونه، دیني مشران او عبادت کوونکي یې په نښه کړي، چې له امله یې ۱۲۷ ملکي تلفات (۶۲ مړه او ۶۵ ټپیان) رامنځ ته شوي.102 د مثال په ډول، د اکتوبر پر ۱۸ نېټه د ننګرهار په ده بالا ولسوالۍ103کې په یوه جومات کې ځانمرګي برید ۱۱۹ ملکي تلفات (۶۱ مړه او ۵۸ ټپیان) واړول، چې په ۲۰۱۹ کال کې د دغه ډول د ټولو تلفاتو له نیمه یې څخه زیات جوړوي. بریدګر په ځان پورې د چاودیدونکو توکو ډک واسکټ د جمعې د لمانځه پرمهال په جومات کې وچوه. د تلفاتو ترمنځ، ۲۰ ماشومان وژل شوی او ۱۰ نور یې ټپي شوي. یوناما دغه پېښې د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړې.

یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارونې په وسیله د عبادت ځایونو، دیني مشران او عبادت کوونکو په نښه کولو شپږ پېښې مستندکړي چې ۸۸ ملکي تلفات (۶ مړه او ۸۲ ټپیان) یې اړولي. د مئ پر ۲۴ نېټه، په کابل کې په التقوی جومات کې ځای پر ځای شوی ریموټي بم چاودنه وکړه چیرې چې د جمعې لمانځه پر مهال له ۷۰۰ زیات وګړي راغونډ شوي وو. چاودیدونکي توکي په منبرکې ځای پر ځای

شوي وو چېرې مشهور ديني عالم مولوي ريحان لمونځ ورکاوه. د دغې چاودنې په پايله کې نومونړی او دوه نور ملکيان ووژل شول او ۳۴ نور ټپي شول. مولوي ريحان د افغان ملي امنيتي ځواکونو په ملاتړ او د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې باندې په نېوکې کولو مشهور و. يوناما دغه پېښه طالبانو ته منسوب کړې.

يوناما دغه راز د داسې پېښو له امله په کوموکې چې ديني مشران او عبادت کوونکي په نښه او ويشتل شوي، ۱۷ ملکي تلفات (۱۰ مړه او ۷ ټپيان) مستندکړي. د مثال په ډول، د جون پر ۲۷ نېټه، يو ديني مشر ځوک چې همدارنګه د حج او اوقافو د رياست سرپرست هم و، د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښارکې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې له خوا په ډزو سره ووژل شو.104

د ملکي وګړو او ملکي شيانو پر ضد د بريدونو د نړيوال قانوني ممنوعيت سربيره، د بشرپالنې نړيوال قانون او جنايي نړيوال قانون د جوماتونو په ګډون پر عبادت ځايونو، کوم چې کلتوري شتمني ګڼل کيږي، بريدونه منع او هغه جرم شميري.105 د بشري حقونو تر نړيوال قانون لاندې غړي دولتونه بايد د خلکو دا ازادي وساتي څو د عبادت، رعايت، عمل او زده کړې له لارې خپل دين يا عقيده ولمانځي.106 هر شخص د دې حق لري چې په کلتوري ژوندکې برخه واخلي، په کوم کې چې د هر شخص دا حق هم شامل دی چې کلتوري ميراث ته لاسرسی پيدا کړي او له هغه برخمن شي.107

## د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې له خوا د فرقه ييزې انګيزې لرونکي هغه بريدونه چې شيعه مذهبه لړکي په نښه کوي

يوناما لا اوس هم د طالبانو عناصرو په تېره بيا د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې له خوا د شيعه مذهبه لړکيو مسلمانانو په ضد چې زياتره يې هزاره توکمه دي د فرقه ييزې انګيزې لرونکو بريدونو مستندکول جاري ساتلي. دا له دغې ټولنې څخه ملکيانو ته د زيات زيان دوام په ډاګه کوي چې د ۲۰۱۶ راهيسې د يوناما له خوا مستند شوي.108 يوناما د دغې لړکۍ ډلې د امنيت او خونديتوب او د هغوي د ديني او خوځښت پر ازاديګانو او د ژوند پرکيفيت د دغو بريدونو د منفي اغيز په اړه سخته اندېښمنه ده.

يوناما د شيعه مذهبه لړکيو مسلمانانو په ضد د فرقه ييزې انګيزې لرونکي تاوتريخوالي ۱۰ پېښې مستندکړي چې له امله ۴۸۵ ملکي تلفات (۱۱۷ مړه او ۳۶۸ ټپيان) رامنځ ته شوي، چې په ۲۰۱۸ کال د دغه ډول بريدونو په اړه ۳۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي.109 د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې له ۱۰ پېښو له جملې د اوو هغو مسووليت پر غاړه اخيستی، چې په ډاګه کوله يې چې د دوي هدف د شيعه مذهبه لړکيو مسلمانانو په نښه کول و. د دغو اوو پېښو له امله ۴۷۳ ملکي تلفات (۱۱۲ مړه او ۳۶۱ ټپيان) رامنځ ته شوي.

زياتره ملکي تلفات د شيعه مذهبه لړکيو مسلمانانو د کلتوري او مذهبي مراسمو د فعاليتونو پرمهال رامنځ ته شوي. په دې کې يوه تر ټولو هغه خونړۍ پېښه شامله ده چې يوناما په ۲۰۱۹ کال کې مستندکړې، کله چې د اګست پر ۱۷ د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولايت ډلې له خوا د زياترو شيعه مذهبه مسلمانو ګډونوالو د واده پر مراسمو د فرقه ييزې انګيزې لرونکی ځانمرګي بريد ترسره کړ، چې له امله يې د



*د 2019 کال د اګست پر ۱۷ نېټه د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې له خوا په کابل کې د واده پر مراسمو تر ځانمرګي بریدونو یوه ورځ وروسته، د واده تالار پر وینه پوښل شوي. انځور:* فردین واعظي/ یوناما

۵۰ ماشومانو (۱۵ مړه او ۳۵ ټپیان) په ګډون ۲۳۴ ملکي تلفات (۹۱ مړه او ۱۴۳ ټپیان)110 رامنځ ته شول. سربیره پر دې، د مارچ پر ۷ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې دکابل د مزاري د مصلې په سیمه کې د حزب وحدت اسلامي د هزاره توکمه مشر عبد العلي مزاري د تلین پر یاد غونډه هاوان وتوغاوه. د دغې پېښې په پایله کې ۱۱۵ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۱۰۴ ټپیان) رامنځ ته شول.111 نوموړې ډلې دغه راز د جولای پر ۵ نېټه په غزني ښارکې د شیعه مذهبو پر یوه جومات برید ترسره کړ. د محمدیه جومات په دننه کې د ریموټي بم چاودنې له امله ۲۴ ملکي تلفات (دوه مړه او ۲۲ ټپیان) چې زیاتره یې ماشومان وو، رامنځ ته شول.

یوناما دغه راز په ۲۰۱۹ کال کې د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې له خوا د مسوولیت منل شوې دوه پېښې مستندکړې چې د شیعه مذهبه لږکیو مسلمانو زده کوونکي یې په نښه کړي. د اکتوبر پر ۸، نوموړې ډلې په غزني ښارکې د غزني پوهنتون په یوه ټولګي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي وچول. د دغې چاودنې له امله د ۲۰ ښځینه زده کوونکو په ګډون ۲۷ ملکي تلفات رامنځ ته شول. سربیره پر دې، د جون پر ۲ نېټه د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې په یوه بس پورې چې د پوهنتون محصلین یې لیږدول نښلول شوي مقناطیسي بم وچاوه. تر لومړۍ چاودنې وروسته نوموړې ډلې دویمه چاودنه وکړه چې صحنې ته رارسیدلې د لومړۍ مرسته برابرونکي په نښه کړل. د دغې پېښې له امله یو ملکي شخص ووژل شو او ۱۰ نور ټپیان شول.

پر شیعه مذهبه مسلمانانو هغه بریدونه په کوموکې چې ملکیان په عمدي ډول په نښه شوي، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښايي جنګي جرمونه وشمېرل شي.112 سربیره پر دې، کله چې دا د ملکي وګړو په وړاندې د پراخو یا سیستماتیکو بریدونو د یوې برخې په څیر ترسره شي، دغه ډول کړنې ښايي د بشریت پر ضد جرمونه تشکیل کړي. په ځانګړي ډول، کله چې دغه بریدونو د دین یا نورو پیژندل شویو دلایلو پر بنسټ د تشخیص وړ ډلې په ضد لکه شیعه مذهبه لړکیو په وړاندې ترسره شي، دغه ډول بریدونه ښايي د ظلم او ستم جرم وګڼل شي.113

پر شیعه مذهبه مسلمانانو بریدونه د هغوي پر هغو بشري حقونو چې وکولای شي په ازاد ډول خپل کلتوري او مذهبي مراسم ولمانځي تیری ګڼل کیږي.114 د لمانځنې پر مراسمو، تلینونو، عبادت ځایونو، ښوونیزو مرکزونو او نورو ټولنیزو غونډو په ګډون، د دغو بریدونو پراخ وسعت په سخت ډول د هغوی دا وړتیا اغیزمنه کوي چې له کومې ویرې پرته خپل کلتوري او مذهبي مراسم په ازاده فضا کې ولمانځي او په عادي توګه خپل ژوند پر مخ یوسي.

یوناما افغان دولت ته یو ځل بیا د هغه د مکلفیت یادونه کوي چې د مذهبي اوکلتوري مراسمو د لمانځلو پرګډون، تل د مذهبي او قومي لړکیو په شمول د ټولو لړکیو امنیت او خوندیتوب ډاډمن کړي. دولت باید ډاډمن کړي چې د قومي، نژادي اومذهبي کرکې خپرول چې تبعیض، دوښمني یا تاوتریخوالی راپاروي او د قانون له خوا منع شوی د قانون دتنفیذ له مخې یې د خپرولو مخه نیول شوې.115

## درېیم: په جګړې پورې اړوند د ملکي وګړو تښتونې

دولت ضد عناصرو د تهدیدونې اوکنټرول د وسیلو په څیر د ملکي وګړو تښتونې جاري ساتلې. تښتونې زیاتره وخت د نورو بشري حقونو د سرغړونو پیلامه وي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د جګړې اړوند تښتونو ۲۱۸ پېښې116 مستند کړي چې له امله یې ۱۰۰۶ ملکیان اغیزمن شوي، ۵۰ ملکیان وژل شوي او پنځه نور ټپي شوي. دا د تښتول شویو ملکیانو د شمیر له پلوه د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۴۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي، خو د تښتول شویو د وژنو د شمیر په تړاو په ورته کچو پاتې دی.117 د دریو پېښو په استثنا سره چې دولت پلوه وسله والو ډلو118 ته منسوب شوي، پاتې ټولې پېښې دولت ضد عناصرو- زیاتره طالبانو- ته منسوب شوي.

په مستند شویو پېښوکې د بشري مرستو د کارمندانو، ماین پاکانو او روغتیايي کارکوونکو تښتونې شاملې دي. د مثال په ډول، د سپټمبر پر ۱۴ نېټه د سمنګانو ولایت په روی دوآب ولسوالۍ کې د طالب جنګیالیو یوه وسله واله ډله د ماین پاکۍ د یوې نړیوالې ادارې کمپ ته ننوتل او د هغوی پنځه نارینه غړي یې وتښتول. هغوي د ادارې له څلورو نقلیه وسیلو او د ماین پاکۍ د ځینو سامان الاتو سره یو ځای نیولي کسان له ځان سره یوه نږدې ولایت ته یوړل او د دسمبر پر ۳۰ یې له نږدې ټول سامان الاتو سره یو ځای بیرته راخوشې کړل. د اکتوبر پر ۱۶ د دایکندي ولایت په نومیش ولسوالۍ کې په یوې بله پېښه کې، طالبانو دوه نارینه واکسیناتوران وتښتول. درې ورځې وروسته یې د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته بیرته خوشې کړل.

یوناما دغه راز د خصوصي سکتور له کارمندانو څخه د پیسو د ترلاسه کولو د یوې وسیلې په څیر د تښتونو په کارونه کې زیاتوالی مستندکړی، په ځانګړي ډول د هیواد په شمالي سیمو کې. د مثال په ډول، د جولای پر ۲۹ نېټه د سمنګانو ولایت په دره صوف پایین ولسوالۍ کې، طالبانو پر عمومي سړک یو چیک پوست جوړکړی و چې د ۲۵ لاریو چلوونکي چې د ډبرو سکاره یې لیږدول وتښتول. تښتول شوي کسان له کوم

زیان پرته د پېسو تر تادیې وروسته بېرته خوشې کړل شول. په ورته ډول، د اکتوبر پر ۱۱ نېټه د بلخ ولایت په چهار بولک ولسوالۍ کې، طالبانو د یوه چیک پواینټ په جوړولو سره په یوې شخصي کمپنۍ پورې اړوند د تیلو ټنځه ټانکرونه ودرول. طالبانو ټنځه موټر چلوونکي د هغوي مرستیالان له نقلیه وسیلو سره یو ځای یوې نږدې سیمې ته له ځان سره یوړل او تر هغې یې بندي کړي وو ترڅو چې یې د هر ټانکر په مقابل کې ۳۰۰۰۰ افغانۍ (نږدې ۳۹۰ امریکایي ډالر) تادیه کړل.

یوناما همدارنګه د وسله والوګروپونو او جنایي باندونو له خوا د تښتونو یادونه کوي، دکومو په اړه چې کم راپور ورکول کیږي. که څه هم یوناما هغه تښتونې چې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري نه ترسره کیږي په سیستماتیک ډول نه مستند کوي، خو بیا هم په منظم ډول د دغه ډول پیښو راپورونه ترلاسه کوي، لکه هغه چې د نادولتي ادارو او د ملګرو ملتونو کارمندان په نښه کوي.

 په جګړې پورې اړوند تښتونې افغانان د شخصي ازادۍ او د خپلسري توقیف څخه د ازاد اوسیدلو له بنسټیزو حقونو څخه محروموي. د طالبانو له خوا پر سترو سړکونو او لویو لارو ترسره شوې تښتونې او د هغوي ګواښونه د خوځښت ازادي محدودوي او له ویرې ډک چاپیریال رامنځ ته کوي.

## څلورم: د ملکي وګړو په ضد ترسره شوې ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکې سزاګانې

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د دولت ضد عناصر له خوا د موازي عدلي جوړښتونو د پریکړو د عملي کولو په پلمه د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو لاس پورې کولو نهه پیښې مستند کړې. دولت ضد عناصرو د موازي قضایي جوړښتونو سره سم په جنایي او مدني قضیوکې قضاوت کول جاري ساتلي، په تېره بیا د دوي تر ولکې لاندې سیموکې چیرې چې خلک رسمي عدلي میکانیزمونو ته خورا محدود لاس رسي لري. د دولت ضد عناصرو له خوا د "اخلاقي تخطي ګانو" لپاره د سزاګانو په ګډون په جاري شویو سزاګانو کې اعدامونه، د بدن د غړو پرېکول، او پر دورو وهل شامل دي. یوناما اته پېښې چې د اته ملکي تلفاتو (د پنځو سړیو او یوې ښځې مړینه، او د یوې ښځې او یوه سړي ژوبله) طالبانو او یوه پېښه چې د یوه ملکي سړي د ټپي کیدو لامل شوې، د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړې.

 د جنوري پر ۱۹ نېټه د هرات ولایت په ادرسکن ولسوالۍ کې، طالبانو یو سړي وروسته تر هغې پر دار وځړاوه که چې د هغوي تش په نامه محکمې هغه د مرګ پر سزا محکوم کړ. دغه سړی د یوه سړي پر وژنه او د هغه د موټر سایکل پر غلا تورن و، او د ۲۰۱۸ کال له لومړیو راهیسې د طالبانو په حراست کې و. دغه سړی د نږدې یوه کال لپاره بندي و ترڅو چې یې د طالبانو د موازي عدلي سیستم د دریو محاکمو له لارې قضیه رسیدګي شوه. د اکتوبر پر ۱۱ نېټه دکونړ ولایت په نارنګ ولسوالۍ کې، د عراق او شام د اسلامي دولت ـ خراسان ولایت ډلې د خلکو تر منځ د یوه سړي غوږ د هغوي د تش په نامه محکمې تر سزا وروسته غوڅ کړ. قرباني د یوه بل سړي غوږ پرې کړې و چا چې له دغه دعوا کوله؛ د نوموړې ډلې د تشه په نامه محکمې د یوه فرمان په صادرولو سره، امر وکړ چې د دغه سړي غوږ هم باید پرې کړای شي. د دغې سزا د جاري کیدو پر مهال شا و خوا ۱۵۰ ځایي خلک موجود وو.

د دولت ضد عناصرو له خوا جاري شوې سزاګانې د افغانستان تر قوانینو لاندې جرمي کړنې ګڼل کیږي او د بشري حقونو

سرغړونې تشکیلوي. سربیره پر دې، د اعدام په څېر سختې سزاګانې کولی شي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي

سرغړونې تشکیل کړي او جنګي جرمونه وشمېرل شي.119 یوناما له دولت ضد عناصرو غوښتنه کوي چې پر افرادو ژر تر ژره د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزاګانو وضع کول پای ته ورسوي.

## پنځم: د نظامي موخو لپاره دکورونو او نورو ملکي ځایونوکارول

یوناما په دوامدار ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د هستوګنیزو کورونو، مارکیټونو او جوماتونو په ګڼون له ملکي موقعیتونو څخه د بریدونو د ترسره کولو پېښې مستند او په اړه یې اندیښنې په ډاګه کړې، کوم چې هغوي د دولت پلوه ځواکونو له خوا د برید له ګواښ سره مخ کوي.

د مثال په ډول، د مارچ پر ۶ نېټه د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ کې، د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې پرمهال، افغان ملي اردو د هغو طالب جنګیالو په لور هاوان وتوغاوه څوک چې په هستوګنیزو کورنو کې پټ وو. د هاوان مرمۍ پر یوه ملکي کور ولګیده چې د یوه شپېږکلن هلک په ګډون یې درې ملکي وګړي ووژل او درې نور ماشومان یې ټپي کړل. د نومبر پر ۱۳ د زابل ولایت په سیورې ولسوالۍ کې د افغان ملي اردو له خوا چې هڅه یې کوله هغه طالبان په نښه کړي چې هستوګنیزو کورنوکې پټ شوي وو، د توغول شوي هاوان پر پرچه یوه ښځه ووژل شوه او شپږکلن هلک ټپي شو. افغان ملي اردو طالبانو د دغو تلفاتو لپاره ګرم وګڼل.

په مشخصو قضیوکې، دولت ضد عناصرو ملکي وګړي د هغوي د خوښې خلاف په خپلوکورونوکې ساتلي. د مثال په ډول، د سپټمبر پر لومړۍ نېټه د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې، طالبانو له مختلفو لورو څخه پر ښارګڼ بریدونه ترسره کړل، او په زور هستوګنیزو کورونو ته ننوتل. یوناما هغه پېښه تاییدکړې په کومه کې چې طالب جنګیالي یوه کور ته ننوتي او د کور څښتن چا چې د تېښتې هڅه کوله په ډزو وژلی.

دولت پلوه ځواکونو د هغوي د عملیاتو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو لپاره په هستوګنیزو کورونوکې د پټېدو یا د "انساني سپر" په څېر د ملکیانو د کارونې له امله دولت ضد عناصرګرم ګڼلي. په داسې حال کې چې د دولت ضد عناصر دنده لري چې په ملکي میشتو سیمو او ودانیوکې د پټېدو یا له دغو سیمو او ودانیو د ډزوکولو له لارې ملکي وګړي له خطر سره مخ نه کړي، دغه راز دولت پلوه ځواکونه په مساوي ډول د دې مکلفیت لري چې د ملکي وګړو د ساتنې او خوندي کولو لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي، او دغه مکلفیت په هغو حالاتوکې هم نه کمیږي کله چې دښمن د ملکي وګړو ترمنځ پټ شوی وي. یوناما دولت ضد عناصرو ته د دې هڅې دکولو له ځانګړې ارادې سره چې نظامي اهداف له په نښه کولو خوندي کړي د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د نظامي اهدافو او ملکیانو په عمدي ډول په یو ځای کې د واقع کولو د ممنوعیت یادونه کوي.120

# ۴. دولت پلوه ځواکونه

## الف. عمومي کتنه

د ۲۰۱۸ کال په پرتله، په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۳ سلنه ټولیز زیاتوالی مستندکړی کوم چې دولت پلوه ځواکونه ته منسوب دی- دا په پرله پسې توګه د دوهم کال لپاره یو زیاتوالی دی. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې، دولت پلوه ځواکونه د ټولټال ۲۹۳۳ ملکي تلفاتو (۱۴۷۳ مړینو او ۱۴۶۰ ټپي کیدنو) لامل شوې.[121] د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی کوم چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی په اصل کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د زیاتوالي او همدارنګه د هوایي بریدونو په پایله کې د یو څه ټولیز زیاتوالي له امله را منځ ته شوی. له هغه را وروسته چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک مستندکولو پیل وکړ، دا د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه ده چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې. د ملکي تلفاتو رجحانات چې په دولت پلوه ځواکونو د اعمال وړ دي دکال په اوږدو کې ثابت نه دي پاته شوې، خو د دولت ضد عناصرو د رجحاناتو په پرتله متفاوت وو. په داسې حال کې چې دولت ضد عناصرو ته منسوب ملکي تلفات د لومړیو شپږو خاموشه میاشتو وروسته په دریمه ربعه کې اوج ته رسیدلي، دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شویو ملکي تلفاتو د لومړیو دریو ربعو لپاره د پام وړ زیاتوالی (۳۳ سلنه) څرګندکړ. په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله، په دې پسې بیا دکال په څلورمه ربع کې د ورته کچې (۳۹ سلنه) کمښت رامنځ ته شوی.

دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ملکي تلفات په ۲۰۱۹ کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه جوړوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۴ سلنې څخه لوړ و. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ډیری ملکي تلفات (۴۳ سلنه) د ځمکنیو نښتو پر مهال رامنځ ته شوې، چې ورپسې هوایي بریدونه (۳۶ سلنه) او د تلاشي عملیات (۱۲ سلنه) راځي.[122]

**په ۲۰۱۹کال‌کې د ربع پر اساس د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوې ملکي تلفات**



دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو پر مهال ۱۲۶۰ ملکي تلفات (۳۶۳ مړینې او ۸۹۷ ټپي کیدنې) اړولي، دا د ۲۰۱۸ کال راهیسې ۲۵ سلنه زیاتوالی ښیې، او د دووکلونو پرله پسې کمښت بیرته معکوسوي.[123] یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ډزو د غیر مستقیمي کاروني په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۵ سلنه زیاتوالی مستندکړې، چې د داسې وسلو دکارولو د بې توپیره اغیزو په اړه، په ځانکړې توګه د وګړو په ګڼ میشتو سیمو، اندیښنې را پورته کړې.[124]

## په ۲۰۱۴ــ۲۰۱۹ کلونوکې د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوې ملکي تلفات

په ۲۰۱۹ کال کې، د دولت پلوه پوځي ځواکونو له خوا د ترسره شویو هوايي بریدونو په پایله کې ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړینې او ۳۴۵ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې چې، دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښیې.[125] دا له هغه راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک مستندکولو پیل وکړ، د هوايي بریدونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر دي. هوايي بریدونه هم دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي مړینو مخکښ لامل پاته شوی او هغوي ته د ټولو منسوب شویو ملکي مړینو نږدې نیمايي برخه جوړوي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا د تلاشي د عملیاتو پر مهال د قوي کارول د ملکي تلفاتو دریم مخکښ لامل و، په ۲۰۱۹ کال کې د ټولټال ۳۶۰ ملکي تلفاتو (۲۷۸ مړینو او ۸۲ ټپي کیدنو) په درلودلو سره، دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ملکي زیان ورته لوړې کچې ښیې چې کله یوناما د پام وړ زیاتوالی مستند کړ.[126] دا د تلاشي د عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر دی کوم چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د سیستماتیک مستندکولو له پیل راهیسې مستندکړی. د تلاشي زیاتره عملیات د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د واحدونو، د خوست ساتنې ځواک او یوې نوې را منځ ته شوې ډلې له خوا چې ځايي خلک یې د "شاهین ځواکونو" په نوم یادوي، ترسره شوي. دغه ډلې د قوماندې د رسمي کړیو څخه د باندې، اکثرا په سیمه کې د نړیوالو فعالینو سره په شراکت کې او د نړیوالو ځواکونو له خوا د هوايي ملاتړ په درلودلو سره ، په ۲۰۱۹ کال کې په زیاتیدونکې کچه د افغان هوايي ځواک سره په همغږي کې فعالیت کوي.



| مسؤله خوا (د یوناما له خوا منسوب شوې)[1] | وژل شوي ملکیان | ټپي شوي ملکیان | مجموعي ملکي تلفات |
|---|---|---|---|
| افغان ملي امنیتي ځواکونه | ۶۸۰ | ۱۰۰۲ | ۱۶۸۲ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۵۵۹ | ۲۲۷ | ۷۸۶ |
| دولت پلوه وسله والې ډلې | ۱۰۲ | ۸۲ | ۱۸۴ |
| نا ځرګندې وسله والې ډلې/متعدید دولت پلوه ځواکونه | ۱۳۲ | ۱۴۹ | ۲۸۱ |

## \لومړی. افغان ملي امنیتي ځواکونه

افغان ملي امنیتي ځواکونه په ۲۰۱۹ کال کې د ټولټال ۱۶۸۲ ملکي تلفاتو (۶۸۰ مړینې او ۱۰۰۲ ټپي کیدنې) لامل شوي، دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله لږ زیاتوالی ښیي.[127] د افغان هوایی ځواکونو لخوا په هوایي بمباریو کې د ملکي تلفاتو ټولیز کمښت د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د زیاتوالي له امله بیرته پوره کوي. یوناما د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د کمښت په اړه د پرمختګ په برخه کې د شاتګ له امله، په ځانګړي توګه په ملکي کڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو ډزو دکاروني له امله اندیښنه لري.

په داسې حال کې چې د تلاشي د عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته شوي ملکي تلفات، د ۲۰۱۸ کال په شان، په لوړوکچو کې پاته شوي، هغه ملکي تلفات چې د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو او د خوست ساتنې ځواک ته منسوب شوي، د شاهین ځواکونو (لاندې برخې ته مراجعه وکړئ) د هغو په پرتله کم شوې. یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د تلاشي د عملیاتو په زمینه کې د ټپي کیدو په پرتله د ملکي مړینو د غیر متناسب میزان په اړه، چې اساسا د هغو پیښنو په نتیجه کې را منځ ته کیږي چې د ملي امنیت د ریاست خاصو ځواکونو ته منسوب دي، اندیښنه لري.[128]

## /دویم. نړیوال پوځي ځواکونه

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته ټولټال ۷۸۶ ملکي تلفات (۵۵۹ مړینې او ۲۲۷ ټپي کیدنې) منسوب کړې، چې دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی ښیي.[129] د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د را منځ ته شویو ټولو ملکي تلفاتو له جملې څخه، ۹۶ هغه یې د هوایي بریدونو په نتیجه کې را منځ ته شوي، د هغو بریدونو په شمول چې لا له وړاندې پلان شوي ("عمدي په نښه کول")، او هغه بریدونه چې په سیمه کې ("متحرک په نښه کول") د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي ځواکونو پر وړاندې دګواښونو په غبرګون کې ترسره شوي.

یوناما د هوایي بریدونو په نتیجه کې، د ملکي تلفاتو د پرله پسې لوړې کچې په اړه، په ځانګړې توګه په جوړښتونو د هوایي بریدونو له امله او د تلاشي د عملیاتو په ملاتړ کې ترسره شوي بریدونه چې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او شاهین ځواکونو له خوا ترسره شوي، اندیښنه لري. یوناما د په نښه کولو د پروتوکولونو چې د نړیوالو پوځي

| مسؤل اړخ (د یوناما له خوا منسوب شوې) | وژل شوي ملکیان | ټپي شوي ملکیان | مجموعي ملکي تلفات |
|---|---|---|---|
| افغان ملي پوځ (د هوايي ځواک په شمول) | ۳۸۱ | ۷۰۷ | ۱۰۸۸ |
| د ملي امنیت ریاست، د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو په شمول[1] | ۱۷۹ | ۵۲ | ۲۳۱ |
| افغان ملي پولیس | ۲۳ | ۶۷ | ۹۰ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۹ | ۲۷ | ۳۶ |
| نور افغان ملي امنیتي ځواکونه اوګډې منسوبونې | ۸۸ | ۱۴۹ | ۲۳۷ |

ځواکونو له خوا کارول شوي، کوم چې د هغو شیانو په نښه کولو ته اجازه ورکوي کوم چې د نړیوال بشردوستانه قانون لاندې د مشروع پوځي اهدافو تعریف نه پوره کوي او همدارنګه هغه اشخاص چې نه په مستقیم ډول په جګړو کې برخه اخلي او نه په دوامداره توګه په یوه تنظیم شوي وسله واله ډله کې جنګي فعالیت کوي، په ځانګړي ډول اندیښنه لري.[130]

**په افغانستان د متحده ایالتونو د میشتو ځواکونو په هوایي بریدکې چې د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۱۹ په افغانستان کې د داعش ـ خراسان څانګې ترکنټرول لاندې سیمه کې په بزګرانو ترسره شو، ۳۰ ملکي تلفات اړولي**

"شپه وه او مور ۱۸ واړه په خیمه کې ویده وو. نه پوهیږم د شپې څو بجې وې، خو مور د بم په یوه اواز له خوبه را جګ شو چې زمور په یوه خیمه یې اصابت وکړ، مور د خوب له خپلو ځایونو راپاڅیدلو او له خیمې په بیړه ووتلو. زما دوه تنه همکاران د یوې ونې لاندې له ما سره ودریدل ... مور یې بیا په نښه کړو او مور درې واړه په ځمکه ولویدلو. زه بې هوشه شوم. سهار بیرته په هوش راغلم او پوه شوم چې په (ښۍ پښه، ښې مټ او ورانه) ټپي شوی یم او تر ما لاندې دواړه همکاران مړه شوي. یو یې ۱۶ کلن وه. ما نه لیدلای شوای او نه مې حرکت کولای شوای. زما سترګې له شګو او دوړو ډکې وې. ما د مرستې لپاره چیغې وهلې. هیڅوک د سهار تر اوو بجو پورې را ښکاره نه شول، زمور ځینو غړو زه له ځایه بې ځایه کړم کوم چې ژوندي پاته شوي وو او ځینو نورو سړک ته وځکولم او بیا یې روغتون ته انتقال کړم." ــ ۳۰ کلن نارینه قرباني

د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په ۲۲ د ننګرهار په عامه روغتون کې د یوناما له خوا ورسره مرکه شوې

د سپټمبر په ۱۹ د سهار په نږدې ۲ بجو، نړیوالو پوځي ځواکونو د ننګرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ، د وزیرو تنګي په سیمه کې د داعش ترکنټرول لاندې سیموکې پر یوه ځنګله سیمه کې په خلکو د ډرون الوتکې پر مټ اته بریدونه کړي. د راپورونو له مخې شاوخوا ۱۵۰ نارینه کارګران په ساحه کې د خرڅلاو لپاره د جلغوزو د پروسس په موخه د جلغوزو د غوټیو په راټولولو بوخت وو. دوی د د اعش له خراسان څانګې اجازه تر لاسه کړې وه او هم یې قومي مشرانو ته د ورسپارل شوي مکتوب له لارې د هغوی د نیت په اړه چې موخه یې په ساحه کې د جلغوزو راټولول و افغان ملي امنیتي ځواکونو او د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ته لا د مخه په کتبي توګه خبر ورکړی و. د هوایي بریدونو پر مهال، کارګران په بیلابیلو اوو خیموکې چې په سیمه کې خورې وې، ویده وو.

د پیښې تر پیښیدو ژر وروسته د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو ټیم ته د پیښې په تړاو لومړني معلومات ورکړل، پدې کې د وخت څخه وړاندې افغان حکومت او ملي امنیتي ځواکونو ته د ورکړل شویو مکتوبونو په اړه ځانګړې معلومات شامل وو. نړیوالو ځواکونو رسنیو ته یوه اعلامیه ولیږه چې په کې ښودل شوي چې د متحده ایالاتو ځواکونو "د داعش ترکنټرول لاندې سیمه کې او د داعش ترهګرو پر وړاندې کره حمله ترسره کړې" او په اعلامیه کې یې ویلي چې دوی "ډاډه دي چې په دې بریدکې د په نښه شویو داعش جنګیالیو په ګډون ۱۶ کسان وژل شوي دي". د اعلامیې په حواله، یادکارګران " د افغان امنیتي ځواکونو یا امریکایي پوځ د خبرتیا پرته " یادې سمې ته تللي. دوې ارزونه کړې چې "ممکن تر اتو پورې غیر جنګیالي د داعش جنګیالیو سره ګډ په نښه شوي وي او تر اتو پورې غیر جنګیالي وژل شوي دي."

د قربانیانو، د هغوی د خپلوانو، قومي مشرانو، دولتي چارواکو، روغتیایي متخصصینو، د ملي امنیت د ریاست او نورو په شمول، یوناما د ملکي تلفاتو د تصدیق لپاره له ۳۰ زیاتو سرچینو څخه معلومات راټول کړي. یوناما په روغتون کې چیرې چې هغوی تر درملنې لاندې وو، د یو شمیر قربانیانو سره هم مرکې ترسره کړې دي. یوناما تاییدکړې چې د دوو هلکانو په شمول، ۱۰ تنه نارینه ملکیان ټپیان شوي او لږ تر لږه ۲۰ تنه نور وژل شوي. یوناما د اضافي ملکي تلفاتو په اړه، چې نه شي کولای تصدیق یې کړي، معلومات تر لاسه کړي. د متحده ایالاتو ځواکونو د ننګرهار د والي له خوا په هغه ناسته کې چې د والي په دفترکې جوړه شوې وه، د اتو قربانیانو هرې کورنۍ ته چې د ملکي وګړو په حیث پیژندل شوې او زیانمن شوي، ۱۶۶۶۰۰افغانۍ یا (۲۲۰۰ امریکایي ډالر) ورکړي.

یوناما ټینګارکوي چې د شخړې ښکېلې غاړې مکلفیت لري هر هغه څه چې شوني وي ترسره کړي ترڅو تصدیق شي چې هدفونه پوځي موخې دي،[131] او د شرایطو لاندې د ممکنه جامع وضعیتي پوهاوي د ترلاسه کولو لپاره د ټولو موجوده استخباراتي، نظارتي او نورو امکاناتو د کارولو لپاره اړتیا په ګوته کوي. په کومه طریقه چې هوایي بریدونه ترسره شوي، د هغو تدبیرونو په اړه چې د اهدافو د تاییدولو لپاره په پام کې نیول شوي، دې ته په کتو چې د پیښې پر مهال قربانیان ویده وو او په جګړه کې ښکیل نه وو او دا چې په سیمه کې د هغوی د شتون د ماهیت په اړه د افغان ګډو ځواکونو له خوا معلومات شریک شوي، جدي پوښتنې راپورته کوي. یوناما د نړیوالو پوځي ځواکونو څخه غوښتنه کوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په ګډه د زده کړې د زده شوي فعالیت په یوه پیاوړې تمرین کې دخیل شي، کوم چې باید په طرزالعملونوکې د اړوندو بدلونونه څخه خبر ورکړي ترڅو په راتلونکې کې ملکي وګړو ته د ورته زیان د اوښتو مخه ونیسي.

## درېیم. دولت پلوه وسله والې ډلې

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې په ټولټال ۵۷ پیښو او د شخړې په تړاو د تښتونې په اوو پیښوکې کوم چې یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړې، ټولټال ۱۸۴ ملکي تلفات (۱۰۲ مړینې او ۸۲ ټپې کیدنې) مستندکړې. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي تلفاتو په برخه کې دوه سلنه زیاتوالی ښیي.[132] د یادونې وړ ده چې دا د ۲۰۱۷ کال راهیسې د ملکي تلفاتو د شمیر ټیټې دوه برابره ده.

د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ملکي تلفات اساساً د ځمکنیو نښتو په زمینه کې (۴۰ سلنه ملکي تلفات) او ور پسې د تلاشي په عملیاتوکې (۳۴ سلنه ملکي تلفات) واقع شوې. یوناما د لوړ شمیر پیښو په اړه چیرې چې د تلاشي د عملیاتو پر مهال دولت پلوه وسله والو ډلو په عمدي توګه ملکیان په نښه کړي، په خاصه توګه اندیښمنه ده. د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا زیاتره ملکي تلفات، چې د خوست د ساتندویه ځواک او شاهین ځواکونو له خوا، چې د راپورونو له مخې د دواړو ملاتړ د نړیوالو فعالینو له خوا کیږي او د هیواد په جنوب ختیځه سیمه کې (خوست، پکتیا، پکتیکا او غزني ولایتونه) عملیات کوي، د تلاشي د عملیاتو پر مهال را منځ ته شوې.[133] دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب پاتې ملکي تلفات په عمده توګه په تخار او بغلان ولایتونوکې پیښ شوي.

د خپلو شخصي شخړو پر سر، او د دولت ضد عناصرو او نورو وسله والو ډلو سره په وسله والو نښتوکې د ښکیلتیا په شمول، د دولت پلوه وسله والې ډلې په معافیت سره عملیاتو ته دوام ورکوي، د تلاشي عملیات ترسره کوي، په قصدي ډول ملکي وګړي وژني. دولت پلوه وسله والې ډلې د قانوني بنسټ پرته او د جوړښتونو څخه د باندې فعالیت کوي، دا جوړښتونه د دې لپاره جوړ شوي چې ځو یقیني کړي چې د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون په شمول، د قانون د سرغړونو لپاره د قوماندې د مراتبو سلسله، د حسابورکونې میکانیزمونه او د قربانیانو لپاره خسارې د جبران ورکړه وضع شوې.

یوناما د افغانستان په دولت، چې د هغوی د ژوند، آزادۍ او امنیت د حقونو په ګډون د افغانستان د ټولو وګړو د بشري حقونو د خوندي کولو لومړني مسؤلیت لري، غږکوي ترڅو ټولې دولت پلوه وسله والې ډلې منحل کړي او یا یې د ارزونې د یوه قوي طرزالعمل وروسته، د حسابورکونې د موثره میکانیزمونو او عملیاتي طرزالعملونو په دررلودلو سره د قوماندې په یوه رسمي حلقه کې ورګډې کړې کوم چې نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو نړیوال قانون ته درناوی لري. سربیره پردې، حکومت مسؤلیت لري چې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو ټولې ادعاوې او د نړیوال بشردوستانه قانون سرغړونې وڅیړي او د تورنو مرتکبینو په حیث د پیژندل شویوکسانو په حواله، د لوړو مقاماتو په شمول، د افغانستان د جزا د قانون لاندې لازم اقدامات اتخاذکړي.

## د خوست ساتندویه ځواک او "شاهین ځواکونه "

د خوست ژغورنې ځواک یوه دولت پلوه وسله واله ډله ده چې د منظمې پوځي قوماندې اوکنټرول د جوړښتونو څخه د باندې فعالیت کوي، دې ډلې لږ تر لږه د ۲۰۰۷ کال را هیسې د افغانستان په سویل ختیځ کې ځانګړې عملیات ترسره کړي. د ملکي تلفاتو د ادعاوو او د ژوند او فزیکي امنیت د حقونو څخه د سرغړونې او د بشري حقونو د نورو سرغړونو په اړه او شمول، یوناما په مکرر ډول د خوست د ساتندویه ځواک دکړنو په اړه په عامه او خصوصي ډول اندیښنې راپورته کړې.[134] پخوا، د افغان ملي امنیتي ځواکونو غړو او حکومتي چارواکو د یوناما سره د خوست د ساتندویه ځواک د هر ډول کړنو په

اړه د خبرو څخه ډډه کوله. په هرصورت ، د ۲۰۱۹ کال له پیل سره سم، د ملي امنیت ریاست دې ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو د پیښو په اړه محدود معلومات چمتوکړي، که څه هم دوي په پرله پسې توګه په نوم د ځواکونو د اخیستلو څخه ډډه کوي. یوناما په دې نظر ده چې دا ځواکونو د ملي امنیت د ریاست د ځواکونو په شان ورته فعالیت کوي او د قوماندې ورته جوړښت لري، خو دوی د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو سره توپیر لري، لکه څنګه چې دا ځواکونه کوم قانوني اساس نه لري چې پر اساس یې د افغانستان د قانون سره سم خپل عملیات ترسره کړي.

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د خوست د ساتندویه ځواک د عملیاتو په پایله کې ټولټال ۱۲ پیښې مستندې کړې په کوموکې چې د ۲۵ ملکیانو مړینه را منځ ته شوې، زیاتره یې د تلاشي د عملیاتو په زمینه کې د ملکیانو عمدي وژنې وې، دا د ۲۰۱۸ کال راهیسې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ کمښت ښیي.[135] یوناما د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې د خوست ساتندویه ځواک ته نږدې ټول منسوب شوي ملکي تلفات ثبت کړي دي، ښکاري چې له هغه وروسته د هغوی د تلاشي په عملیاتوکې کمښت راغلی. په هرصورت ، یوناما د ۲۰۱۹ کال تر پای پورې د دولت ضد عناصرو لخوا د خوست د ساتندویه ځواک پر وړاندې د بریدونو مستندکولو ته دوام ورکړی. د یوه رجحان په تعقیب چې په لومړي ځل په ۲۰۱۸ کال کې مستند شوی، یوناما د خوست د ساتندویه ځواک له خوا د خوست د ولایت څخه ور ها خوا، په پکتیا او پکتیکا ولایتونوکې پیښې مستندې کړې دي.

د ۲۰۱۹ کال د مارچ څخه وروسته موده کې، یوناما ۱۵ پیښې مستندې کړې چې په نتیجه کې یې ۶۲ ملکي تلفات (۵۸ مړینې او ۴ ټپي کیدنې) اوښتي چې شاهین ځواکونو ته منسوب دي. یوناما د شاهین ځواکونو د قوماندې د مراتبو د سلسلې یا د ملي امنیت یا نورو دولت پلوه وسله والو ډلو سره، د بیلګې په توګه، د خوست د ساتندویه ځواک سره د دوی د اړیکو په تصدیق کولوکې پاته راغلې. یادونه شوې چې شاهین ځواکونو ته د لومړۍ پیښې وخت د هغو پیښو په شمیر کې د ډراماتیک کمښت سره مصادف وکوم چې د خوست ساتنې ځواک ته منسوب شوی.[136] د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو هم په عامه ډول د یوه برید مسؤلیت چې ځایی سرچینو شاهین ځواکونو ته منسوب کړی، منلی، چې د دوی تر منځ د نږدې همغږي وړاندیزکوي.[137]

شاهین ځواکونه د راپور سره سم د پکتیکا ولایت په ارګون ولسوالۍ کې میشت دي، دوي د خوست د ساتندویه ځواک په شان، د اړتیا په وخت کې په ساحه کې د نړیوالو فعالینو سره په ګډه او د نړیوالو پوځي ځواکونو په هوایي ملاتړ، د قوماندې د مراتبو د سلسلې د رسمی حلقو څخه د باندې فعالیت کوي. په ۲۰۱۹ کال کې ، یوناما په پکتیکا، او همدارنګه په پکتیا او غزنی ولایتونوکې داسې پیښې مستندې کړي په کوموکې چې دا ډلې دخیلې وې.

د خوست ساتنې ځواک او د شاهین ځواکونو غړي د هغو سرغړونو لپاره چې دوی یې ترسره کوي د معافیت څخه برخمن دي اوکوم چې د ډیرې اندیښنې وړ دي. په داسې حال کې چې د ملي امنیت د شورا له خوا د دغو عملیاتو او هغو په اړه چې په ترڅ کې یې د بشري حقونو سرغړونې را منځ ته کیږي، څیړنې ترسره کیږي، یوناما د داسې قضیو په اړه چې پکې د قوي د زیاتي کارونې، عمدي وژنو، او نورو سرغړونو او هغو سرغړنو په تړاو چې په جدي توګه بشري حقونه او د افغانانو ژوند اغیزمنوي، د خوست د ساتندویه ځواک یا شاهین ځواکونو د غړو د مسؤل ګڼلو په تړاوکوم معلومات نه لري.

په کابل کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ملکي حکومتي اداري غړي نه غواړي یا نه شي کولای د دې ځواکونو په اړه په ښکاره ډول خبرې وکړي، بس دومره کولای شي ووایي چې دا ډلې په بشپړ ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې نه دي. یوناما دا پوښتنه راولاړوي چې د دوی د روزنو، مالي تمویل، پلانولو او عملیاتو د ترسره کولو لپاره بیا کومې اداري مسؤلې دي، او دا پوښتنه هم را ولاړوي چې د فعالیت د ترسره کولو وروسته آیا ارزونه او څېړنه ترسره کیږي، دې ته لا ځواب نه دی موندل شوی.

یوناما یادونه کوي چې حکومت په افغانستان کې د ټولو خلکو د ژوند، آزادۍ او امنیت د حقونو د خوندي کولو لومړنی مسؤلیت لري. یوناما په حکومت غږکوي چې یا خو دې د قوي څارنې د میکانیزمونو وروسته د خوست ساتندویه ځواک او شاهین ځواکونه په وسله والو ډلوکې شامل کړي یا دا ډلې منحل او غړي یې د هغوکړنو لپاره چې د ادعا سره سم د افغانستان د جرمي قانون سره په مغایرت کې دي تر څیړنې لاندې ونیول شي او تعقیب شي.[138] د افغانستان حکومت مکلف دی چې د دې ډلو غړي د نړیوال بشردوستانه قانون څخه د هر ډول سرغړونو او د بشري حقونو د نړیوال قانون د سرغړونو یا ناوړه ګټې اخیستنې لپاره چې دوی ترسره کړي، مسؤل وګڼي.

## ب. د هغو تاکتیکونو او پیښو نمونې کوم چې ملکیانو ته زیات زیان اړوي

### لومړی: هوايي بریدونه

**" د شپې نږدې ۱۰ بجې وې او ټول په خپل کور کې وو،موږ په ویدو کیدو وو. [...] یوه چورلکه د کور د پاسه ډیره ټیټه ځرخیده. زما مېره دروازه پرانیسته تر څو وګوري څه جریان لري. کله چې هغه دروازه وازه کړه، چورلکې په ډزو ویشتلو پیل وکړ او د هغه دواړه پښې یې ټپي کړې. هغه شاته ولوید. ما او زما مشري لور ور منډه کړه تر څو ورسره مرسته وکړو. زه په ډزو ولګیدم او ټپي شوم. زه په دې پوه نه شوم چې دا مرمۍ وې او یا کوم بل څه، ټوټې یې غټې وې او په ټوله سیمه کې تیتې شوې. [...] موږ په خپلو وینو کې په ځمکه پراته وو. زه اوس هم هغه چیغې چې د خپلو ماشومانو نومونه مې اخیستل په یاد لرم، کوښښ مې کاوه پوه شم چې دوي ته څه پیښ شوې. هغوي زما ۱۰ کلن زوی وواژه. د هغه نیم سر نه و. زما لور ... څلور کلنه.... د هغې خیټه دومره بده ټپي شوې وه چې د هغې کولمې په بشپړه توګه د باندې را وتللې وې. د نږدې یوه ساعت لپاره هغې د درد څخه ژړل – د موږ ناري یې وهلې، دا درد لري، دا درد لري، تر هغو چې د هغې غږ خاموش شو. ما هیڅ و نه کولای شوای؛ ما حرکت نه شو کولای. "**

**-- د هلمند ولایت په سنګین ولسوالي کې د ۲۰۱۹ کال د فبروري په ۸ د چورلکې په بریدکې یوه ټپي میرمن: د هغې دوه ماشومان وژل شوي.**

په ۲۰۱۹ کال کې، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ترسره شویو ۲۱۹ هوایي بریدونو په پایله کې ټولټال ۱۰۴۵ ملکي تلفات (۷۰۰ مړینې او ۳۴۵ ټپي کیدنې) مستندکړې، دا په ۲۰۱۸ کال کې د مخکنیو لوړو ارقامو په پرتله، د دې تاکتیکونو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې دری سلنه زیاتوالی دی.[139] دا په پرله پسې توګه پنځم کال دی په کوم کې چې د هوایی بریدونو په پایله کې ملکي تلفات زیات شوې. یوناما په ځانګړې ډول د هوایی بریدونو له امله د ملکي مړګ ژوبلې د شمیر په اړه اندیښنه لري، کوم چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله په پرله پسې توګه په غیر متناسبه کچه ۳۱ سلنه زیاتوالی وموند.

په ۲۰۱۹ کال کې هوایي بریدونه د ټولو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه جوړوي. [140] د ۲۰۱۸ کال راهیسې دې رجحان ته په دوام ورکولو سره، د هوایي بریدونو په پایله کې ډیری قربانیان – ۷۲ سلنه – تلفات د نړیوالو ځواکونو له خوا را منځ ته شوې، کوم چې ۱۷ سلنه زیات شوي. [141] افغان هوایي ځواک ته منسوب ملکي تلفات ۲۴ سلنه را ټیټ شوي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۴ سلنه جوړوي.[142] په هوایي بریدونوکې پاته ملکي تلفات د ناځرګندو دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوې.

د متحده ایالتونو د هوایي ځواک د مرکزي قوماندې په حواله، د متحده ایالتونو الوتکو (د پیلوټ لرونکو او بې پیلوټه الوتکو په شمول) په ۲۰۱۹ کال کې په افغانستان کې ټولټال ۷۴۲۳ بمونه غورځولي چې دا د ۲۰۱۸ کال راهیسې یو څه زیاتوالی او د کلونو په ترڅ کې زیات زیاتوالی ښیې.[143] په سپټمبر میاشت کې یوائې، د متحده ایالتونو الوتکو ۹۴۸ بمونه غورځولي چې دا د ۲۰۱۰ کال راهیسې په یوه میاشت کې تر ټولو لوړ ارقام دي. په ۲۰۱۹ کال کې، د متحده ایالاتو الوتکو تر هغه وخته تر ټولو زیات هوایي بریدونه ترسره کړې وو چې په هر بریدکې یې کم ترکمه یوه وسله توغولې. [144]

د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا د زیاتو هوایی بریدونو دوام نه یوازې د ملکي تلفاتو لامل شوی بلکه د راپوروونو سره سم د دوي د افغان شریکبانو ځواکونو پر وړاندې د دوستانه ډزو د یو شمیر پیښو لامل هم شوی.[145]

افغان هوایي ځواک په ۲۰۱۹ کال کې د شپې په شمول، مخ پر زیاتیدونکي بریدونه مستندکړي دي. دې ځواکونو یوازې د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر[146] کې د شپنیو بریدونو د ترسره کولو وړتیا ترلاسه کړې او له هغه راهیسې یې د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو په شمول، د تلاشي د شپنیو عملیاتو لپاره مخ پر زیاتیدونکي ملاتړ برابرکړی چې دمخه یې تل د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا په هوا کې ملاتړکیده. په هرصورت، په سیمه کې د افغان تاکتیکي هوایي همغږي کونکو نشتون چې موخه یې د هدف نیولو د چارو سره مرسته کول دي، دا به په پرله پسې توګه دقت او احتیاطي تدبیرونو اغیزمن کړي، او له همدې امله به د ملکي تلفاتو لامل شي.[147]

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو او شاهین ځواکونو لخوا د شپنیو عملیاتو د ملاتړ په برخه کې د ترسره شویو هوایی بریدونو په پایله کې ۱۴۴ ملکي تلفات (۹۰ مړینې او ۵۴ ټپي کیدنې) مستندکړې. د بیلګې په توګه، د سپټمبر په ۲۲، د سهار په ۱۱ بجو، د هلمند ولایت په موسی کلا ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو دکوماندوګانو سره یو ځای د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو په سیمه کې د طالبانو پر مرکزونو، چې د راپوروونو سره سم القاعده هم حضور لري، د تلاشي عملیات ترسره کړل.[148] د عملیاتو په جریان کې، د دولت ضد عناصرو جنګیالیو د قوي په کارولو سره غبرګون وښود او په نتیجه کې افغان ځواکونو په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو څخه د هوایي ملاتړ غوښتنه وکړه. د یوناما له خوا د مرکه شویو سرچینو په حواله، د الوتکو او چورلکو په شمول، د یو شمیر هوایي

*د کندز ښار په تیلاوکه سیمه کې په یو کور په هوایي برید کې د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۲۲-۲۳ د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د تولنې غړي چې د یوې لارۍ موټر شاوخوا کې چې ماشومان لیږدوي راټول شوي، ووژل. د راپور سره سم یاد برید په سیمه کې د دولت پلوه ځواکونو په ملاتړ ترسره شوی. د ۱۰ ماشومانو په شمول، په برید کې ۱۳ ملکیان وژل شوي. انځور: ناصر واقف*



تجهیزاتو څخه کار واخیستل شو. په عین وخت کې، د واده درې ګاډي چې یو په بل پسې روان وو – دوه تونیس او یو سیډان په سیمه کې را ښکاره شوو. د راپوررونو سره سم، د تلاشي د عملیاتو سیمه کلابند شوه اوکله چې دواړه موټر را نږدې شول، هغو ته د دریدو سپارښتنه وشوه خو و نه توانیدل چې موټرونه ودروي. دوه تونیس موټرونه د عملیاتو ساحې ته ور دننه شول او د چورلکو څخه په توغول شویو ډزو وویشتل شول. په لومړي موټرکې سپاره زیاتره مسافرین ووژل شول او په دوهم موټرکې سپاره زیاتره مسافرین ټپیان شول. دریم، چې یو سیډان موټر و په کوم کې چې ناوې او زوم سپاره وو، په ډزو و نه لګیدل. د دغو بریدونو په پایله کې، ۱۵ تنه ملکیان (د پنځو میرمنو او نهو ماشومانو په شمول) ووژل شول او (د دوو میرمنو او ۶ ماشومانو په شمول چې عمرونه یې د ۱ او ۱۶ کلونوتر منځ وو) ۱۱ تنه ټپیان شول. د راپور سره سم، د ۱۴ څخه تر ۲۲ پورې د القاعده او طالبانو جنګیالي ووژل شول او د یو شمیر ښځو په شمول ۱۴ کسان ونیول شول.[149] یوناما همدارنګه درې اضافي ملکي تلفات تصدیق کړي کوم چې په ودانۍ کې په یوه کور د هوایي برید په پایله کې را منځ ته شوې. د یوناما له خوا د تایید شویو معلوماتو په حواله، په ودانۍ کې دوه کورونه جنګیالیو ته په کرایه ورکړل شوې وو، خو د کور مالک په دریم کور کې اوسیده. په افغانستان کې د متحده ایالتونو د میشتو ځواکونو هوایي برید درې کورونه په نښه کړل چې په نتیجه کې یې دکور مالک او د هغه دوه زامن چې یو یې ۱۰ کلن و، ووژل شول.

## د هوایي بریدونو له امله ملکی تلفات




د پیښې په تعقیب، ولسمشر غني په دې اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه او د والي څخه یې د پیښې د څېړلو غوښتنه وکړه.[150] د ملي دفاع وزارت هم رسنیو ته اطلاع ورکړه چې د هوایي بریدونو په پایله کې به رامنځته شوي ملکي تلفات وڅیړي. د سپټمبر په ۲۳مه، د ملي امنیت شورا دفتر په خپله ټویټر پاڼه یو بیان خپور کړ چې د افغان او امریکایي ځواکونو لخوا د لوړو مشخصاتو د درلودونکې القاعده ډلې پر وړاندې کوم چې د طالبانو د مشرانو سره یو ځای شوي عملیات ترسره کړې، په دې کې د القاعده مشر عاصم عمر، د هغه خبر رسونکی شامل دي چا چې ایمن الضواهري ته او په هلمند کې د طالبانو لپاره د چاودیدونکو توکو مشر ته د پیغامونو د رسولو مسوؤلیت درلود. په ټویټونو کې څرګنده شوې چې پاکستاني میرمنې، د عمر د میرمنې په ګډون، د طالبانو د اتو جنګیالو سره یو ځای توقیف شوې وې.[151] د ملي امنیت شورا هلمند ته د ملکي تلفاتو د ادعاوو د څېړلو په موخه یو پلاوی استولی، چې پایلې یې د دې راپور تر لیکلو پورې لا ندي خپرې شوې.

یوناما ته څرګنده شوی ده چې په افغانستان کې میشتو امریکایي ځواکونو هم د متحده ایالتونو د پوځ د ۶-۱۵ مقررې لاندې څېړنه ترسره کړې، دکومې پایلې چې د دې راپور تر لیکلو پورې په عامه توګه ندی خپرې شوې. یوناما په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو او د افغانستان حکومت څخه غوښتنه کوي ترڅو د خپلو موندنو پایلې په عامه ډول خپرې کړي او همدارنګه ملکی قربانیانو ته مناسبې خسارې ورکړي.

د تلاشي د عملیاتو پر مهال د ځمکنیو قواوو د ملاتړ په موخه کې د ترسره شویو هوایي بریدونو ور ها خوا، یوناما په ځانګړي توګه د انفرادي کسانو د عمدي هدف نیولو په اړه، چا چې نه په مستقیم ډول په نښتوکې برخه اخیستي او نه هم په کومه وسله واله ډله کې دوامداره جګړه ییزه دنده ترسره کوي، په ځانګړي توګه اندیښمنه ده. دې ډول بریدونو ته د متحده ایالتونو د ملي دفاع د وزارت د جګړې د قانون د لارښود لاندې اجازه ورکول کیږي، خو د نړیوال بشر دوستانه قانون سره په سمون کې نه دي. د بیلګې په توګه، یوناما په انفرادي کسانو باندې چې د غیر قانوني مخدره توکو په

پروسس کې دخیل دي، د ادعا له مخې په مالي توګه د طالبانو ملاتړ کوي، او هغه کسان چې ټکسی چلوي او د طالب جنګیالیو لپاره ټرانسپورټ هم چمتوکوي، او هغه افراد چې د طالبانو ترکنټرول لاندې سیموکې (ذکات) راټولوي، د هوایي بریدونو په نتیجه کې رامنځته شوې ملکي تلفات تاییدکړي. یوناما ټینګارکوي هغه انفرادي کسان چې په سیاسي، مالي یا کوم بل ډول د وسله والې مخالفې ډلې ملاتړکوي، خو په تنظیم شوې وسله واله دنده کې دوامداره جګړه ییزه دنده نلري د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کیږي.[152] د ملکي وګړو په توګه، هغوي د بریدونو څخه تر هغو پورې چې هغوي په ښکېلتوکې په مستقیم ډول برخه وا نه خلي، خوندي دي.[153]

**د هلمند په سنګين ولسوالي کې په يوه کور دکوم ځخه چې طالبانو ډزې کولې په افغانستان کې د ميشتو امريکايي ځواکونو هوايي بريد، چې د ۲۰ ملکي تلفاتو لامل شوې**

**"شپه وه. جنګي الوتکې راغلې او په بمبارد يې پيل وکړ. کله چې زه ويده وم نو ما يو غږ واوريد او داسې فکر مې وکړ چې لا هم ويده يم. لومړي بم په هغه خونه اصابت وکړ چيرې چې زه د خپل ميړه او خپلې يوې لور سره وم. د خونې چت پر موږ را پريوت. زه يوازې يو څه په هوش وم، ما د خپل خسر غږ واوريد چې خونې ته راننوت او موږ درې واړه يې له خونې څخه د باندې وايستلو. موږ ( ټول چې په خونه کې وو) دوه خونې کښته بلې خونې ته ولاړو او يو ځل بيا يې زموږ کور بمبارد کړ. هماغه خونه يې وويشته په کومه کې چې موږ وو. د خونې چت په موږ را پريوت. د درنو ټوټو په رالويدو سره، چې هرې خوا ته تيتې شوې، چې له امله يې ډيرى کسان په سرونو او زه پر مټ ولګيدم. ماشومان ووژل شول. بنايي زما ميړه پرکوم بل شي لګيدلی وي، زما په پرتله د هغه څخه زياتې ويني بهيدې. [...] موږ تر را پريوتي چت لاندې هلته په وينو کې تر سهاره پاته شو. زموږ مرستې ته تر سهاره څوک را نه غلل. که خبره تحقيقاتو ته راشي، زه به ووايم چې مسؤل شخص ماته راوړئ تر څو هغه ته ور وښايم چې په موږ يې څه راوستي."[154]**

ـــ د هلمند په سنګين ولسوالي کې د جنوري په ۲۴مه د افغان ځواکونو په ملاتړ په افغانستان کې د ميشتو امريکايي ځواکونو په ترسره شوې هوايي بريدکې ۳۰ کلنه ښځينه قرباني

د ۲۰۱۹ کال د جنوري په ۲۳ـ ۲۴مه، د شپې په نږدې نهه بجو، د هلمند په سنګين ولسوالۍ په سيمه کې د افغان او نړيوالو ځواکونو لخوا تصفيوي عمليات ترسره شول. په هغوي ډزې وشوې او د قوي په کاروليو سره يې ځواب ورکړ. د غوڅ ملاتړ د ملکي تلفاتو د کملو د ټيم په حواله، طالب جنګياليو د استوګنې د يوه کور ځخه پر هغوي ډزې کولې او د دولت پلوه ځواکونو سره يې جګړې ته دوام ورکړ.

په افغانستان کې ميشتو امريکايي ځواکونو په يوه کور دوه هوايي بريدونه ترسره کړل. لومړي هوايي بريد په يوه خونه اصابت وکړ چيرې چې يوه کورنۍ ويده و. د خونې چت را پريوت او ټول يې ټپيان کړل. دکور مشر په بيره خونې ته ورغی تر څو ټول د خونې څخه د باندې وباسي او د ټولو څخه يې وغوښتل چې د ۵۰ مترو په واټن کې په يوه بله خونه کې پناه واخلي. يو څو دقيقې وروسته ، دوهم هوايی بريد په هغه سيمه کې ترسره شو چيرې چې دکورنۍ نور غړي پټ وو.

د دوهم بريد څخه وروسته، کور ته نږدې، په هوا کې په ځمکه ټيټه چورلکه راتاويده په داسې حال کې چې په ودانۍ دننه کې ځينې قربانيان د کمپلو لاندې پټ وو. دوی تر سهار پورې هلته پاتې وو تر څو چې د ټپيانو سره د مرستې په خاطر د هغوي خپلوان راغلل. ټپيانو وکولای شوای له غرمې وروسته د هلمند د لشکرګاه روغتون ته ولاړ شي. يوې سرچينې وويل چې يواځنی دليل چې طالبانو دوی ته د سيمې څخه د تلو اجازه ورکړه لامل يې د طبي درملنې اړتيا وه. د جنوري په ۲۸مه، درې تنه قربانيان دکندهار په ښارکې يوه روغتون ته وليږدول شول، چيرې چې يوناما وکولای شوای د هغوي سره مرکه ترسره کړي.

په ټوله کې هوايي بريدونو، د دريو ميرمنو او ۱۰ وژل شويو ماشومانو او يوې ميرمنې او دريو ټپي شويو ماشومانو په شمول، ۲۰ ملکي تلفات (۱۵ مړينې او ۵ ټپي کيدنې) اړولي. په افغانستان کې ميشت امريکايي ځواکونو د متحده ايالتونو د پوځ د ۶ـ۱۵ مقررې لاندې يوه څيړنه ترسره کړه، دې څيړنې د ۱۵ کسانو وژل تاييدکړل. يوناما د تحقيقاتو سره د مرستې په موخه او د قربانيانو لپاره د حساب ورکونې د ملاتړ په هدف د څيړنې افسر ته معلومات برابرکړې. په افغانستان کې د ميشتو امريکايي ځواکونو په حواله، ځمکني ځواکونه هيڅ وخت په دې باور نه وو چې په ودانۍ کې ملکي کسان موجود وو او هغه دې هدف ګرځول شوې وي.

کله چې د هدف نیولو پریکړې په بیړه سره نیولې کیږي او یا خو د ملکیانو د شتون( د بیلګې په توکه په موټر یا کور کې) یا د انفرادي شخص د ملکي وضعیت په اړه ناکافي معلومات ممکن په اسانۍ سره موجود وي، یوناما د تیروتنې لپاره د ډیر امکان په اړه اندیښنه ده.[155] یوناما په تیرو څوکلونوکې د افغان ملي امنیتي ځواکونو/ د ناټو غوڅ ملاتړ ماموریت/ په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو سره په خپلو ناستو او همداراز د ملکي کسانو د ساتنې په خپلو راپورونوکې د ډیریدونکو ملکي تلفاتو د شمیرکوم چې د هوایي بریدونو له امله را منځ کیږي په دوامداره توګه اندیښنه څرګنده کړې، او د هدف نیولو د معیارونو او نښتو څخه د مخه د احتیاطي تدبیرونو د پرله پسې بیاکتنې لپاره یې په وار وار اړتیا څرګنده کړې.[156]

یوناما یادونه کوي چې نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ټولو ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي ژوند د تصادفي زیان، د ملکیانو د ټپي کیدو او ملکي موخو ته د زیان د اوښتو د مخنیوي او د پیښیدلو په صورت کې د هغو د کمیدو په اړه ټول عملي احتیاطي تدبیرونه ونیسي.[157] دغه هغه ژمنه احتوا کوي چې موخه یې دکافي معلوماتو راټولول دي څو د برید په خاص موقعیت کې د هدف نیولو د ډاینامیکو حالتونو په شمول، د ملکي تلفاتو شتون وارزوي. کیدای شي دا په سیمه کې د ملکي ژوند د نمونو د تحلیل له لارې او همدارنګه په داسې طریقه سره ترسره شي په کوم کې چې خاص جوړښتونه کارول کیږي . دا په سیمه کې د ملکي ژوند د بڼې او له هغه لارې چې ځانګړي جوړښتونه پکې کارول کیږي د تحلیل له لارې ترسره کیدای شي، همدارنګه د ټولو هوایي بریدونو په اړه د یوې بشپړې، رڼې، عیني او بااعتباره بیاکتنې د ترسره کولو له لارې دکومې په پایله کې چې ملکي تلفات اوښتي د اتخاذ شویو احتیاطي تدبیرونو اغیزمنتوب و ارزوي.[158] ښکیلې خواوې مکلفي دي چې د هوایی عملیاتو په پلانولو او ترسره کولوکې د تناسب اصول مراعات کړي، او هغه برید لغوه یا وځنډوي که چیرې معلومه شي چې د ملکي زیان لامل کیږي او د ریښتني او مستقیم اټکل شوې پوځي موخې د اندازې څخه زیاته وي.[159]

حتی که چیرې د شخړې یو اړخ د نړیوال بشر دوستانه قانون د مراعاتولو په برخه کې پاته راځي، دا چاره مخالفې ډلې د نړیوال بشر دوستانه قانون له خپلو مکلفیتونو څخه نه خلاصوي.[160] د تناسب اصل د په پام کې نیولو سره پلې کیږي چې ایا هوایی بریدونه د پلان شویو، قصدي هدف ګرځولو د عملیاتو د یوې برخې په توګه ترسره کیږي یا دا چې د ځمکنیو ځواکونو پر وړاندې دګواښونو په ځواب کې ترسره کیږي.

## دویم: د تلاشي عملیات

**"هغه شپه د شپې په ۱۰ نیمو بجو درې لوېې چوړلکې زموږ دکلي ځخه لرې د دوو او دریو کیلو مترو په واټن په یوه پراټیستې سیمه کې په ځمکه کښیناستې. کله چې دوی زموږ کلي ته راورسیدل، پوځي ځواکونو عمومي دروازو ته چاودیدونکي توکي کښیښودل او دروازې یې والوزولې، په الوزولو سره یې دروازه خلاصه کړه او لوی غږ رامنځته شو. زه د خپلې خونې ځخه راووتم او ځلورو نارینه وو را ته وویل چې ساکت ودریږم، د سر شاته یې لاسونه راوتړل او زما شا یې دوی ته ورواړوله... د سهار په نږدې دریو بجو پوه شو چې سرتیري د کوم ځه ویلو پرته تللي او عملیات پای ته رسیدلي... ما خپل دوه زامن او دوه وریرونه چې په وینو لړلي وو او په ځمکه پراته وو، وموندل. دوي یې د هغوي د ستږګو له لارې په سر ویشتلي وو، دا زما د ژوند تر ټولو سخته شیبه وه. د دې حالت ځخه د وتلو لپاره، ما د خدای ځخه د صبر او قوت غوښتنه وکړه. زما لور او زما یواځنی ژوندي پاته شوی زوی د ټکان په حالت کې په ځمکه جسدونو ته نږدې پراته وو.... موږ قربانیان خاورو ته وسپارل او او بیرته خپلو کورونو ته ستانه شوو، د بې وزلۍ احساس مو کاوه ځکه چې موږ د خپلو ماشومانو د ساتنې لپاره د کوم کار د کولو توان نه درلود... زموږ په کلي کې هیڅوک هم نور د خوندیتوب احساس نه کوي. کله چې هم کومه چوړلکه زموږ د سر د پاسه الوتنه کوي، ټول هغه ماشومان چې د کورونو د باندې لوبې کوي منډې وهي او په خوندي ځایونو کې پټیږي ځکه چې دوي ویریږي. زما کورنۍ تباه شوې او زه نور هیڅ ژوند نلرم ، زه یوازې ژوندی پاته شوم."**

— د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالي کې د تلاشي په عملیاتو کې، په کوموکې چې د ۲۰۱۹ کال د اګست په ۱۱مه، ۱۱ تنه ملکي کسان ووژل شول، د قربانیانو د کورنۍ یو تن غړی

د تلاشي عملیات، چې اکثرا د "شپنیو عملیاتو" په نوم یادیږي ، د ۲۰۱۸ کال په پرتله په ۲۰۱۹ کال کې دوه سلنه ډیر ملکي تلفات رامنځته کړي، چې د ټولو وختونو په پرتله نوې کچې ته لوړ شوې. د جنوري د لومړۍ نیټې ځخه بیا د ډسمبر تر ۳۱مې پورې، یوناما د شپنیو عملیاتو له امله ټولټال ۳۶۰ ملکي تلفات (۲۷۶ مړینې او ۸۲ ټپي کیدنې) مستندکړې، د دغو تلفاتو زیاتره برخه د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو، د خوست د ساتندویه ځواک او په پکتیکا کې د میشتو "شاهین ځواکونو" لخوا رامنځته شوې.[161] یوناما د ۲۰۱۹ کال د لومړیو شپږو میاشتو په جریان کې د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه د ځانګړې زیاتوالي (۸۶ سلنه زیاتوالي)، یادونه کوي چې ور پسې دکال په دوهمه نیمایي کې (۴۲ سلنه کموالی) راغلي. که څه هم چې په دې برخه کې د راپور شویو ملکي تلفاتو ارقام د تلاشي د عملیاتو ځخه د ملکي زیان ټوله اندازه نه منعکسوي ځکه چې پدې ارقاموکې هغه ملکي تلفات شامل نه دي کوم چې د تلاشي د عملیاتو په جریان کې د ځمکنیو ځواکونو په ملاتړ د ترسره شویو هوایي بریدونو په پایله کې رامنځته شوي.

د ۲۰۱۸ کال د رجحاناتو برعکس، یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو لخوا د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۲ سلنه کمښت ثبت کړی دی، چې ټولټال ۱۹۰ ملکي تلفات (۱۴۸ مړینې او ۴۲ ټپي کیدنې) جوړوي.[162] په هر صورت، د دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا د تلاشي عملیات، کوم چې په اصل کې د شاهین ځواکونو لخوا پر مخ وړل شوي، د ملکي تلفاتو کچه ۴۲ سلنه زیاته کړې او ۶۳ ملکي تلفات (۶۱ مړینې او دوه ټپي کیدنې) یې اړولي.[163] په سیمه کې د نړیوالو ځواکونو سره په شراکت کې د دغو ځواکونو لخوا د تلاشي عملیات په پرله پسې توګه ترسره شوي.

## د ۲۰۱۹ کال په مهال د تلاشۍ د عملیاتو
## په پایله کې ملکي تلفات




یوناما د هغه څه په اړه چې د په خپل سر اعدامونو د پراخولو په اړه ورته اشاره کیږي چې د تلاشي د عملیاتو په زمینه کې ترسره کیږي، په پرله پسې توګه اندیښنه لري. د هغو تپیانو په پرتله چې د تلاشي د عملیاتو په پایله کې رامنځته کیږي، د وژل شویو انفرادي کسانو لوړ شمیر د دې رجحان نښه ده.

یوناما داسې قضیې مستندې کړې په کوموکې چې د ملي امنیت ریاست ځانګړو ځواکونو، د خوست ساتندویه ځواک او شاهین ځواکونو له نږدې واټن څخه انفرادي کسان په عمدي توګه په ډزو ویشتلي، په دې کې داسې حالتونه هم موجود وو په کوموکې چې د اشخاصو د نیولو امکان شتون درلود. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۱۴مه، د شپې په نږدې ۱۰ بجو، د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په سهاکو سیمه کې د خوست ساتندویه ځواک د نړیوالو پوځي ځواکونو په هوایي ملاتړ د هیبت خیلو په کلي کې د طالبانو پر وړاندې د تلاشي عملیات ترسره کړل. د عملیاتو په جریان کې، د خوست ساتندویه ځواک د یوې کورنۍ پنځه تنه ملکیان، پلار، د هغه درې زامن او د هغه وراره ووژل.د سرچینو په حواله، د خوست ساتندویه ځواک هغوي د خپل کور څخه د باندې راوایستل اووروسته یې د هغوي دکور تر مخ ووژل. په دا بله ورځ د زرمت اوسیدونکو د مړو جسدونه د ګردیز ښار ته راوړل او د ولایت مقام د ودانۍ مخې ته یې د وژنو په هکله احتجاج وکړ.

ډیری وختونه د تلاشي عملیات په چټکې سره په ځمکنیو نښتو اوښتي. د بیلګې په توګه، د جنوري په ۱۷، د ماسپښین

په نږدې څلورو بجو د کندهار ولایت په میوند ولسوالي کې د "ملا عمر له کور" [164] څخه د ملي امنیت د ریاست ۰۳ قطعې د تلاشي عملیات ترسره کړل چې له امله یې د ملي امنیت د ریاست د ۰۳ قطعې او طالبانو ترمنځ نښتې پیل شوې. د طالبانو د بریدونو په ځواب کې د ملي امنیت ۰۳ قطعې راکټونه وتوغول چې د استوګنې په دووکورونو را پرېوتل چې په نتیجه کې یې د یوې میرمنې او دریو ماشومانو په ګډون پنځه تنه ووژل او د دوو میرمنو او یوه ماشوم په ګډون څلور نور ټپیان کړل. یوناما د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ملي امنیت ریاست ته مراجعه وکړه، خو هغو په دې اړه د معلوماتو د ورکولو څخه ډډه وکړه.

د ملکي ژوند د زیان سربیره ، یوناما د تلاشي د عملیاتو په جریان کې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او د خوست د ساتندویه ځواک لخوا غیرقانوني او پخپل سري توقیف په اړه راپورونه ترلاسه کړي. په ځینو دغو قضیوکې، یو شمیرکسان له دې پرته چې د هغوي کورنیو ته د هغوي په اړه معلومات ورکړل شي په غیر قانوني توګه نیول شوي.[165] په داسې حال کې چې د دې نهادونو تر ولکې لاندې په مرکزونوکې تر توقیف لاندې وو، یوناما د توقیف شویوکسانو په اړه چې شکنجه شوي یا ورسره ناوړه چلند شوی ، معتبر راپورونه ترلاسه کړې.[166]

یوناما خپله اندېښنه بیا تکراروي چې د ملي امنیت د ریاست ځانګړي ځواکونه، د خوست ساتندویه ځواک او شاهین ځواکونه په معافیت سره عملیات ترسره کوي. یوناما داسې موارد ثبت کړي په کوموکې د ولایت په کچه د افغان ملي امنیتي ځواکونو یا ملکي حکومتي چارواکو تر منځ د دې ډول عملیاتو پر مهال د همغږۍ نه شتون د دې ډول عملیاتو موثریت اغیزمنوي، په محلي کچه نازک او ماتیدونکي سیاسي او امنیتي کړنې متاثره کوي او د محلي چارواکو د هغې وړتیا مخه نیسي چې موخه یې د دغو پیښو څیړنه ده، کله چې د ملکي تلفاتو په اړه دا ډول ادعاووې راپورته شي. د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو، د خوست د ساتندویه ځواک او په ځانګړې ډول د شاهین ځواکونو لخوا د تلاشي د عملیاتو په اړه د محرمیت له امله، اطلاعاتو ته د لاسرسي، مرستې، ملاتړ او د تاوان او خسارې په بڼه کې د خسارې د ورکړې په حواله قربانیانو او د هغوي خپلوانو ته محدود انتخاب ورکول کیږي. داکړنی د دې سبب کیږي چې دولت ضد احساسات راوپاروي او د ملکي وګړو په منځ کې اعتراضات تشدیدکړي. ښکاري چې دا عملیات د قوماندې د حکومتي مراتبو د سلسلې د عادي کړۍ څخه بهر دي، کوم چې د دې عملیاتو لپاره د روڼتیا او حساب ورکونې د نشتوالي په اړه جدي اندیښنې راپورته کوي.

### دریم: د په خپل سر اعدامونو په شمول، عمدي وژنې

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د افغان ملي او امنیتي ځواکونو او دولت پلوه ځواکونو لخوا د عمدي وژنو ۳۰ پیښې مستندې کړې دکومو په نتیجه کې چې ټولټال ۷۳ ملکي تلفات (۵۳ مړینې او ۲۰ ټپي کیدنې) رامنځته شوي، چې ځینې یې د په خپل سر اعدامونو له لارې رامنځته شوي. یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ته ۷ پیښې (۱۳ مړینې او ۶ ټپي کیدنې)؛ د ملي امنیت ریاست ځانګړو ځواکونو او افغان ملي پولیسو هر یوه ته په ترتیب سره ۶ پیښې (۱۹ مړینې)؛(۶ مړینې او ۵ ټپي کیدنې)؛ افغان ملي پوځ او افغان سیمه ییزو پولیسو هر یوه ته په ترتیب سره پنځه پیښې (۴ مړینې او شپږ ټپي کیدنې) او؛ یوه پیښه (۲ مړینې او ۱ ټپي کیدنه) ناپیژاندو دولت پلوه ځواکونه ته منسوب کړې. په هغو پیښو په کوموکې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو یا دولت پلوه وسله والو ډلو لخوا ملکیان په عمدي توګه وژل شوي، یادې پیښې د جګړه ییزو عملیاتو په دننه او بهر او همدارنګه د تلاشي د عملیاتو په

جریان کې واقع شوې، کله چې ملکي وګړي د دولت ضد عناصرو د ډلو سره د ښکیلتیا په شک په خوندي توګه نیول کېدای او د قانون پلي کونکو چارواکو ته سپارل کېدای شواي. یوناما د قضیو یوه خواشینونکې بیلګه مستنده کړې په کوم کې چې د ملي امنیت د ریاست ځانګړي ځواکونه، د خوست ساتندویه ځواک، او پکتیکا کې میشت شاهین ځواکونه د شپې لخوا د خلکوکورونو ته ننوتي، نارینه یې د کورنۍ له نورو غړو څخه جلا کړې، او ځینې وختونه یې له نږدې واټن څخه اول په ډزو ویشتلي او وژلي دي.

د بیلګې په توګه، د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو ۰۲ قطعې د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښارکې د سپټمبر په ۴ مه د شپې لخوا د استوګنې په یوه کور د شکمنو داعش ملاتړو پر وړاندې عملیات ترسره کړل، چې هلته د عملیاتو پر مهال ۳۹ کسان (۱۱ نارینه، ۱۰ میرمنې او ۱۸ ماشومان) موجود وو. د ملي امنیت ۰۲ قطعې ښځې او ماشومان په ګاونډ کې یوه بل کور ته ولیږدول او نارینه یې توقیف کړل او لاسونو یې ور زولانه کړل او په ودانۍ کې یې د هغوی څخه په بیلابیلو موقعیتونو کې پوښتنې ګرویږنې وکړې. یو بل سړی چې د سیمې څخه د تیریدو په حال کې و د ملي امنیت د ۰۲ قطعې لخوا ونیول شو. ۴ نارینه، چې سره ورونه وو په خپل سر اعدام شول. هغوی یې کور ته دننه کړل او په جلا جلا خونوکې یې د نږدې واټن څخه په ډزو وویشتل. ۸ تنه نور نارینه یې د ملي امنیت په موټرو کې د نورو تحقیقاتو په موخه د جلال اباد هوایي ډګر ته له ځانه سره راوستل. په دا سبا سهار، د ننګرهار ولایت د ملي امنیت د ریاست ته انتقال شو او وروسته له بند څخه خوشي شول. د ملي امنیت ۰۲ قطعې په یوه خپاره شوې مطبوعاتي بیان کې وویل چې د عملیاتو موخه د داعش ډلې څلور تنه مالي ملاتړکونکي او د ننګرهار ولایت لپاره د داعش ډلې مالي مدیر وو.[167] د دې پیښې په اړه د عامه اعتراض وروسته، د ملي امنیت د ریاست مشر، معصوم ستانکزي استعفا کړه.[168] د دې راپور تر لیکلو پورې، یوناما د جرمي تحقیقاتو او د دغو وژنو لپاره د مرتکیبینو د عدلي تعقیب په حواله معلومات ندی ترلاسه کړي.

یوناما یو شمیر داسې پیښې هم مستندې کړي په کوموکې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو غړو د طالب جنګیالیو د کورنۍ غړي په قصدي ډول د دې لپاره وژلي چې د دوی پر وړاندې د بریدونو غچ له طالبانو څخه واخلي. د بیلګې په توګه، د نومبر په ۲۵مه، د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالي کې دوو وسله والو طالب جنګیالو د افغان سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان په ډزو وویشت او وواژه. دې پیښې ته په غبرګون کې افغان سیمه ییز پولیس د طالب جنګیالو د یوه تن کور ته ورغلو او د هغه ورور چې یو روغتیایي کارکونکی دی په ډزو وویشت او ټپي کړ. د یادې پیښې په جریان کې، افغان سیمه ییزو پولیسو په کلیوالو ډزې وکړې او دوه نور ملکیان یې ټپیان کړل.

په نورو قضیو کې، ملکیان د شوکې د ناکامه هڅو په جریان کې په ډزو وژل شوي. د بیلګې په توګه، د اکتوبر په ۳۰مه، د زابل ولایت په قلات ولسوالي کې، د افغان ملي پولیسو دوو افسرانو چې د تلاشي په یوه پوسته کې میشت وو د لارۍ موټر چلونکی څخه د پیسو د ورکړې مطالبه کوله چې هغه د ورکړې څخه انکار وکړ په ډزو وویشت او وواژه. د نومبر په لومړۍ، په سلګونو موټړ چلوونکو د قتل په غبرګون کې اعتراض وکړ او د کابل ـ کندهار لویه لاره یې بنده کړه، چې د ځايي مشرانو او د ولایتي شورا د غړو لخوا د منځګړیتوب وروسته بیا پرانیستل شوه. د افغان ملي پولیسو دوه افسران چې له ادعا سره سم په دې پیښه کې تورن وو په هماغه ورځ



د سپټمبر په ۵مه، نږدې ۸۰۰ کسانو د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښارکې د والي د دفتر پر وړاندې اعتراض وکړ، او د ۲۰۱۹کال د سپټمبر په ۴مه د شپې پر مهال د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو لخوا د هغوي په‌کورکې د څلور تنو نارینه وو د وژل‌کیدو په اړه د عدالت غوښتنه وکړه. انځور: ببرک امیر زاده/پژواک

نیول شوي او د دوي قضیې ولایتي پوځي څارنوالي ته د تحقیقاتو په موخه واستل شوې.[169]

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د شخړې د ښکیلې هرې ډلې لخوا وژنه، د هغو اشخاصو وژنه چې په نښتوکې فعاله ونډه نه اخلي، په ښکاره ډول د جنیوا کنوانسیون د ۳ عمومي مادې لخوا په هر وخت او هر ځای کې منع اوکېدای شي جنګي جرم وګڼل شي. د دې علاوه، حتی که چیرې د شخړې ښکیلې خواوې د هغو ملکیانو د وضعیت په اړه چې د تلاشي د عملیاتو په جریان کې په عمدي توګه وژل شوي د یوناما له موندنو سره موافق نه دي، یوناما ټینګارکوي چې، د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې، د هغه چا پر وړاندې چې د جګړې د میدان څخه بهر شوی وي، د ژوند پر وړاندې تاوتریخوالی، په ځانګړي ډول وژنه یا شکنجه منع دی او جنګي جرم ګڼل کیږي. پدې کې هر هغه څوک شامل دی چې د مخالف اړخ په واک کې وي یا څوک چې د تسلیمۍ څرګندە ارادە لري، په دې شرط چې هغوي (نارینه او ښځې) له دښمنانه عمل څخه ځان وساتي او د تېښتې هڅه ونه کړي.[170] د بیلګې په توګه، په یوه داسې حالت کې چیرې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه یا دولت پلوه وسله والې ډلې د تلاشي د عملیاتو په جریان کې انفرادي‌کسان څوک چې نورګواښ نه پیښوي توقیف او وژني، د دوی وژنه پرته لدې چې ملکیان دي یا نه د نړیوال بشردوستانه قانون څخه سرغړونه ده ، او جنګي جرم ګڼل کیږي.

یوناما همدارنګه ټینګارکوي چې د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د یوه شخص غیر قانوني وژنه د ژوند له حق څخه سرغړونه تشکیلوي. دولتونه باید د قانون د انفاذ د عملیاتو او د ژوند د حق د ادعا شویو سرغړونو په زمینه کې چې د وسله والې شخړې په جریان کې ترسره شوې وي، د دوي د نمایندګانو لخوا د وژونکي قوي په‌کارولو سره څیړنې ترسره کړي.[171]

# ۵. ځمکنۍ ننښتې: د دړزو په تبادله کې راګیر ملکیان

**"زه د خواجه سبز پوش بازار د ګاڼو د خرخلاو په سیمه کې د ګاڼو د پوستکو په اخیستلو بوخت وم کله چې یوه لویه چاودنه رامنځته شوه او ټول ځای تیاره شو او بیا نه پوهیږم څه پیښ شول. کله چې مې خپلې سترګې پرانیستې، پوه شوم چې په یوه موټرکې یم او زما کالي په وینو رنګ و، په موټر کې ځینې نور ټپیان هم وو. هغو کسانو چا چې زموږ خیال ساتو ما ته وویل چې زه ټپي شوی یم او د میمنې روغتون ته په لار یوو. زموږ ډاکټر صاحبان زموږ د ژغورلو لپاره پوره کوښښ کوي، خو ښکاري چې د ټپیانو شمیر زیات دی نو له دې امله به هغوي و نشی کولای هر ناروغ ته کافي وخت ورکړي. زه اوس ښه احساس کوم. د چاودنې څخه د مخه، موږ په پراګنده ډول د هاوانونو د توغولو اوازونه اوریدل او په بازار کې موجود خلک اندیښمن وو او ویل یې چې " ولې افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونه د بازار د ورځې پر مهال د هاوانونو ډزې کوي؟". موږ دعا کوله چې خدای وکړي کوم څه ناسم پیښ نشي. له بده مرغه، یو لوی بشري ناورین رامنځته شو، د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو لخوا توغول شوی هاوان د بازار په سیمه راپریوت او دغه پیښه یې رامنځته کړه. "**

– د میمنې ښار په یوه بازارکې د افغان ملي پوځ د توغول شوې هاوان قرباني، د ۲۰۱۹ کال د جولای ۵مه.

**الف. عمومي کتنه**

په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ۲۰۱۳ کال راهیسې د ځمکنیو ننښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر ټولوکم شمیر ثبت کړی. د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱مه پورې، په افغانستان کې د ځمکنیو ننښتو له امله ټولټال ۳۰۵۷ ملکي تلفات (۷۶۳ مړیني او ۲۲۹۴ ټپي کیدنې) رامنځته شوي چې دا د ۲۰۱۸ په پرتله ۱۰ سلنه کموالی ښیې. یوناما د ۲۰۱۷ کال راهیسې د ځمکنیو ننښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو د دوامداره کمښت هرکلی کوي. که څه هم چې، د ځانمرګو او غیر ځانمرګو په لاس جوړ چاودیدونکو توکو له کچې استعمال څخه وروسته، ځمکنۍ ننښتې د ملکي تلفاتو دوهم مخکښه لامل پاتې شوی، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه برخه جوړوي. یوناما همدارنګه د ځمکینو ننښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۷ سلنه زیاتوالی مستندکړی چې د وسلو د غیر مستقیمو سیستمونو، د بیلګې په توګه، د هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو له امله رامنځته شوي چې اکثرا بې توپیره اغیزې لري.

د ځمکنیو ننښتو په پایله کې د ملکي تلفاتوکمښت په عمده ډول د شخړې د ښکیلو ډلو تر منځ د دړزو د تبادلې له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د ۴۴ سلنې کمښت له امله وو.[172] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د دړزو د دې ډول تبادلې په پیښوکې ټولټال ۵۱۰ ملکي تلفات (۱۲۴ مړیني او ۳۸۶ ټپي کیدنې) مستندکړې دي، چې د ځمکنیو ننښتو په پایله کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۷ سلنه ښیې.

د تیرو کلونو پر خلاف چې کله د حکومت ضد عناصرو د ځمکنیو ننښتو له امله ډیر ملکي تلفات اړولي، دولت پلوه ځواکونو د دې تاکتیک د نومونې دکارولو په نتیجه کې په ۲۰۱۹ کال کې د دولت ضد عناصرو په پرتله لږ څه زیات ملکي تلفات اړولي.

## د ۲۰۰۹ـ ۲۰۱۹ پورې د ځمکنۍ نښتو له امله ملکي تلفات




د جنوري د لومړی نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ مه پورې، دولت ضد عناصرو د ځمکنیو نښتو له امله ټولټال ۱۲۲۹ ملکي تلفات (۲۶۱ مړیني او ۹۶۸ ټپي کیدنې) اړولي، چې دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښیي.[173] په ټوله کې، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې د رامنځته شویو ملکي تلفاتو ۴۰ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې، چې ډیری برخه یې د طالبانو لخوا رامنځته شوې.[174] یوناما په ۲۰۱۹ کې دولت پلوه ځواکونو ته ۱۲۶۰ ملکي تلفات (۳۶۳ مړیني او ۸۹۷ ټپي کیدنې) منسوب کړې، دا د تیرکال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښیي.[175] د دولت پلوه ځواکونه د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو د ۴۱ سلنې مسؤل وو، چې په عمومي توګه د افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي.[176] د ځمکنیو نښتو له امله ۵۸ ملکي تلفات (۱۵ مړیني او ۴۳ ټپي کیدنې) د پولې په اوږدو کې د ډزو له امله پاکستاني پوځي ځواکونو ته منسوب شوي.[177]

ښځې او ماشومان په پرله پسې توګه د ځمکنیو نښتو له امله زیانمن کیږي. د جنوري د ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ هغې پورې، یوناما ټولټال ۱۲۲۳ ملکي تلفات (۲۷۰ مړیني او ۹۴۳ ټپي کیدنې) ثبت کړي، چې دا د ۲۱۰۸ کال د ارقامو سره ورته دي.[178] د ټولټال ۵۲۴ ملکي تلفاتو (۱۴۲ مړینو او ۳۸۲ ټپي کیدنو) په درلودلو سره د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ښځو تلفات ۹ سلنه کم شوي.[179]

یوناما د هیواد په سویل، سویل ختیځ او ختیځو سیموکې د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتوکمښت مستندکړی.[180] په سویلي سیمه کې، هغه رجحان چې د ځمکنیو نښتو د اړوندو ملکي تلفاتو د کمیدو په برخه کې پیل شوی په ځانګړي توګه په هلمند، ارزګان او کندهار ولایتونوکې دوام لري.[181] په ختیځه سیمه کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله لږ ملکي تلفات مستندکړي کوم چې داعش ته منسوب شوي، دې د ملکي تلفاتو په دې نمونه کې په ننګرهار اوکنړ ولایتونوکې

د پام وړ کمښت سره مرسته کړې. دغه کمښتونه، د ځمکنيو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو د هغې لوړې کچې له امله چې په عمده توګه د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو په جریان او همدارنګه په شمالي، شمال ختیځو، شمالي، مرکزي، او لویدیزو سیموکې د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره شوې، بیرته پوره شوې.[182]

## ب. غیر مستقیمې ډزې

په ۲۰۱۹ کال کې، د ځمکنیو نښتو په جریان کې غیر مستقیمې ډزې د ټولټال ۲۱۵۵ ملکي تلفاتو (۴۸۶ مړینو او ۱۶۶۹ ټپي کیدنو) لامل شوې، چې دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ۷ سلنې زیاتوالي لامل شوی او په روان کال کې د ټولو ملکي تلفاتو له یو– پر پنځمې برخې څخه زیات په ګوته کوي.[183] یوناما د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د عمومي زیاتوالي په اړه اندیښنه لري، او هغه کمښت په څټ وهي کوم چې په تیرو دووکلونوکې مستند شوی.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې دولت ضد عناصرو ته د غیر مستقیمو ډزو له امله ټولټال ۸۰۶ ملکي تلفات (۱۴۴ مړینې او ۶۶۲ ټپي کیدنې) منسوب کړي، دا د دې ډول وسلو له امله د ټولو وژل شویو یا ټپي شویو ملکیانو ۳۷ سلنه او د ۲۰۱۸ کال په پرتله اته سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. دولت پلوه ځواکونه د



د طالبانوسره د نښتې پر مهال د افغان ملي پوځ له خوا د هاوان د ترسره شوي برید په پایله کې د شدیدې سوځیدنې او په پښو د ټپونو له امله د هلمند په لشکرګاه کې په یوه روغتون کې یوه ځوانه نجلۍ تر درملنې لاندې ده عکس: ستيفاني ګلېنسکي

غیر مستقیمو ډزو دکارولو له امله د ټولټال ۱۰۶۱ ملکي تلفاتو (۲۸۳ مړینو او ۷۷۸ ټپي کیدنو) مسؤل وو، د دې تاکتیک د کارولو له امله د ټولو تلفاتو نږدې نیمايي برخه او د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د غیر مستقیمو ډزو له امله د زیاتو ملکي تلفاتو مسؤل وو. پاته ملکي تلفات یا خو د هغو پیښو له امله په کوموکې چې د شخړې مسؤل اړخ نه شوای پیژندل کیدلای (۱۱ سلنه) [184] یا خو د پولو په اوږدو کې د ډزو له امله (دوه سلنه) رامنځته شوي.[185]

یوناما مستنده کړې چې د ډزو غیر مستقیم سیستمونه د ټولو ځمکنیو نښتو د تلفاتو د نږدې دری ربعې لامل شوي او د مستقیمو ډزو په پرتله یې په اوسط ډول په هره پیښه کې زیات ملکي تلفات اړولي. یوناما خپله اندیښنه بیا تکراروي چې په ملکي ګڼ میشتو سیموکې د هاوانونو، لاسي بمونو او راکیټونو کارول د دغو وسلو د نوعیت له امله د ملکي زیان لوړ خطرونه له ځان سره لري، دا سیسټمونه د هدف په لور د لید د مستقیمې کرښې پرته توغول کیږي، دا همدارنګه دقیق ندي اوکیدای شي د ساحې پراخي اغیزې ولري. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۳۰مه، د افغان ملي پوځ او طالبانو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې پر مهال د هاوان یوه توغول شوې مرمۍ د غزنی ولایت د اندړو ولسوالۍ د یوه ښوونځي پر انګړ راپریوته چې له امله یې د ښوونځي څلور زده کونکي او یو ښوونکی ووژل، په داسې حال کې چې د ښوونځي ۱۷ زده کونکي او یو نارینه ښوونکی ټپیان شول.

د ۲۰۱۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د رایې ورکولو په ورځ، په ځانګړي توګه د غیر مستقیمو ډزو د پراخې کارونې له امله د زیاتو ملکي تلفاتو شاهده وه. د دې ډول ۶۰ پیښو په شمول چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې او ۱۶ نورې پیښې چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د غبرګونونو په پایله کې رامنځته شوې، په ټوله کې، د رایی ورکولو په ورځ د دې وسلو دکارولو له امله ټولټال ۲۳۰ ملکي تلفات (۲۹ مړینې او ۲۰۱ ټپي کیدنې) رامنځته شوې. [186] د بیلګې په توګه، طالبانو د سرپل ولایت په سوزمه کلا ولسوالي کې د راي اچولو د مرکز په لور د هاوان یوه ګولۍ وتوغوله چې په نتیجه کې یې یو اته کلن هلک ماشوم ووژل شو او نور ۲۰ تنه ملکیان (۱۲ نارینه او ۸ هلکان) ټپیان شول. سربیره پردې، پیښه د رای ورکونې د مرکز د تړلو لامل شوه او په ټاکنوکې یې دګډون کولو پر حق اغیزه کړې.

د دې وسلو څخه د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره، دکومو رهبري کول چې یو ستونزمن کار دی اوکوم چې په سیمه کې پراخې اغیزې لري، یوناما د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي هغه لارښودونه خپاره او پلي کړي کوم چې په ګڼ میشتو سیموکې د غیر مستقیمو وسلو کارول منع کوي. د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې، د شخړې ښکیلې خواوې مکلفي دي چې د ملکي وګړو او جنګیالیو، او ملکي شیانو او پوځي اهدافو تر منځ، د وسلو د انتخاب له لارې په شمول، او په دې کې پاته راتلل ممکن په جنګي جرمونوکې وشمیرل شي، واضح توپیر وکړي. د توپیر د اصولو، د نړیوال بشر دوستانه قانون سره د اجابت په موخه د مخالفو ډلو د ناکامي پرته، د بیلګې په توګه، د پوځي موخو لپاره دکورونو او نورو ملکي موخو دکارولو په شمول، هغه ژمنه چې موخه یې د شخړې د ښکیلو ډلو لخوا د نړیوال بشر دوستانه قانون رعایتول دی، پر خپل ځای پاته ده. د دې سربیره، د ځمکنیو نښتو په جریان کې د غیر مستقیمو ډزو کارول هم په بالقوه توګه سیمې په ناچادو توکوککړوي، له هغه وروسته چې جګړې کمیږي د لا زیاتو ملکي تلفاتو، په خاص ډول د ماشومانو د تلفاتو د واردولو امکان زیاتوي.[187]

## ج. مستقیمې ډزې

په ۲۰۱۹ کال کې، د ځمکنیو نښتو په جریان کې د مستقیمو ډزو د کارولو له امله ټولټال ۷۶۵ ملکي تلفات (۲۳۴ مړینې او ۴۳۱ ټپي کیدنې) رامنځته شوي، چې دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳۷ سلنه کمښت ښیې. دولت ضد عناصر د دغو ملکي تلفاتو (۵۳ سلنې) د نیمايي څخه د زیاتي برخې لپاره مسؤل پاته شوي، په داسې حال کې چې د مستقیمو ډزو د پیښو په پایله کې ۲۳ سلنه ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. د ملکي تلفاتو پاتې ۲۴ سلنه په ځانګړي ډول دولت ضد عناصرو یا دولت پلوه ځواکونو ته نشی منسوبیدلای. دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوې ۱۸ سلنې زیاتوالي په پرتله، یوناما د دې تاکتیک د ډول په پایله کې دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې ۳۴ سلنه کمښت ثبت کړی. ملکي وګړي د ډزو له امله په پرله پسې توګه د دوي د استوګنې په سیمو کې، او همدارنګه په عامه سړکونو د سفر پر مهال، دکرهنیزو فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال او د خپلو ورځنیوکارونو د ترسره کولو پر مهال د ځمکنیو نښتو په جریان کې اغیزمن شوي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۷مه، د بادغیس ولایت په آب کمري ولسوالي کې درې تنه نارینه (د یوې ښځې په شمول) هغه مهال ووژل شول او درې تنه نور (د دوو ښځو او یوې نجلۍ په شمول ) ټپیان شول چې کله دوي د طالبانو او افغان ملي پوځ تر منځ د ډزو په تبادله کې را ګیر شول. طالبانو د خلکو د کورونو په دننه کې ځانونه ځای پر ځای کړي وو، دې اوسیدونکو ته د قربانیانو په شمول چې د تیښتې هڅه یې کوله، دوي د فعالو نښتو په جریان کې په ډزو د ویشتلو د خطر په معرض کې واقع کوي.

## د. د پولې په اوږدو کې پیښې

یوناما د پاکستان څخه د پولې په اوږدو کې د پیښو د اغیزې په اړه کوم چې په افغانستان کې ملکي وګړي متاثره کوي، اندیښنه لري. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د پولې په اوږدو کې ۲۹ پیښې مستندې کړې[188]، دکومو په نتیجه کې چې ۶۵ ملکي تلفات اوښتي، (۱۶ مړینې او ۴۹ ټپي کیدنې).[189] د دغو پیښو ۱۹ او د ملکي تلفات ډیری برخه د ختیځ کنړ ولایت په سرحدي سیمه کې د غیر مستقیمو ډزو له امله رامنځته منځته شوې. د ملکیانو د وژنې او ټپي کیدنې تر څنګ، دغو پیښو جایدادونو ته زیان اړولی او څاروي یې له منځه وړې. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۹ کال د اګست په ۸مه، یو ملکي نارینه او دوه هلکان چې عمرونه یې ۹ او ۱۲ کاله وو، دکنړ ولایت په مروره ولسوالۍ کې د پاکستان لخوا د هاوان د توغول شویو مرمیو له امله ټپیان شول.

# ۶. د احتساب د هڅو په ګډون، د ملکي تلفاتو د راکمونې پالیسي ګانې او میکانیزمونه

یوناما د افغان دولت، افغان ملي امنیتي ځواکونو، نړیوالو پوځي ځواکونو او طالبانو لخوا د هغوي د عملیاتو په پایله کې له رامنځته شوي زیان څخه د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د ترسره شویو هڅو یادونه کوي، څرنګه چې په لاندې توګه په ګوته شوي. په ورته وخت کې، ملکي وګړي لا هم د زیان لوړې کچې ګالي. یوناما دا مني چې له زیان څخه د ملکي وګړو د ژغورنې تر ټولو غوره لار د جګړې ذکر شوی حل او د سولې او پخلاینې ټول ګډونه تګلاره ده، کومه چې د دوامدارې سولې لپاره خورا مهمه ده. په ورته وخت کې، ملکي وګړو ته د زیان د مخنیوي او راکمونې لپاره د ډېرو نورو هڅو ترسره کولو ته اړتیا ده.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د جګړې له ښکیلو خواوو غوښتل کیږي چې د ملکي تلفاتو راتلونکي تورونه وڅیړي، او د عدلي تعقیب په ګډون چیرې چې مناسب وي، احتساب ډاډمن کړي.[190] یوناما همدارنګه ټینګارکوي چې د بشري حقونو نړیوال قانون د قربانیانو د حقیقت، عدالت او خسارې د جبران حقونه په رسمیت پیژني، په کوموکې چې د مسؤلو خواوو دا مکلفیتونه هم شامل دي چې حقایق وڅیړي او هغه د نورو سرغړونو د رامنځته کیدو په مخنیوي کې د یوه اقدام په څیر خلکو ته په ډاګه کړي.[191] دا خورا مهمه ده چې د جګړې ښکیلې خواوې موثرې څیړنې ترسره کړي او په خپلو موندنوکې شفاف واوسي، څو پر ملکي وګړو د خپلو عملیاتو اغیز درک کړي، د زیان د بیا رامنځته کیدو د مخنیوي لپاره مناسب ګامونه ترسره کړي، احتساب ته وده ورکړي او د دوي لخوا د رامنځته شوي زیان د سمون لپاره لاس په کار شي.

یوناما په اندیښنې سره د دې یادونه کوي چې د جګړې د ښکیلو خواوو لخوا د خپلو عملیاتو په پایله کې ملکیانو ته اوښتی زیان ردوي یا یې کچې کمې ښیي؛ دغه اداره همدارنګه د دې یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د تورونو په موثرو څیړنو یا موندنوکې د روڼوالي په رامنځته کولوکې پاتې راتلل په اوږد مهال کې وګړي لا پسې ځپي اوګوښه کوي. یوناما له افغان دولت، افغان ملي امنیتي ځواکونو، نړیوالو پوځي ځواکونو او طالبانو څخه غوښتنه کوي چې د هغو پېښو چټکې، موثرې او شفافې څیړنې ډاډمنې کړي چې د ملکي تلفاتو او ملکي زیان لامل شوي. د څیړنو پایلې او د ملکي تلفاتو نوره اړونده ډیټا باید په منظم ډول د زده شویو لوستونو له تمرینونو سره شریکه کړي، کوم چې به په اړوندو پالیسي ګانو اوکړنوکې د بدلونونو د رامنځته کولو لامل شي. یوناما د جګړې پر ښکیلو خواوو غږکوي چې له قربانیانو، هغوي له کورنیو او په پراخه کچه له ټولو وګړو سره خپلې موندنې شریکې کړي.

### الف. افغان دولت او افغان ملي امنیتي ځواکونه

په ۲۰۱۹ کال کې، افغان دولت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمونې په اړه د ملي پالیسي (په رسمي ډول د ۲۰۱۷ کال په اکتوبرکې تصویب شوې) د بشپړ تطبیق لپاره خپل اقدامات جاري ساتلي. دولت د ماین پاکۍ د چارو د همغږۍ د ریاست له لارې د مشخصو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کنوانسیون د پنځم پروتوکول (کوم چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري میاشت کې تصویب شوی) د تطبیق لپاره د یوه میکانیزم د رامنځته کولو

لپاره خپل کار جاري ساتلی.[192] یوناما د ملکي تلفاتو د باوري تورونو د مستندکولو لپاره د دولت د سیستم په تړاو د ملي امنیت د شورا په مشرۍ د مشبتو پرمختګونو یادونه کوي. په دغو پرمختګونوکې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د راپور ورکونې یوه معیاري بڼه، د ملي ډیټابیس تاسیسول او د ملکي تلفاتو د تورونو د معلوموونکي/ټرکر جوړول شامل دي.

د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، دولتي چارواکو د ملکي تلفاتو د مخنیوي، راکمونې او څیړنې په اړه زیاتې خبرتیاوې ورکړې،[193] چې دغه کار زیاتره د ټولنې لخوا د لاریونونو له ترسره کولو او د رسنیو تر پاملرنې وروسته ترسره شوی. وخت نا وخت دولت د هغو پېښو د څیړلو لپاره د ولایت په کچه پلاوي جوړ کړي، چې له امله یې ملکي تلفات رامنځته شوي وي، یا یې پر ځای له کابل څخه پلاوي لیږلي څو د ولایتي چارواکو سره د دغه ډول څیړنو په ترسره کولو کې مرسته وکړي.[194] په دغو څیړنوکې د هغو ملکي تلفاتو څیړل شامل دي چې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو، د خوست ساتنې ځواک او شاهین ځواکونو لخوا د ترسره شویو حساسو عملیاتو په پایله کې رامنځته شوي، کوم چې په تیرو وختونوکې په ښکاره ډول ندي څیړل شوي. یوناما د دغو هڅو هرکلی کوي، خو له دولت څخه له عامو خلکو سره د دغو څیړنو د پایلو د شریکولو غوښتنه کوي. لکه د جولای پر ۹-۸ مه نېټه د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو لخوا د میدان وردګو ولایت په دایمرداد ولسوالۍ کې په یوه روغتیایي مرکزکې د عملیاتو؛ د اګست پر ۱۱–۱۲ مه د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې د شاهین ځواکونو لخوا د عملیاتو؛ د سپتمبر پر ۴ مه نېټه په جلال اباد ښارکې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو لخوا د عملیاتو؛ او د سپتمبر پر ۲۲ نېټه د هلمند ولایت په موسی قلا کې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او نړیوالو پوځې ځواکونو لخوا د عملیاتو په څیر د لوړې کچې د پېښو د څیړنو پایلې له دې امله چې یا محرمې ګڼل شوي یا هم تر اوسه څېړنې دوام لري، یا لا تر اوسه د یوناما لپاره د لاسرسی وړ نه دي ګرځول شوي.

د ۲۰۱۹ کال په دویمه نیمایي کې، ولسمشر غني په مکرر ډول د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د تلاشي پر عملیاتو مشخص بندیزونه وضع کړي، دکومو په پایله کې چې دکال په څلورمه ربعه کې د دغه ډول عملیاتو له امله په ملکي تلفاتوکې د پام کموالی رامنځته شوي. یوناما افغان دولت او افغان ملي امنیتي ځواکونه د لوړې کچې تر پېښو ها خوا د څیړنو د پراخولو او پیاوړي کولو ته هڅوي.

یوناما د هغو پېښو په اړه معلومات چې ملکي تلفات له ځان سره لري، له افغان ملي امنیتي ځواکونو او د ملي امنیت له شورا سره شریک کړي. یوناما د بشري حقونو د خپلو ساحوي ټیمونو له لارې له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په ځایي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د ملکي تلفاتو د پیښو او جریاناتو په اړه خپل منظم ډیالوګ جاري ساتلی. یوناما د منظم ګډون قدرداني کوي او افغان ملي امنیتي ځواکونه د ملي امنیت له شورا او یوناما سره د معلوماتو د شریکولو هڅو پیاوړي کولو ته هڅوي. یوناما د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه د ملي امنیت په شورا کې د سولې او ملکي وګړو د ژغورنې/ساتنې د نوي تاسیس شوي ریاست له لارې د زیات تمرکز او پاملرنې هرکلی کوي.

دکورنیو چارو وزارت د یوناما لخوا شریک شویو ۱۴ پېښو ته غبرګون ښودلی او په ډاګه کړې یې ده چې په دغو پېښوکې د افغان ملي پولیسو لخوا کوم ملکي تلفات نه دي اړول شوي. سربیره پر دې، افغان سیمه ییزو پولیسو د یوناما لخوا شریک شویو ۷ پېښو ته غبرګون ښودلی او په ډاګه کړې یې ده چې دوي په دغو پېښوکې د هیڅ ملکي تلفاتو لامل شوي نه دي.

د ملي امنيت رياست د يوناما لخوا شريک شويو ۱۰۷ پېښو ته غبرګون ښودلی او موندلې يې ده چې دوي په ۱۹ پېښوکې د ۵۲ ملکي تلفاتو (۴۱ مړه او ۱۱ ټپي) لامل شوي. ، د ملي امنيت رياست په ډاګه کړې چې د دوي لخوا په پاتې نورو پېښوکې د ملکي تلفات نه دي رامنځته شوي، يا هم تلفات د دولت ضد عناصرو لخوا رامنځته شوي.

د دفاع وزارت د يوناما لخوا په ۲۰۱۹ کال د شريک شويو پېښو د هيڅ يوې په اړه غبرګون ندی ښودلی.

يوناما د ملکي تلفاتو د مخنيوي اوکمونې په ګډون د بشرپالنې د نړيوال قانون په اړه د افغان ملي امنيتي ځواکونو په روزنه، سلا مشوره او مرسته کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د دوامدار ملاتړ قدرداني کوي. د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموريت له معلوماتو سره سم، افغان ملي امنيتي ځواکونو د ملکي تلفاتو په راپور ورکولو او ډيټا راغونډولو؛ د دولت او افغان ملي امنيت ځواکونو د چارواکو ترمنځ د ملکي تلفاتو د مخنيوي او راکمونې په اړه په پوهاوي؛ تر پېښې وروسته تعقيب اخيستل او قربانيانو سره د ملاتړ؛ او د ملکي تلفاتو د ارزونو او څېړنو په برخوکې پرمختګ شوی. د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د ملکي تلفاتو د مخنيوي راکموونې له هيئت سره د CIVCAS د درې مياشتنې خپرونې په تنظيم کې مرسته کړې.[195] د افغان ملي امنيتي ځواکونو د هوايي ځواک د وړتياوو په پراخولو سره، د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت په فعال ډول په ننبه کولوکې د هغوي په روزنه بوخت دي، لکه د عملياتو د پلانولو په پړاوکې د بالقوه ملکي زيان ارزول او د بريد د متناسبو وسيلو په اړه د باخبره انتخابونو ترسره کول.

## ب. نړيوال پوځي ځواکونه

د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، يوناما په افغانستان کې د متحده ايالاتو له ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ له ماموريت سره خپله همکاری جاري ساتلې، چې په منظم ډول يې د ملکي تلفاتو د پېښو او جريانونو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. په ۲۰۱۹ کال کې، په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د موثريت د زياتولو په موخه د ملکي تلفاتو د بيا کتنې پروسې له سره بيا تنظيم کړي. تر ۲۰۱۹ پخوا او د دغه کال په پيل کې، د ملکي تلفاتو تورونو بيا کتنه به د ملکي تلفاتو د اعتبار د ارزونې د بيا کتنې د بورډ، کوم چې د موضوع اړوند پوځي او ملکي کارمندانو څخه تشکيل و، لخوا ترسره کيده.[196] د ملکي تلفاتو ارزونې به د عملياتو د رييس (CJ3)، يو داسې رول چې د متحده ايالاتو پر ځای به په نمونه يي ډول د ناټو د ګډونکو غړو هيوادونو د يوه غړي لخوا اشغال کيده، په تاييد د رايو په اکثريت ترسره کيدې. د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو په اوږدوکې د عملياتو او هوايي بريدونو په شميرکې د زياتوالي په پايله کې د ملکي تلفاتو تورونه هم زيات شول، چې له امله يې د بيا کتنې په چاروکې زياتوالی رامنځته شو. د دغې پروسې دګړندي کولو په يوه هڅه کې د ملکي تلفاتو د اعتبار د ارزونې د بيا کتنې بورډ، د ملکي تلفاتو د مديريت ټيم ته د ملکي تلفاتو د تورونو په بيا کتنه او د ارزونو په ترسره کولوکې د يوه مرکزي نقش په ورکولو سره د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نيمايي کې لغوه شو. اوس د ملکي تلفاتو د پېښو لومړنۍ اروزونې د غوڅ ملاتړ د ماموريت د ملکي تلفاتو د مديريت د ټيم لخوا د ملکي تلفاتو د راپورونو له تر لاسه کولو وروسته په لومړيو ۲۴ تر ۷۲ ساعتونو په د ننه کې ترسره کيږي. که چيرې د پريکړې کولو لپاره د ملکي تلفاتو تورونه باوري نه وي يا نورو معلوماتو ته اړتيا وي، نوموړی ټيم د اوو ورځو په دننه کې د اعتبار ارزونه ترسره کوي، خو تورونه نور د بورډ لخوا نه کتل کيږي. بل رامنځته شوی بدلون دا دی چې د عملياتو رييس د ملکي تلفاتو د ارزونو د تاييد له رول څخه لرې کړای شوی.

د ملکي تلفاتو د مدیریت ټیم له معلوماتو سره سم، په پروسه کې د دغه بدلون له امله په مستندونه کې یوه لا زیاته معیاري شوې سیستماتیکه تګلاره رامنځته شوې دکومې په پایله کې چې په وخت سره د لوړکیفیت معلومات ایجاد شوي. یوناما د ملکي تلفاتو د پېښو د بیا کتنې لپاره د وخت زیاتولو د ترسره شویو هڅو قدرداني کوي، خو له دې سره سره، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت ته د بشپړو او پیاوړو څېړنو د ترسره کولو د اهمیت یادونه کوي، آن که چیرې هغه د ارزونو د ځنډ لامل هم شي. د ملکي تلفاتو د پېښو په تېره بیا د هغو په اړه چې په لیرې پرتو سیموکې چې د افغان دولت ترکنترول لاندې نه وي، باوري معلومات زیاتره تر ۷۲ ساعتونو وروسته د لاسرسي وړګرځي. د یوناما په آند، پر وخت د تورونو د بیا کتنې په ترسره کولو کې د ستونزو په منلو سره، د ملکي تلفاتو د اعتبار د ارزونې د بیا کتنې د بورډ لخوا د ملکي تلفاتو د بیا کتنې پخوانۍ پروسې او دغه راز د څار جوړښتونو د ملکي تلفاتو د مدیریت ټیم لخوا د بیا کتنې د اوسنۍ پروسې په پرتله د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه معلومات د څېړنو له لوړې کچې سره مخ کړې وو.

یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ملکي تلفاتو د مدیریت ټیم لخوا پر ټولنیزو رسنیو د ملکي تلفاتو د تورونو د سیستماتیکې بیا کتنې د پیلولو هرکلی کوي او په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت د افغان امنیتي جوړښتونو ها خوا بشري سرچینو ته د خپلې رسیدنې پراخولو ته هڅوي. یوناما خبرداری ورکوي چې د عملیاتو د ترسره کولو او د ملکي تلفاتو د شننې پر مهال دکافي تاییدونکو بشري معلوماتو پرته پر تکنالوژي تکیه به ولسي وګړو ته د غیر ارادي زیان د اړولو چانسونه لا زیات کړي.

یوناما نړیوال پوځي ځواکونه د یوناما لخوا د ملکي تلفاتو د تایید شویو پېښو د بیا کتنې هڅو ادامې او په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو په اړه د ترلاسه شویو معلوماتوکارونې ته هڅوي څو د زده شویو لوستونو په مشقونوکې با خبره وي، په ځانګړي ډول د هدف ګرځونې د پروتوکولونو او د زیان د پراخو نمونو په پېژندلوکې د مرستې په تړاو. په داسې حال کې چې په کابل کې د ملکي تلفاتو د مدیریت ټیم یوازې له څلورو غړو جوړ دی، یوناما په زونونوکې د متحده ایالاتو دولت د روزنې، مشورې او ملاتړ د قوماندې د مرکز په ګډون، د نوموړي ټیم د ملکي تلفاتو د ارزونو لپاره د لا زیاتو سرچینو ځانګړي کولو ته هڅوي، څو د ارزونې او په ځایي کچه له امنیتي جوړښتونو څخه د معلوماتو راغونډول پیاوړي شي.

په ۲۰۱۹ کال کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت یوناما ته خبر ورکړ چې دوي نړیوالو پوځي ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو ۴۴۸ پېښې ارزولې. د دغو پېښو له جملې څخه، ۳۳۲ هغه یې د "بې اعتباره" یا د ۷۲ ساعتونو[197] په د ننه کې د "نا تایید" شویو هغو په څیر په ګوته شوې په داسې حال کې چې ۷۴ قضیې د "باوري" هغو په څیر ارزول شوي. د هغو تورونو له جملې چې باوري ارزول شوي، ۴۹ هغه یې د ملکي تلفاتو د پېښو په څیر تایید شوې چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت ته منسوب شوې او ټولټال ۱۸۹ ملکي تلفات (۱۱۱ مړه او ۷۸ ټپي) په کې شامل دي چې په ۲۰۱۸ کال کې د راپور شویو ۱۱۷ ملکي تلفاتو (۶۲ مړه او ۵۵ ټپي) په پرتله زیاتوالی په ډاګه کوي.[198] سربیره پر دې، ۱۳ پېښې رد شوې؛ ۴ پېښې د غوڅ ملاتړ ماموریت ته یا په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو ته د منسوبیدو وړ ارزول شوې؛ او ۸ پېښې د "ممکن" په څیر ارزول شوې چې د ادعاوو له مخې ۲۸ ملکي تلفات (۱۸ مړه

او ۱۰ ټیپي) پکې شامل وو.[199] په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو په ۲۰۱۹ کال کې د متحده ایالاتو د اردو ۱۵ـ ۶ مقررې لاندې د ملکي تلفاتو د تورونو پر بنسټ چې د ملکي تلفاتو د مدیریت له ټیم سره شریک شوي وو، په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۳ دغه ډول تورونو په پرتله، ۱۴ ژورې څېړنې ترسره کړي.[200] په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت له معلوماتو سره سم، د ملکي تلفاتو د ۴۹ قضیو له جملې په ۲۱ هغوکې د تسلیت په نامه تادیات ترسره شوي.

له دې سره سره چې د نړیوالو نظامي ځواکونو د ملکي تلفاتو ارقام تر ډېره له هغو توپیرکوي چې په دغه راپورکې مستند شوي، دواړو یوناما او نړیوالو نظامي ځواکونو په ۲۰۱۹ کال کې ورته زیاتیدونکی جریان مستندکړی. یوناما ملاحظه کړې چې د ملکي تلفاتو په ارقاموکې توپیر تر یوه حده په معیارونو او میتودولوژۍ ګانوکې د اختلافونو له امله توضح کیدای شي، لکه په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو لخوا د ملکي شخص تعریف کوم چې د بشرپالنې له نړیوال سره په سمون کې نه دی.[201]

یوناما دکورنیو چارو وزارت لپاره د ماشومانو د ساتنې د پالیسي په طرحه کولوکې له دولت سره د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ماشومانو د ساتنې د ارشد سلاکار د رول او د متحده ایالاتو د دفاع وزارت لخوا په نظامي عملیاتوکې د ملکي تلفاتو اړوند له پالیسي ګانو سره د تطابق لپاره د یوه ارشد ملکي مسوول دګمارنې قدرداني کوي.

## ج. طالبان

یوناما د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایتو کمیسیون لخوا د څېړنو او احتساب په اقداماتوکې د ترسره شوي پرمختګ یادونه کوي، لکه د هغو پېښو چې لوړ شمیر ملکي تلفات په کې رامنځته شوي یا د ماشومانو دګمارنې او کارونې او د جنسي تاوتریخوالي حساسې قضیې.

طالبان د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایتو لپاره خپل کمیسیون د "ملکي تلفاتو [...] د مخنیوي لپاره د یوه فعاله ډیپارټمنټ، چې په بشپړ ډول د ملکي تلفاتو هره پېښه څېړي او د بیا پېښیدو مخنیوی یې کوي"[202] په څیر معرفي کوي. په ۲۰۱۹ کال کې، طالبانو له علماؤو، شیخانو؛ مفتیانو او مسلکي افرادو سره د سلا مشورو له لارې د نوموړي کمیسیون لپاره معیاري عملیاتي طرز العملونه چمتوکړل څو یې کار لا ښه کړای شي. د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۸ نېټه دغه طرز العملونه د طالبانو مشرتابه ته وړاندې شول چې ۲۰۱۹ کال د اپریل په ۲۸مه نېټه تصویب شول.

معیاري عملیاتي طرز العملونو د نوموړي کمیسیون جوړښت تنظیم کړ په کوم کې چې یو ریاست، دوه د شخړو د حل ولایتي دفترونه او یو شمیر ریاستونه اوکمیټې شامل دي، لکه د "څېړنو او تصدیقونې ریاست" او د "عامه پوهاوي او رسیدنې ریاست".[203] دغه طرز العملونه توضیح کوي چې د نظامي کمیسیون ټول غړي، والیان، د ولایتي کمیسیونونو رییسان، او "نور ټول مجاهدین" مکلف دي چې په بشپړ ډول "د [ملکي] تلفاتو د مرتکبینو په معلوملو، احضارول او څېړنو او د هر ډول معلوماتو په برابرولوکې" همکاري وکړي.[204] کمیسیون د مجاهدینو پر دې خبرولو چې د ولسي وګړو وژل، ژوبلول او ربړول منع دي؛[205]د یوې سترې پېښې د رامنځته کیدو په صورت د معلوماتو د راغونډولو لپاره د یوې کمېټې لیږدولو؛[206]او "تر شوني بریده د غمرزایو د ښکاره کولو" دنده لري.[207] سربیره پر دې، معیاري عملیاتي طرز العملونو د نوموړي کمیسیون لپاره له مجاهدینو سره د زده شویو لوستونو د شریکولو یو نقش وضع کړی، څو په عملیاتوکې د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي.[208]

یوناما د ملکي تلفاتو تر رامنځته کیدو وروسته دکمیسیون د څېړنې هڅې او یو شمېر قضیې په کوموکې چې طالبانو په شخصي او عام ډول د هغوي د خپلو عملیاتو په پایله کې پر رامنځته شویو ملکي تلفاتو اعتراف کړی، منې.[209] یوناما له اندېښنې سره د دې یادونه کوي چې د طالبانو د ملکي تلفاتو شپږ میاشتنی اوکلنی راپورونه د دغه پېښو او څېړنو او دغه راز د احتساب لپاره د ترسره شویو اقداماتو په منعکس کولو کې پاتې راغلي او د دې پر ځای یې د ټولو ملکي تلفاتو منسوبونه نورو ښکیلو خواوو ته جارې ساتلې.[210] یوناما په کلکه له دغه کمیسیون څخه غوښتنه کوي چې د ملکي تلفاتو په مخنیوي کې لا فعال او رغنده رول ولوبوي او زده شویو تجربو د مشقونو او روزنې له لارې خپل نظامي کمیسیون وروزي.

یوناما له طالبانو څخه غوښتنه کوي څو ډاډمن کړي چې د دوي لارښودونه او حکمونه د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې دي؛ هغه لارښودونه چې د دوي غړو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوي لارښوونه کوي، پلي کړي؛ هغه افراد، څوک چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه کوي، او د ملکي وګړو او ملکي شیانو په وړاندې بې توپیره او عمدي بریدونه ترسره کوي، مسئول وګڼي؛ او د "ملکي شخص" هغه تعریف تطبیق کړي کوم چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې دی.

# لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوي حقوقي چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون، د بشرپالنې نړیوال قانون، نړیوال جنايي قانون او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړوند پریکړه لیکونه رانغاړي.

## د وسله والې جګړې د ښکېلو خواوو حقوقي مسئولیتونه

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله جګړه د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د افغان دولت په ملاتړ د نړیوالو نظامي ځوکونو او مختلفو نا دولتي مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ او دغه راز د نادولتي وسله والو مخالفو ډلو تر منځ یوه غیر نړیواله وسله واله جګړه ده. د افغان دولت ګډ ځواکونه (د نړیوالو نظامي ځواکونو په ګډون) په دې راپور او افغانستان کې د" دولت پلوه ځواکونو" په نوم یادیږي، په داسې حال کې چې نا دولتي مخالفې وسله والې ډلې په دې راپور او افغانستان کې د "دولت ضد عناصرو" په نوم یادیږي. (د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د تعریف لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ).

د وسله والې جګړې ټولې ښکېلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه، نړیوال پوځې ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې-
تر نړیوال قانون لاندې د ملکي وګړو د ساتنې څرګند مکلفیتونه لري.

د امنیت شورا ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک څرګنده کړې، چې دا د ټولو دولتونو لپاره خورا مهمه ده څو په ښځو او نجونو د بشرپالنې د نړیوال قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون اړوند نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي، او د وسله والې جګړې
پر مهال د جنډر پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د هغوي د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[211]

### (۱) د بشر پالنې تر نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

د جینوا دکنوانسیونونو ۳ مشترکه ماده د دولتي او غیر دولتي خواوی په ګډون د شخړې د ښکېلو خواوو لپاره حد اقل معیارونه رامنځته کوي، کوم چې باید په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعات شي. سربیره پر دې، چیرې چې د تطبیق وړ وي د ۱۹۷۷ کال د دویم الحاقي پروتوکول چې افغانستان یې هم غړیتوب لري، احکام د اصلي حقوقي چوکاټ یوه برخه جوړوي.[212] د سرتیرو ورکوونکو ټول هیوادونه چې په افغانستان کې د نړیوالو پوځي ځواکونو په چوکاټ کې مرسته کوي د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کوونکي دي. که څه هم چې د سرتیرو ورکوونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د دویم الحاقي پرتوکول لاسلیک کوونکي نه دي، خو بیا هم دغه هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې پر غیر نړیوالې وسله والې جګړې د پلي کېدو وړ دي، په رعایت کولو مکلف دي.[213] هغه عرفي قواعد چې د دولتونو او وسله والو مخالفو ډلو ترمنځ وسله والې جګړې تنظیموي، د جګړې پر ټولو ښکیلو خواوو ،که هغه دولت یا مخالفه وسله واله ډله وي، د تطبیق وړ دي.

۳ مشترکه ماده په ښکاره توګه د ملکي وګړو په ګډون د هغو خلکو په تړاو چې په شخړوکې فعاله برخه نه اخلي، هر وخت او هر ځای کې د قتل،[214] اندامونو پرې کولو، ظالمانه چلند

او شکنجې، یرغمل نیولو، او دغه راز په شخصي وقار د تیري، او غیر قانوني اعدامونو[215] په ګډون، په ښکاره توګه د ژوند او شخص په ضد تاوتریخوالی منع کوي.

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې، د جګړې ښکیلې خواوې مکلفي دي چې د پوځي عملیاتو د پلانولو پر مهال د لاندنیو کلیدي اصولو درناوی وکړي:

- تفکیک: ملکي وګړي او همدارنګه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي او د شخړې ټولې خواوې باید هر وخت د ملکیانو او جنګیالیو تر منځ توپیر وکړي. دغه اصل د جګړې له ښکیلو خواوو غوښتنه کوي، چې له یوې خوا د ملکي وګړو او ملکي شیانو ترمنځ او له بلې خوا د جنګیالیو او پوځي اهدافو ترمنځ توپیر وکړي، چې بریدونه یوازې پر وروستي هغه ترسره کیدای شي. د دې لپاره چې یو شي یا ودانۍ پوځي هدف وګڼل شي، باید دغه دوه ګډ معیارونه/شرطونه پوره کړي: (۱) "ماهیت، موقعیت، دکارونې هدف، چې له یوه نظامي عمل سره موثره مرسته کوي" او (۲) "د وخت په حاکمو شرایطوکې د شي ټوله یا جزئي ویجاړونه، نیونه یا خنثی کول، یوه قطعي پوځي ګټه رامنځته کوي."[216]
- تناسب: "هر هغه برید منع دی، چې ښایي د ملکي وګړو د مړینې، ټپي کیدنې، د ملکي شیانو د ضمني زیان یا د دغو دواړو د داسې اتفاقي زیان لامل شي، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي، دکومې چې تمه کیدای شي."[217]
- په بریدونوکې احتیاط: .[”].. ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیزې ساتنې څخه برخمن وي."[218] د ملکي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې، باید د ملکي وګړو، ملکیانو او ملکي شیانو د ژغورلو په موخه پرلپسې پاملرنه وشي" او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پېښه کې د ملکي کسانو د ژوند، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو او د ملکي شیانو د ضمني زیان څخه مخنیوي اوکمول وي، ونیول شي.[219]

## (۲) د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون په سوله او د وسله والې شخړې پر مهال، د بشر پالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په متمم ډول د پلي کېدو وړ دي. دغه ډول دولت باید د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې په خپل قلمروکې دننه یا د هغوي له عدلي تعقیب سره مخ کیدونکو افرادو په تړاو خپلو مکلفیتونو ته درناوی وکړي. سربیره پر دې، هغه نا دولتي خواوی چې د قلمرو موثرکنټرول لري او یوه دولت ته ورته چارې ترسره کوي، باید د بشري حقونو نورمونو ته درناوی وکړي.

### افغان دولت

افغانستان د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون په ګډون، د بشري حقونو د ګڼ شمیر نړیوالو معاهدو/تړونونو[220] غړی دی، کوم چې حکومت پر دې مکلفوي څو د خپل قلمرو په دننه او یا د هیواد تر واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولوکسانو لپاره اساسي بشري حقونه خوندي کړي.

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، هیوادونه باید د خپلو منسوبینو[221] لخوا په تیره بیا د هغو ارګانونو لخوا چې د قانون پر انفاذ بوخت دي، د مرګوني ځواک کارول وڅیړي. دا دنده د احتمالي نه رعایتولو د مسئولیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې له مکلفیت څخه سرچینه اخلي.[222] د دې لپاره چې

د دولت څېړنې اغیزمنې وي، هغه باید تر ممکنه حده چټکې، بشپړې، بې طرفه، خپلواکې[223] او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[224] د څېړنو په موخه د دولت مکلفیت د قانون د اجراء په ټولو زمینوکې د هغو زمینو په ګډون چې د وسله والو شخړو پر مهال را ولاړیږي، د تطبیق وړ دي.[225]

## نړیوال نظامي ځواکونه

هغه نړیوال نظامي ځواکونو چې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي، همدارنګه د بشري حقونو مشخص مکلفیتونه لري، چې تر قلمرو بهر د تطبیق وړ دي. د مثال په ډول، دولتونه باید د خپل ځواک یا بر حاله کنترول په دننه کې د ټولوکسانو د ژوند حق ته درناوي وکړي او دا ډاډمنه کړي چې هغوي له شکنجې یا ناوړه چلند څخه خوندي دي، آن که چېرې د هغوي په قلمروکې د ننه هم واقع نه وي.[226] په دې کې هغه کسان شامل دي څوک چې د نړیوالو پوځي ځواکونو یا نورو نړیوالو فعالینو چې په افغانستان کې په نظامي عملیاتوکې فعالیت کوي، تر برحاله کنترول لاندې واقع دي.

## غیر دولتي وسله والې ډلې

په داسې حال کې چې غیر دولتي خواوی د وسله والو ډلو په ګډون د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو غړې نشی کېدای، خو د نړیوال عرفي قانون له مخې دوي له دې مستثنی ندی چې د بشري حقونو مکلفیتونو ته پابنده نه واوسي. نادولتي خواوی په زیاته کچه انګیرل کیږي چې د مشخصو نړیوالو بشري حقونو د مکلفیتونو په درناوي مکلف دي، په تېره بیا د طالبانو په څېر هغه ډلې چې په عملي ډول ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې لري.[227]

## (۳) تر نړیوال جنایي قانون لاندې مسئولیتونه

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګي جنایتونو، د بشریت پر وړاندې د جرمونه او نسل وژنې د

څیړلو او تعقیب لومړی مسئولیت لري.[228] افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم د اساسنامې د نړیوالې جنایي محکمې غړیتوب تر لاسه کړ. د دې په پایله کې، که چیرې افغانستان په خپل قلمروکې تر یوه حده نشی کولی او یا نه غواړي د نړیوالو جرمونو په اړه خپل صلاحیت وکاروي، نړیواله جنایې محمکه شایي د روم په اساسنامه کې تعریف شویو جرمونو په اړه چې د تورونو له مخې په افغانستان کې ترسره شوي، خپل صلاحیت وکاروي.[229]

د ۲۰۱۷ کال د نومبر پر ۲۰ نېټه، د نړیوالې جنایي محکمې څارنوال نوموړې محکمې ته د روم اساسنامې د ۱۵ مادې پر بنسټ یو غوښتنلیک وړاندې کړ، چې د محکمې تر واک لاندې د هغو جرمونو په اړه څېړنې ترسره کړي چې په افغانستان کې د وسله جګړې په زمینه کې د طالبانو، افغان ځواکونو او متحده ایالاتو د فعالینو لخوا ترسره شوي.[230] دغه وضعیت د ۲۰۰۶ راهیسې د څارنوال د دفتر لخوا تر لومړنیو څیړنو لاندې و څو معلومه کړې هغه کړنې چې د ۲۰۰۳ کال د مئ میاشت له لومړۍ نېټې را په دیخوا د افغان او بهرنیو هیوادونو د ځواکونو او دغه راز د دولت ضد ځواکونو لخوا ترسره شوي، شایي جنګي جرمونو او د بشریت پر ضد جنګونه تشکیل کړي. په لومړنۍ څېړنه کې همدارنګه دا پلټل شوي چې په افغانستان کې په وسله والې جګړې پورې اړوند نور جرمونه او هغه چې د اساسنامې د نورو غړو هیوادونو په قلمروکې د ۲۰۰۲ کال د جولای د لومړۍ نېټې راهیسې ترسره شوي.

محکمې ته د غوښتنې په وخت کې، څارنوال په دې باور دی چې داسې مناسب بنسټ موجود دی څو باور وشي چې د طالبانو او له هغوي سره مله د حقانې شبکې لخوا د بشریت پر ضد جرمونه او جنګي جرمونه ترسره شوي؛ دا چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو، په تېره بیا د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او افغان ملي پولیسو لخوا جنګي جرمونه ترسره شوي؛ او دا چې د متحده ایالاتو د وسله والو ځواکونو د غړو لخوا د افغانستان په قلمرو کې، او د متحده ایالاتو د مرکزي استخباراتي ادارې د غړو لخوا په افغانستان کې په پټو توقیف ځایونو کې او د روم اساسنامې د غړو هیوادونو په قلمرو کې جنګي جرمونه ترسره شوي، په اساسي ډول د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو په موده کې.[231]

د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۱۲ نېټه، د نړیوالې جنايي محکمې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت له دې سره سره د دې په منلو چې د واک او د محاکمې د وړتیا معیارونه پوره شوي وو، د رایو په اتفاق د څارنوال د څېړنو د پرانیستلو غوښتنه رد کړه. قاضیانو پریکړه وکړه چې څېړنه به "د عدالت د مصالحو/ګټو" لپاره موثره تمامه نشی نشی، چې "په افغانستان او کلیدي دولتونو کې یې اړوند سیاسي وضعیت"، پیچلي او ترینګلی سیاسي چاپیریال او د څېړنې د شونتیا په اړه یې اندیښنې په ډاګه کولې، د هغو اندېښنو په پام کې نیولو سره چې ښایي د دولت د نه همکارۍ له امله رامنځته شي. د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۷مه نېټه، د څارنوال دفتر د دغې پریکړې د استیناف لپاره غوښتنه درج کړه، کومې ته چې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت لخوا د سپتمبر پر ۱۷مه اجازه ورکړل شوه. د استیناف هیئت د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر پر ۴-۶ مه نېټه د استماع جلسه ترسره کړه. د ۲۰۱۹ کال تر پای پورې، د دې په اړه باید پریکړه شوې وای چې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت حکم تایید یا مسترد کړي.

په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې جنګي جرمونه د دریېمې مشترکې مادې او نورو قوانینو او دودونو څخه د جدي سرغړونو په څېر تعریف شوي، کوم چې په وسله واله شخړه کې چې نړیوال خصوصیت و نلري د پلې کیدو وړ دي. په جنګي جرمونوکې لاندې موارد شامل دي- د هغوکسانو په تړاو چې په نښتوکې برخه نه اخلي- د ژوند او شخص په وړاندې تاوتریخوالی، د قتل، د ملکي وګړو یا هغوکسانو په وړاندې د عمدي بریدونه چې په شخړو کې برخه نه اخلي.[232]

هغه هیوادونه چې ځواکونه یې د نړیوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دي او په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شویو
جرمونو د څېړنې او تعقیب مسئولیت لري، چې ښایي دا جرمونه په افغانستان کې د دوي د اتباعو لخوا ترسره شوي وي.[233]

# دوهمه ضمیمه: د شخړې اصلي خواوې

## دولت پلوه ځواکونه

په دې ځواکونوکې هغه شامل دي، خو تر افغان ملي امنیتي ځواکونو پورې محدود نه دي (افغان پوله ساتي ځواکونه، افغان سیمه ییز پولیس، افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیس، د ملي امنیت ریاست ) ، په دې کې دولت پلوه وسله والې ډلې او نړیوال پوځي ځواکونه، د ځانګړو عملیاتو ځواکونه او نورې بهرنۍ نمایندګۍ شاملې دي.

## افغان ملي امنیتي ځواکونه

افغان ملي امنیتي ځواکونه د دولت له ټولو امنیتي ځواکونو څخه، د افغان ملي پوځ په شمول (او د هغه د افغان هوایي ځواک او افغان سیمه ییز ځواک د فرعي برخې) د افغان ځانګړو ځواکونو، ملي امنیت ریاست (د افغان دولت استخبارات) ، کوم چې ځانګړي ځواکونلري او په پوځي عملیاتوکې برخه اخلي، د افغان سیمه ییزو پولیسو، افغان ملي پولیسو، د عامه نظم د ملي ځواک او افغان سرحدي ځواک څخه تشکیل دي.

دکورنیو چارو وزارت تر مسؤلیت لاندې، افغان ملي پولیس د قانون د انفاذ لومړنی ارګان دی، او په ځینو حالاتوکې په جګړوکې برخه اخلي. افغان سیمه ییز پولیس په ۲۰۱۰ کال کې ایجاد شوي ځو د بغاوت ضد هڅو د یوې برخې په څېر په ټولنه کې پولیسي خدمتونه برابرکړي. دوي ظاهرا د افغان ملي پولیسو اوکورنیو چارو د وزارت له لارې راپور ورکوي، د جګړه ییزو دندو ترسره کولو له امله، افغان سیمه ییز پولیس د وسله والو ځواکونه بالفعل غړي ګڼل کیږي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د ۲۰۱۷ کال د طرح تر چوکاټ لاندې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو تر تطبیق وروسته، پخواني افغان سرحدي پولیس او د عامه نظم ملي پولیس په ۲۰۱۸ کال کې له کورنیو چارو وزارت څخه دفاع وزارت ته ولیږدول شول.

## نړیوال پوځي ځواکونه

د ۲۰۱۴ کال په ډسمبرکې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیت د لیږد وروسته، د ۲۰۱۵ کال د جنوري پر لومړۍ نېټه، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې له ایساف څخه خپل ماموریت د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه. د ایساف بر خلاف، چا ته چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا اختیارات ورکړل شوي و د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د تړون دریځ برابرکړی، کوم چې په کابل کې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۳۰ نېټه لاسلیک شو او د افغان پارلمان لخوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر پر ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴) پریکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیز تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت رامنځته کول وه، هرکلی کړی. غوڅ ملاتړ چې اصلا یو غیر جګړه ییز ماموریت دي، چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه وروزي، له هغوي سره مرسته وکړي او سلا مشورې ورکړي. دغه ځواکونه اوس مهال د ناټو له ۳۹ هیوادونو څخه له شاوخوا ۱۶۰۰۰ تنه سرتیرو څخه تشکیل دي چې د روزنې، مرستې او مشورې په پنځو سیمه ییزو قرارګاووکې تنظیم شوي، چې متحده ایالات، جرمني، ایټالیا او ترکیه یې د یوه یوه مشري کوي، مرکز (ترکیه) ، شمال (جرمني) ، ختیځ (متحده ایالات) ، جنوب (متحده ایالات) او لویدیځ (ایټالیا) .

اوس مهال د متحده ایالاتو سرتیري په افغانستان کې د نړیوالو پوځې ځواکونو زیات اکثریت جوړوي، چې شاو خوا ۱۴۰۰۰

امریکایي سرتیرې د غوڅ ملاتړ ماموریت او د ازادۍ عملیاتو ساتونکي ماموریت ملاتړ کوي کومو چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د ۱ نېټې څخه د پایښت لرونکی ازادۍ د عملیاتو ځای ونیو. د متحده ایالاتو سرتیرې د افغانستان– د متحده ایالاتو د ۲۰۱۴ کال تر دوه اړخیز امنیتي تړون لاندې د ازادۍ عملیاتو ساتونکي ماموریت کې ګډون کوي چې له تروریزم سره د مبارزې پر عملیاتو تمرکزکوي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت قوماندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایې ځواکونو د قوماندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قوماندې د مراتبو سلسلې یې بیلې دي.

## دولت پلوه وسله والې ډلې

دولت پلوه وسله والې ډلې هغه نا دولتي تنظیم شوي وسله وال خواوی دي چې د وسله والو مخالفو ډلو سره په جګړه کې ښکېل وي. دغه ډلې له دولتي ځواکونو سره توپیر لري او د افغانستان تر قوانینو لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. په دغو ډلوکې د ملي پاڅون خوځښتونه، د خوست ساتنې ځواک او په پکتیکا کې میشت ځواکونه شامل دي چې د افغانستان په سویل ختیځه سیمه کې یې د شاهین ځواکونو په نوم یادوي. د دغو ځواکونو یادونه په لومړي ځل د ۲۰۱۹ کال په مارچ کې وشوه. د سرچینو په حواله، دغه ځواکونه، چې د ۹۰۴ قطعې په نوم هم یادیږي، د پکتیکا ولایت د ارګون د ولسوالۍ د شاهین اډې څخه د باندې فعالیت کوي او ښایې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو سره اړیکه ولري. په هرصورت، د افغان ملی امنیتي ځواکونو او افغانستان حکومت غړي یا خو نه غواړي او یا نشی کولای د شاهین ځواکونو د قوماندې د جوړښت په اړه زیات معلومات ورکړي.

## دولت ضد عناصر

په دې کې هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او همدارنګه هغه اشخاص او نا دولتي وسله والې ډلې چې په جګړه کې مستقیمه برخه اخلي، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې هغه ډلې چې ځانونه اسلامي دولت/داعش معرفي کوي او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي شاملې دي، د هغو جنایي ډلو په ګډون چې د یوې ښکېلې ډلې په استازیتوب په جګړه کې مستقیم ګډون کوي.

## طالبان

په ۲۰۱۴ کال کې د ایساف ځواکونو په وتلو سره، که څه هم چې دولت پلوه ځواکونو د هوایي بریدونو په نتیجه کې طالبانو ته مخ پرزیاتیدونکي تلفات واړول، طالبانو په تدریجي توګه په ساحه خپله ولکه زیاته کړه او په پیل کې یې د افغان ملي دفاعي او امنیتي پوستو په وړاندې د هدف نیولو د لوړې کچې بریدونه پیل کړل. طالبانو په زیاترو ولایتونوکې تش په نامه اداري جوړښتونه تشکیل کړې. د دغې ډلې د مشر ملا عمر مړینه د ۲۰۱۵ کال په اګست کې خلکو ته معلومه شوه، چې د دغې ډلې ترمنځ یې داخلي اختلافات وزیږول. د ۲۰۱۶ په مۍ میاشت کې د ملا عمر د ځای ناستي ملا منصور تر وژنې او د ملا هیبت الله اخندزاده تر ټاکنې وروسته کړکیچونه او اختلافات په کمه کچه راڅرګند شول. د ۲۰۱۸ کال له وروستۍ نیمایی راهیسې، طالبان او د امریکا متحده ایالات د سیاسي حل په لټه په مستقیمو خبرو اترو بوخت دي.

حقاني شبکې د طالبانو په نظامي عملیاتوکې زیات نفوذي رول تر لاسه کړی. د دغې ډلې مشرې اوس مهال د سراج

الدین حقاني لخوا کیږي، څوک چې د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخندزاده د دریو مرستیالانو له جملې څخه یو دی. طالبان ادعا کوي چې د حقاني شبکه د طالبانو د تحریک تر چتر لاندې ده او سراج الدین حقاني د طالبانو د مشر مرستیال دی. طالبانو ویلي چې د حقاني شبکه د طالبانو د غورځنګ تر سیورې لاندې فعالیت کوي او سراج الدین حقاني د طالبانو یو مرستیال مشر دی. د حقاني شبکې په تیرو وختونو کې بریدونه ترسره کړي، په داسې حال کې چې تر یوې اندازې پورې یې د عملیاتي خپلواکۍ کچه ساتلې. باور کیږي چې د حقاني شبکه پر دواړو دولت او نړیوالو اهدافو او د کابل پرګڼې میشتو سیمو د بریدونو مسئوله ده. د ۲۰۱۷ کال راهیسې، یوناما هغه بریدونه چې باور کیږي د حقاني شبکې لخوا ترسره شوي طالبانو ته منسوب کړي، څرنګه چې نور د ملکي تلفاتو د تایید او منسوبولو لپاره د هغوي د میتودولوژۍ په حواله په کره ډول د دوي ترمنځ تفکیک نشی کیدای. په یو شمیر قضیوکې، د حقاني شبکې سره د ضمني څرګند تړون په درلودلو سره، د حقاني شبکې لخوا د ترسره شویو بریدونه مسؤلیت داعش منلی.

## د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله

د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ولایت ډله په رسمي ډول د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې، له پرمختګ او د ځینو مخالفو ډلو یا له طالبانو، د ازبکستان د اسلامي خوځښت او تحریک طالبان پاکستان له جنګیالو سره د جزوي بیا تنظیمولو څخه جوړه شوه. معمولا د خپل اختصاري عربي نوم، داعش حواله ورکول کیږي، د عراق او شام خراسان ولایت اسلامي حکومت ډله له نږدې ۲۵۰۰ جنګیالیو سره د افغانستان په ختیځو سیمو په ځانګړي ډول ننګرهار او کنړ ولایتونو کې فعالیت کوي.[234] د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو/نړیوالو پوځي ځواکونو د عملیاتو (د هوایي بریدونو په ګډون) ، د ځایي ملیشو د بسیجولو، او په جلا ډول د طالبانو د بریدونو لخوا د دغې ډلې د پراخیدو مخه ډب شوې. د افغانستان په شمال کې د جوزجان ولایت په جنوبي ولسوالیوکې د هغو وسله والو چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت معرفي کوي د ۲۰۱۸ کال په اګست کې د طالبانو د پرلپسې بریدونو له امله سیمې سقوط وکړ. طالبان او داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله مختلف هویت لري او د سرچینو او ځواک پر سر سیالي کوي، داعش هڅه کوي چې خپل شتون پراخ کړي او چې کله هم سر راپورته کړي نو په منظم ډول د طالبانو د مقاوت سره مخ کیږي.

## نور وسله وال عناصر او وسله والې ډلې

د ۲۰۱۶ کال په سپتمبرکې، افغان دولت او حزب اسلامي چې د ګلبدین حکمتیار لخوا یې مشري کیږي، د سولې یو تړون لاسلیک کړ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو له لست څخه ایستل، د بندیانو خوشې کول، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لیکو سره د جنګیالیو یو ځای کیدل او د حزب اسلامي لخوا د بغاوت د پای ته رسیدو لپاره د بیرته راستنیدونکو لپاره د ځمکې تخصیصونه پیشبیني کوي. حکمتیار د ۲۰۱۷ کال په مۍ کې کابل ته راستون شو. د حزب اسلامي په یو ځای کیدنه کې سوکه پرمختګ په وسله واله جګړه کې د ځینو ډلو د دوامدارګډون په اړه اندیښنې راولاړې کړي، که څه هم چې د حزب اسلامي ډیری شریکباني خوشبین دي چې د تړون ټولې مادې به په تدریج سره پلي شي.

القاعده په افغانستان کې، په ځانګړي توګه په ختیځ، سویل ختیځ او سویلي سیموکې، محدود شتون لري او په عمده ډول د موجوده حکومت ضد ډلو په ځانګړي توګه د طالبانو تر سیورې لاندې فعالیت کوي. اټکل کیږي چې په افغانسان کې، په تیره بیا په خوست، کنړ، نورستان پکتیا او زابل

ولایتونوکې د القاعده کابو ۶۰۰–۴۰۰ جنګیالي شتون لري.[235] د دوی نقش ته په پرله پسې توګه اشاره شوې چې تمرکز یې په روزنه، د وسلو او چاودیدونکو توکو په شمول په ارزونه ده، او ورته اشاره شوې چې د نورو جهادي ډلو سره د تحریک د اړیکو په اړه د طالبانو په داخلي خبرو اترو کې بوخت دي.

په افغانستان کې ځینې نورې غیر دولتي وسله والې ډلې خپل فعالیت ته دوام ورکوي، د یو شمیر ملیشه یي عناصرو په شمول چې د سیاسي ګوندونو او د پخوانیو مجاهدینو د جهادي ډلو سره اړیکې لري او ښایې د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په مخالفت کې یا د هغو په ملاتړ باندې فعالیت وکړي. دې ډول وسله والو ډلو ته په مکرر ډول د بشري حقونو د سرغړونو لپاره اشاره شوې او په منظم ډول د یو بل سره جګړه کوي، طالبان او افغان ملي امنیتي ځواکونه د ځمکې دکنټرول لپاره سیالي کوي. په ځینو ولسوالیوکې، دغه ډول وسله والې ډلې خورا مهم وسله وال لوبغاړي تشکیلوي او د ځایی خلکو لخوا ورته داسې کتل کیږي چې د افغان ملي او امنیتي ځواکونو یا طالبانو په پرتله ډیر نفوذ لري.

# دریمه ضمیمه: اصطلاحات[236]

**پریښودل شوي چاودیدونکي توکي:** پریښودل شوي چاودیدونکي توکي هغو چاودیدونکو توکو ته ویل کیږي چې د وسله والو جګړو په جریان کې نه وي کارول شوي او د یوې ښکېلې ډلې لخوا په ساحه کې پریښودل شوي یا ښخ شوي وي او نور نو دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پریښودل شوي چاودیدونکي توکي کیدای شي فعال فیوز ولري او د چاودلو لپاره چمتو وي.

**تښتونه:** یوناما یواځې د شخړې سره تړلي تښتونې مستندوي چیرې چې د شخړې یو طرف په زور او جبر یو ملکی شخص یا ملکیان د هغوې د ارادې پرته ونیسي او یا یې وساتي، د دې لپاره چې دریېم اړخ یا توقیف شوی شخص یا اشخاص د یوه کار په اجرا او یا د هغه پریښودو ته اړکړي. په دغوکې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه یې د شخص یا اشخاصو وژل وي او هغه تښتونې چې د اشخاصو له لخوا ترسره کیږي او په نښتوکې مستقیمه بره اخلي، شاملې دي. په دې کې د شخړې د ښکېلې ډلې لخوا د ټاکنو په تړاو تښتونې شاملې دي.

**هوایي برید:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغوکې نږدې هوایي ملاتړ (د الوتکې لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي، همدارنګه په هوایي بریدونوکې هغه هوایې بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګې الوتکه یا ډرون یې تر سره کوي.

**افغان ملي امنیتي ځواکونه:** یوه ټولیزه اصطلاح ده، چې افغان سرحدي پولیس، افغان سیمه ییز پولیس، افغان ملي پوځ، افغان هوایي ځواک، افغان ملي پولیس، د عامه نظم افغان ملي ځواک، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان سیمه ییز پوځ (همدارنګه افغان ملي ځواک – سیمه ییز ځواک ته راجع کیږي) او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**وسله وال ځواکونه:** یوناما افغان ملي پوځ او افغان هوایي ځواک ته د افغانستان د وسله والو ځواکونو په حیث ګوري . یوناما همدارنګه افغان محلي پولیسو، د ملي امنیت ریاست، د ترهګري ضد پولیسو، افغان سرحدي ځواک، دکورنیو چارو

د وزارت د ملکي نظم افغان ملي ځواک، ځانګړو ځواکونو، (د افغان ملي پولیسو د چټک غبرګون ځواک په شمول) د هغو دندو پر اساس چې دوي یې پر مخ وړي د وسله والو ځواکونو برخه دي. یوناما په پام کې نه نیسي چې ملي پولیسو باید د افغانستان په وسله والو ځواکونوکې د پورته ذکر شویو ځانګړو ځواکونو پرته استثناء شي.

**افغان ملي سرحدي پولیس:** له دې وړاندې د افغان پوله ساتو پولیسو په نامه یادیدل. د افغان سرحدي پولیسو ډېری د ۲۰۱۷ کال په ډسمبرکې دکورنیو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولیږدول شوه، او بیا د افغان سرحدي پولیسو په نوم ونومول شو. دا ځواکونو د افغان ملي پوځ قول اردو ګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**د ملکي نظم افغان ملي ځواک:** له دې وړاندې د ملکي نظم د افغان ملي ځواک په نوم یادیدل. د ملکي نظم د افغان ملي ځواک ډېری د ۲۰۱۸ کال په مارچ کې دکورنیو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولیږدول شوه. دا ځواکونو د افغان ملي پوځ قول اردوګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**دولت ضد عناصر (AGEs) :** په دې ډله کې د طالبانو او داعش او همدارنګه د نورو وسله والو ډلو غړي چې د وسله والو ډلو سره په جګړه کې ښکیل دي ټول یا د افغانستان د دولت او نړیوالو پوځي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکېل دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د نورو معلوماتو لپاره د شخړې مهم اړخونه.

**پرسونل ضد ماینونه:** یو ماین چې د یوکس د شتون، نږدې والي یا تماس له امله وچول شي او په نتیجه کې یې یو یا ډېر کسان ناتوانه، ټپي یا ووژل شي. د فشار په ذریعه فعالیدونکي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي، کوم چې د قرباني شخص په ذریعه فعالیږي، په افغانستان کې د په لاس جوړ "پرسونل ضد ماینونو" په توګه ثبت شوي.

**وسله واله ډله :** نا دولتي تنظیم شوې وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بیلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه نیولې تر یاغي جنایي مجریمو ډلو پورې رسیږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانینو لاندې حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د هیوادونو، د هیوادونو د ایتلافونو یا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځي چوکاټونو په دننه کې نه دي او د هیواد(هیوادونو) ترکنترول لاندې سیمی په کومکې چې دوي فعالیت کوي،نه دي.[237] وسله واله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې اوکنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې دکوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي پورې محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې، سیمه ییزې ملیشې (چې په کی توکمیزې، قومي یا په بل اساس) ، یاغیان، ترهګر،ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه پوځي ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي). ځینې وسله والې ډلې په داسي یوه طریقه باندې چې د حکومت سره په عمومې توګه همغږی دي، که څه هم چې د هغوي ترکنترول لاندې نه او موږ ته د دولت پلوه وسله والو ډلو په حیث راجع کیږي، فعالیت کوي.

"دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپورکې تشریح شوی د نا دولتي وسله والو ډلو په حیث ګوري، خو د دولت په وړاندې د هغوي د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوي توپیرکیږي.

**بچه بازي:** بچه بازي يو ناوړه عمل دی چيرې چې هلکان د شتمنو او قدرتمندو نارينه وو لخوا د تفريح، په خاص ډول د نڅا او جنسي خواهشاتو لپاره کارول کيږي، دا کړنه د جزا په نوې قانون کې جرم شميرل شوی کوم چې د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ کې نافذ شو.

**ملکيان:** د دې راپور د موخو په خاطر او د نړيوال بشر دوستانه قانون لاندې د توپير د اصل د پلې کولو په هدف "ملکی وګړي" هغه افراد دي چې د پوځي/نيمه پوځي ځواکونو غړي نه وي يا په جنګ کې د يوې خوا په منظمو وسله والو ډلوکې غړيتوب و نلري او تر هغو چې په نښتوکې په مستقيم ډول برخه وا نه خلي د بريدونو څخه خوندي دي. د پوليسو د هغو غړو لپاره کوم چې دوامداره جګړه ييز فعاليتونه نلری، د ځان د ساتنې لپاره د ځواک کارول د ملکي وګړي په حيث د خونديتوب د له منځه تلو په معنی نه ګڼل کيږي. يوناما په افغانستان کې هغو پوليسو ته د ملکي په سترګه ګوري څوک چې د قانون د انفاذ چارې پر مخ بيايي او څوک چې په مستقيم ډول په نښتوکې برخه نه اخلي او د ياغيتوب پر وړاندې په عملياتوکې ښکيل نه وي.

**د ملکی تلفات:** وژل شوي او ټپي شوي ملکی کسان. يوناما هغه ملکی تلفات کوم چې د شخړې سره د تړلي خشونت او د جګړې څخه د پاته شونو چاوديدونکو توکو په نتيجه کې رامنځته کيږي مستندوي: يوناما هغه تلفات نه مستندوي چيرې چې ملکي (ملکيان) د مرګ ژوبلې په وخت کې په مستقيم ډول په نښتوکې برخه اخلي او نه د هغوکسانو مرګ ژوبله مستندي څوک چې د نړيوال بشر دوستانه قانون لاندې خوندي دي او چا ته چې د ملکي کسانو په سترګه نه کتل کيږي، د بيلګې په توګه، د جګړې د ډګره څخه وتلي يا د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي کارکونکي.[238]

يوناما د هغو **ټپي شويو** ملکي کسانو په اړه چې د فزيکي ټپي کيدو له امله په روغتيايي مرکزونوکې د طبي درملنې د ترلاسه کولو په موخه بستري کيدو او يا د روزل شويو طبي کارکوونکو لخوا د طبي مرستې د ترلاسه کولو په برخه کې مرستې ته اړتيا لري- ثبت کوي. د يوناما په ډيټابيسونوکې د ټپي کيدو شدت ندی ريکارډ شوی. په ټپونوکې ټکان او د پيښې غير فزيکي اغيزې او پايلې، د بيلګې په توګه رواني ټروما يا ټکان، نه دي شامل.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو په اړه کنوانسيون، کوم چې افغانستان په ۱۹۹۴ کې لاسليک کړی، ماشوم د داسې يوه شخص په حيث تعريفوي چې عمر يې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم) .

**ډله ييز بريد:** يوناما ډله ييز بريد د يوه قصدي او همغږې بريد په حيث په کوم کې چې ځانمرګې وسيله (د بيلګې په توګه په ځان پورې تړلې په لاس جوړ چاوديدونکي توکي يا په نقليه وسيله کې ځای پر ځای شوې چاوديدونکي توکي) ، د يوه څخه زيات بريدګر او د يوې څخه زياتې وسيلې (د بيلګې په توګه، په ځان پورې تړلې چاوديدونکي توکي او هاوانونه) شامل وي، تعريفوي. د يوه بريد لپاره چې ډله ييز بريد وشميرل شي، بايد درې واړه عنصرونه موجود وي.

**داعش:** د داعش کلمه د عراق او شام د اسلامي دولت (al-Dawla al-Islamiya al-Iraq al-Sham) مخفف او لنډيز دی.

**له جګړې څخه پاته شونې چاوديدونکي توکي:** له جګړي څخه چاوديدونکي پاتې شوني توکي ناچاودو توکو، پريښودل شويو چاوديدونکو توکو ته راجع کيږي.

**چاودیدونکې وسلې:** چاودیدونکې وسلې د نړیوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودیدونکې وسلې په عمومي صورت د یوې جعبې/ لولې څخه جوړې دي چې د لوړې کچې د چاودیدونکو موادو څخه ډکه وي چې ویجاړونکې اغیزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړیږي چې د انفجار وروسته تولیدیږي. هاوانونه، د توپ ګولۍ،د الوتکو بمونه، راکټونه اود میزایلو جنګي سرګولولې، او ډېرې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودیدونکې وسلې کیدلای شي چې د **سپکو وسلو** په کټګورۍ کې (د بیلګې په توګه، د لاسي بمونو ګوزارونکې لانچرې چی د توپک د میل لاندې نصب کیږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچری، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیسټمونه، د الوتکو ضد د میزایلو لاسي سیسټمونه؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله ییز هاوانونه) راځي. ډېرې چاودیدونکې وسلې، لکه د الوتکو بمونه، د راکټونو سیسټمونه، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو** په کټګوریوکې راځي.[239]

**ځمکنۍ نښتې:** په ځمکنیو جګړوکې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکېلو خواوو تر منځ ځمکنۍ متحرک عملیات، د لیرې واټن څخه برید، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتوکې د بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو، او یا د ساحوي وسلو سیسټمونه لکه د هاوانونو راکټونوکارول هم شامل دي.

**د چاودیدونکو توکو په لاس جوړه آله :** یو بم چې د دودیزې پوځي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړیږي او کارول کیږي. کیدای شي چاودیدوني توکې په څلوروکټګوریو تقسیم شي: دکنترول له لارې فعالیدونکې چاودیدونکې توکې، د قرباني شخص په وسیله فعالیدونکي چاودیدونکې توکې، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودیدونکو توکو او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي.

د دستور له لارې فعالیدونکی په لاس جوړ چاودیدونکي توکي– هغه رادیویي یا د لیرې واټن څخه کنترول شوي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه، -RC IEDs) دي چې د لیرې واټن څخه کارکوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کیدو سره تر برید لاندې راولي.[240] په دغه ډله کې لاندني چاودیدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاوو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه موټر، بایسکل، موټر سایکلونه او مرکب. مقناطیسي– په لاس جوړ چاودیدنکي توکې د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کیږي او دا د تماس له لارې فعالیدونکي چاودیدونکي توکې دی، په افغانستان کې د عادي رسولو د میتود له امله یوناما دا وسیلې په جلا ډول ثبت کوي، د بیلګې په توګه، د هدف وړ اشخاصو په نقیله وسیلوکې ځای په ځای کول.

د قرباني شخص په ذریعه فعالیدونکي لاس جوړ چاودیدونکي توکي – دغه چاودیدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کیږي چې کله یوه شخص او یا موټر د ده د پټاقۍ سویچ ته فشار ورکړي، دغه سویچ ممکن فشاري وي یا د فشار د خوشې کیدو سیسټم وي او یا هم دکش کولو سیم یا

دکوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[241]

نور چاودیدونکي توکي– په دې کټګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډېرکم شمېر پیښې ثبتې کړې دي)،[242] او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقۍ یا سویچ ډول یې نه معلومیږی.

په لاس جوړ ځان مرګی چاودیدونکي توکي (ځانمرګي/انتحاری بریدونه) ـ د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو په هکله د معلوماتو برسیره، یوناما د ځانمرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکی خلکو د مرګ ژوبلی پیښې ثبتې کړي دي. ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي په عمومي توګه یا په ځان پورې تړلي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي یا په نقیله وسیله کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي وي. د دغو پیښو په ارقاموکې ځانمرګی برید هغو حالتونو ته راجع کیږي چیري چې ځانمرګی بریدګر په لاس جوړ چاودیدونکو توکو بار واسکټ یا کمربند اغوندي، په چاودیدونکو توکو د ډک موټر ځانمرګی بریدګر داسې تعریف شوی چې یو ډرایور یا د موټر په دننه کې مسافر په چاودیدونکو توکو بار موټر چوي.

**د په لاس جوړ چاودیدنکو توکو تحلیل او تشخیص:** د ځاي پر ځاي شويو چاودیدونکو توکو تحلیل د هغو معلوماتو او موادو د تشخیص، راټولولو، پروسس او معلوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شويو چاودیدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړای شي او د دوی د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شويو چاودیدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه، تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازموینې او تحلیل رائې چې د با صلاحیته متخصصو اسانتیاوو او مرکزونو د لورې تر سره کیږي. د چاودیدونکو توکو تحلیل او تشخیص چاودیدونکو توکو پر ضد د اغیزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پیښې:** هغه دې چې په وسله والو جګړو کې ملکی وګړو ته تلفات اړوي، ملکیان ټپتول کیږي، یا ملکي شتمنۍ زیانمنې کیږي، او همدارنګه د وسله والې شخړې سره تړلې ګواښونه/تهدیدونه/ځورونې او د شخړې د ښکېلو ډلو لخوا د طبي او روغتیا پالنې د مرکزونوکارول.

**غیر مستقیمې وسلې:** د وسلو سیستمونه، د بیلګې په توګه توپخانه او د هاوانونوګولۍ، هغه چې د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لیدوکرښې ته اړتیا نلری. د وسلو غیر مستقیمه کارونه د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لید د کرښې پرته د وسلې کارولو ته وای.

**نړیوال پوځي ځواکونه:** په "نړیوالو پوځي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شامليږي کوم چې د ناټو د پریکنده ملاتړ د ماموریت یوه برخه جوړوي او همدارنګه په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو ځواکونه، کوم چې د غوڅ ملاتړ په ماموریت کې دګډون سربیره د سنټینل د ازادۍ د عملیاتو د یوې برخې په حیث د ترهګرۍ ضد عملیاتوکې ښکیل دي. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنیو استخباراتي او امنیتي ځواکونو باندې هم د پلې کیدو وړ ده.

**ملا/امام:** په افغانستان کې، د امام اصطلاح د داسې یوه مذهبي شخص لپاره کارول کیږي چې په اسلامي دودونو او فقه کې یې زده کړې ترلاسه کړې وي یا روزل شوی وي.

**ناټو:** شمالي اتالنتیک تړون سازمان. د ناټو غړي د غوڅ ملاتړ د ماموریت د سرتیرو ورکونکو اصلي هیوادونه دي (غوڅ ملاتړ ماموریت او دویمه ضمیمه وګورئ) د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي اړخونه.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي اداره

**غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیونکي توکي:** د ځانمرګو په لاس جوړ چاودیدونکو توکو پرته، د بیلګې په توګه، هغه چې د فشاري آلې، مقناطیسي او د ریموټ کنټرول په واسطه د ماشه لرونکو چاودیدونکو توکو په واسطه رامنځته کیږي،هر ډول چاودیدونکې چاودیدونکي توکي دي.

**OHCHR:** د بشري حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ.

**د ازادۍ عملیاتو ساتونکی ماموریت- Operation Freedom's Sentinel:** په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالتونو ځواکونه څوک چې د غوڅ ملاتړ ماموریت ملاتړکوي او همدارنګه په افغانستان کې د افغانستان- او د متحده ایالتونو د ۲۰۱۴ کال د دوه اړخیزه امنیتي تړون پر اساس د ترهګري پر ضد عملیات پر مخ وړي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**دولت پلوه وسله والې ډلې:** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو،یاغیانو او جنایي ډلو څخه توپیر ولري، راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولس کوم چې دکورنیو چارو د وزارت ترکنټرول او قوماندې لاندې راځې نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي، دا ډلې د هیوادونو، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نلري او د هیواد(هیوادونو) ترکنټرول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردوکې، وسله والې ډلې دکوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دي، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون خوځښتونه،[243] محلي ملیشې (نژادي، قومي یا په بل عبارت) او ملکی دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې(داسې ډلې په ښکاره د دولت ترکنټرول لاندې ندی) .

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په پوځي او نیمه پوځي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتوکې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. د یوناما د ملکیانو د ساتنې د راپورونو د موخو لپاره، دولتي ځواکونه دولت پلوه وسله والې ډلې احتوا کوي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د غوڅ ملاتړ:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نېټه، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتې ځواکونو ته د

روزنې، مرستې او مشورې برابرول دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د تلاشي عملیات:** د تلاشي عملیات یو پوځې تاکتیک دی چې په افغانستان کې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هغوکسانو د نیولو یا وژلو لپاره کارول کیږي چې دوي فکرکوي د دولت ضد عناصرو اهداف دي، چې په ترخ کې یې معمولا د شپې لخوا د تلاشي په موخه کورونو یا نورو ملکي جوړښتونه ته دننه کیږي چې معمولا د شپې لخوا ترسره کیږي او اکثرا د شپنیزو بریدونو به نامه یادیږي.

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارولو لپاره طرح شوي. په دې کې لاندې موارد راځي: د نورو شیانو تر څنګ، تومانچې، اتومات ټومانچې، ټوپکونه اوکاربین، فرعي ماشین کنې، د حملې ټوپکونه او سپکې ماشین ګنې شاملي دي.[244]

**ځانمرګی برید (د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو ځانمرګی برید:** یوناما د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د ځانمرګي برید یا ځانمرګي بریدونو هغو ټولو ته کاروي څو هغه ټول بریدونه احتوا کړي په کوموکې مرتکیب د یوه تبعیه شویو چاوددیدونکي توکي څخه کار اخیستی ،په تیره بیا په ځان پورې تړلي یا په موټرکې ځای پر ځای شوي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي چې د چولو پر مهال د هغه یا هغې پر مړینه تمامه شي. پدې کې همدارنګه 'پیچلي بریدونه' هم شامل دي (پورته تعریف وګورئ).

**هدفي وژنې:** د دې راپور د موخو لپاره، هغه وژنې دي چې د یوه ځانګړي شخص په وړاندې څوک چې د مرتکب شخص په فزیکي بندکې نه دی،[245] د دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو لخوا د قهریه قوې د قصدی کارولو په حیث تعریف شوې. په دې ډول پیښو معمولا له وړاندې قصد موجود وي. یوناما د ملکی کسانو د تلفاتو داسي قضي ثبت کړیدي کوم چې په نیغه د دا ډول بریدونو څخه رامنځته شوي او یا هم ورسره تړلي دي.

**تشکیل:** په درې کې د جوړښت په مانا ده چې دکارکوونکو دګمارنې رسمي فهرست او د تجهیزاتو اختصاص ته چې د افغانستان د دولت لخوا د دولت د یوه ځانګړې نهاد، د امنیتي ځواکونو او ملکی حکومت دواړو لپاره تصویب شوې وي، راجع کیږي

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی.

**UXO:** ناچاودي توکي.

**جنګي جرمونه:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي.

په غیر وسله واله نړیواله شخړه کې جنګي جرمونه د دریېمې عمومي مادې او نورو قوانینو او دودونو چې په وسله واله شخړه کې چې نړیوال خصوصیت و نلري د پلې کیدو وړ دي. په جنګي جرمونوکې لاندې موارد شامل دي ـ د هغوکسانو په حواله چې په نښتو، د ژوند او شخص په وړاندې خشونت کې برخه نه اخلي، د قتل، د ملکي وګړو په وړاندې د عمدي بریدونو په شمول، یا هغه کسان چې په نښتوکې برخه نه اخلي.[246]

**زکات:** اجباري تادیات چې په کال کې د یو چا د شتمنۍ د تناسب په توګه ترسره کیږي او د خیرات لپاره کارول کیږي.

## څلورمه ضمیمه: د ملکي تلفاتو ولایتي تجزیه

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ څخه د ډسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، په دا بله پاڼه کې نوملړ د دې په خاطر تنظیم شوی څو د ملکي تلفاتو د لوړ شمېر او د ملکي تلفاتو د ټیټ شمېر درلودنکي ولایتونه مشخص کړي. په دې نوملړ کې د دې مودې په جریان کې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په هر یوه ولایت کې د مستند شویو ټولو ملکي تلفاتو شمېر، په هر ولایت کې د ملکي تلفاتو دریو مهمو لاملونو او د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالې اوکموالې ته په نوملړکې ځای ورکړل شوی.

| ولایت | مخکښ تاکتیک او لامل | دویم مخکښ تاکتیک | دریم مخکښ تاکتیک | ټولټال مکي تلفات | د ۲۰۱۸ کال په پرتله |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هدفي/عمدي وژنې | ۱۵۶۳(۲۶۱ مړه او ۱۳۰۲ ټپي) | -۱۶% |
| ننګرهار | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۱۰۷۰ (۳۵۶ مړه او ۷۱۴ ټپي) | -۴۱% |
| هلمند | په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هوایي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | ۶۷۵ (۲۸۴ مړه او ۳۹۱ ټپي) | -۲۲% |
| غزني | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | ۶۷۳ (۲۱۳ مړه او ۴۶۰ ټپي) | +۳% |
| زابل | ځمکنۍ نښتې | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هوایي بریدونه | ۴۹۶ (۱۴۲ مړه او ۳۵۴ ټپي) | +۶۹% |
| کندز | ځمکنۍ نښتئ | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هوایي بریدونه | ۴۹۲ (۱۴۱ مړه او ۳۵۱ ټپي) | +۴۶% |
| فاریاب | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي توکي | ۶۶۵ (۱۹۹ مړه او ۴۶۶ ټپي) | +۳% |
| کندهار | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | د تلاشي عملیات | ۴۶۷ (۱۲۱ مړه او ۳۴۶ ټپي) | -۱۳% |
| هرات | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هدفي/عمدي وژنې | ۴۰۰ (۱۴۴ مړه او ۲۵۶ ټپي) | +۵۴% |
| بغلان | ځمکنې نښتې | هدفي/عمدي وژنې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۳۴۹ (۱۲۳ مړه او ۲۲۶ ټپي ) | +۳۴% |
| لغمان | ځمکنۍ نښتې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۲۸۲ (۸۰ مړه او ۲۰۲ ټپي) | +۴% |
| بلخ | ځمکنۍ نښتې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هدفي/عمدي وژنې | ۲۷۷ (۱۰۸ مړه او ۱۶۹ ټپي) | +۲۲% |
| کنړ | ځمکنۍ نښتې | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي توکي | هدفي/عمدي وژنې | ۲۵۶ (۷۷ مړه او ۱۷۹ ټپي) | -۳۶% |
| پروان | ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | د تلاشي عملیات | ۲۴۶ (۶۵ مړه او ۱۸۱ ټپي) | +۵۰۰% |
| لوګر | هوایي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | هدفي/عمدي وژنې | ۲۱۸ (۹۵ مړه او ۱۲۳ ټپي) | +۵۲% |
| پکتیا | ځمکنۍ نښتې | هدفي/عمدي وژنې | د تلاشي عملیات | ۲۱۸ (۷۸ مړه او ۱۴۰ ټپي) | -۴۹% |
| سرپل | ځمکنۍ نښتې | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي تورکي | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۲۱۷ (۴۸ مړه او ۱۶۹ ټپي) | +۱۱۵% |
| خوست | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هدفي/عمدي وژنې | ځمکنۍ نښتې | ۱۹۷ (۵۱ مړه او ۱۴۶ ټپي) | +۱۳% |
| تخار | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۱۹۲ (۶۰ مړه او ۱۲۳ ټپي) | +۷۰% |
| وردګ | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | د تلاشي عملیات | ۱۸۴ (۱۰۸ مړه او ۷۶ ټپي) | -۱۸% |
| پکتیکا | د تلاشي عملیات نښتې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هوایي بریدونه | ۱۶۸ (۱۲۸ مړه او ۴۰ ټپي) | +۱۱% |
| بادغیس | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۱۶۱ (۷۷ مړه او ۸۴ ټپي) | +۱۰۴% |
| فراه | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | ۱۴۷ (۸۷ مړه او ۶۰ ټپي) | -۴۷% |
| ارزګان | ځمکنۍ نښتې | هوایي بریدونه | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۱۴۵ (۷۳ مړه او ۷۲ ټپي) | -۱۶% |
| کاپیسا | ځمکنۍ نښتې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | هوایي بریدونه | ۱۲۴ (۴۹ مړه او ۷۵ ټپي) | -۱۱% |
| جوزجان | ځمکنۍ نښتې | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي توکي | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۱۹۲ (۶۰ مړه او ۱۳۲ ټپي) | +۷۰% |
| خوست | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | هدفي وژنې | تلاشي | ۱۷۵ (۸۴ مړه او ۹۱ ټپي) | -۳% |
| ارزګان | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي(غیر ځانمرګي) | هوایي بریدونه | ۱۷۳ (۴۶ مړه او ۱۲۷ ټپي) | -۷۰% |
| بدخشان | هوایي بریدون | ځمکنۍ نښتې | هدفي/ عمدي وژنې | ۱۰۶ (۴۸ مړه او ۵۸ ټپي) | +۶۸% |
| غور | هدفي/عمدي وژنې | ځمکنۍ نښتې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ۷۷ (۶۲ مړه او ۱۵) | +۲۰% |
| دایکندي | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هوایي عملیات | ۷۰ (۴۴ مړه او ۲۶ ټپي) | +۷۱% |
| نیمروز | هوایي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي توکي | ۶۲ (۳۰ مړه او ۳۲ ټپي) | -۲۴% |
| سمنګان | ځمکنۍ نښتې | هدفي/ عمدي وژنې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیوونکي توکي | ۴۵ (۱۱ مړه او ۳۴ ټپي) | -۲% |
| نورستان | ځمکنۍ نښتې | هدفي/ عمدي وژنې | غیر ځانمرګي په لاس جوړ چاودیونکي توکي | ۲۲ (۸ مړه او ۱۴) | -۸% |
| بامیان | د جګړې ځخه پاته شونې چاودیدونکي توکي | N/A | N/A | 5 (3 مئه او 2 ټَي) | -۲۹% |
| پنجشیر | N/A | N/A | N/A | ۰ (۰ مړه او ۰ ټپي) | ٪۰ |

## د یوناما د ۲۰۱۹ میلادي کال د ملکي تلفاتو د کلني راپور په هکله د افغانستان اسلامي امارت ځواب

**بني چارې!**

داچې د یوناما لخوا د ملکي تلفاتو کلنی راپور له موږ سره شریک کړل شو، مننه ترې کوو، هیله مو داده چې د ملکي تلفاتو په برخه کې دا ډول راپورونه خپرول د دې باعث شي چې د ملکي تلفاتو واردوونکي او عاملین خپلو کړنو ته متوجه کړي او زموږ د مظلومو عامو وګړو مرګ ژوبله کمه او حتی صفر شي.

د یوناما لخوا خپور شوی راپور مو وکوت، خو متأسفانه له نواقصو سره مل دی، د یوناما په شمول له ټولو بشرپالو ادارو چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې په اړه راپورونه خپروي، هیله لرو چې د ملکي مرګ ژوبلې موضوع له سیاسي کیدو څخه را وباسي او د عیني واقعاتو سره سم راپور تهیه او خپور کړي، څکه داسي کول به په واقعي بنه د ملکي تلفاتو عاملین مشخص کړي او د پیښو په کمیدو کې به په ریښتوني توګه کمښت راولي.

مګر که د ملکي تلفاتو موضوع له سیاسي ملحوظاتو او استفاده جویي سره ملګری وي، بیا نشو کولای چې واقعا د انسانانو د مرګ ژوبلي مخه ونیسو، بلکې د بې ګناه انسانانو وژونکی به لاهم خپلو شومو کړنو ته دوام ورکوي او پړه به يې په بل لوري غورځي.

د یوناما د کلني راپور په اړه زموږ ملاحظې په لاندې ډول دي:

١ ــ متأسفانه ستاسو راپور د هغو پیښو او سیمو څخه بشپړ معلومات نه لري یا يې نه دي حساب کړي چې د امریکایي ځواکونو لخوا د بمبارونو او شپنیو چاپو په پایله کې په خورا بوګنوونکي ډول ملکي خلک په کې وژل شوي، ټپیان شوي، کورونه نړیدلي اوخلک ځوریدلي دي.

٢ ــ په افغانستان کې د ملکي تلفاتو لومړی درجه ستر عاملین امریکایي ځواکونه دي چې خورا ډیرې ړندې بمباری کوي او د خلکو په کورونو چاپې وهي.

د امریکا د دفاع وزارت د محاسبو له مخې په تیر کال کې د امریکایي ځواکونو لخوا په افغانستان باندې (۷۴۲۳) بمونه اورول شوي، که یو بم ۵ کیلوګرامه فرض کړو دا (۳۷۱۱۵) کیلو ګرامه باروت چې د افغانستان د خلکو په وړاندې په پوره بې پروایي سره کارول شوي، له دومره لوی وحشت سره آیا دا ممکنه ده چې د همدومره باروتو استعمالوونکي باید په کال کې ایله د ۸ سلنې د ملکي مرګ ژوبلې مسئول وبلل شي؟

۳ ـ زموږ ټول اولس شاهد دی چې د ملکي تلفاتو دوهم ستر عامل د کابل اداري تر چتر لاندې د صفر یو، صفر دوه، صفر درې، د کندهار امنیتي ځواک او د خوست امنیتي ځواک (ضربتیان) دي چې په خورا بوږنوونکي ډول په ملکي وژنو او خورونو کې لاس لري.

د خلکو په کورونو باندې د شپې او ورځې چاپې وهي، خلک له کوره باسي بیا یې په دښتو او صحراوو کې وژني، شخصي زندانونه لري، خلک په کې تعذیب او شکنجه کیږي، آیا دا به کوم افغان وګړی له تاسو سره ومني چې دغه وحشي ځواک به ایله په افغانستان کې د ۱۲ سلنې ملکي مرګ ژوبلې عامله وي؟

۴ ـ که تاسو په افغانستان کې رسنۍ تعقیب کړئ، هره ورځ موږ شاهدان یو چې د مختلفو ولایاتو څخه د ملکي تلفاتو د اړولو راپورونه خپریږي، په لسو راپورونو کې ایله که یو راپور په هغو پیښو پورې اړه ولري چې د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا د تلفات اړول شک پرې کیږي، یا زاړه ماینونه انفجار شوي وي، یا نور چاودیدونکي توکي د مرګ ژوبلې سبب شوي چې په یوه پیښه کې هم د بالفعله قصدي عمل ثبوت نه وي، په داسې حالت کې دا معقوله ده، او کوم افغان وګړی به قناعت درسره وکړي چې بیا دې هم زموږ مجاهدین د ۴۷ سلنې ملکي مرګ ژوبلې عامل و اوسي؟

۵ـ د ملکي تلفاتو بل ستر عامل په اطرافي سیمو کې د اربکي قومندانانو افرادو او وسلوالو لخوا د خلکو وژل، ټپي کیدل او خورول دي، چې هغه هم مخامخ د کابل اداري غړي دي او د امریکایي ځواکونو لخوا معاشونه ورکول کیږي.

۶ ـ د ملکي مرګ ژوبلې بل علت د کابل اداري د عسکرو یا پولیسو لخوا په عامو کلیو او د ملکي خلکو د کنې ګونې په ځایونو باندې د توغندیو راندهٔ بریدونه دي چې هره ورځ په مختلفو ولایاتو کې په اطرافي سیمو کې دا سې پیښې تکراریږي.

له پورته یقیني مرګ ژوبلي سره سره بیا هم د امریکایي اشغالګرو عسکرو لپاره د ۸ سلني مسئولیت راجع کول او د کابل اداري د مختلفو ارګانونو په غاړه د ۱۶ سلني مسئولیت ور اچول په خورا ښکاره توګه ستاسو راپور تر سوال لاندي راولي، دا خبره روښانه کوي چي دا راپور د امریکایي سفارت خاني، نظامیانو او د کابل اداري له چارواکو سره په مشوره کې ترتیب شوی او هغوی ته له مشهودو جنایاتو څخه د برآت ورکولو هڅه شوي.

داسي کول ستاسو په محاسبو باندي د افغانانو باور ته جدا زیان اړوي او هیڅوک نشي کولای د یوناما راپورونه واقعبینانه او د بشري عاطفي له مخي را جمع شوي وګڼي، بلکي په ښکاره سیاسي ملحوظات او د امریکایي اشغالګرو فشارونه په کې په نظر کې نیول شوي چي د اسلامي امارت لپاره د منلو نه دي.

۷ـ په راپور کې په مشخص ډول د امریکایي ځواکونو لخوا د ډرون الوتکو وحشیانه کردار ته اشاره نه ده شوي. آیا تاسي خبر یاست چي د امریکایانو لخوا د افغانستان په کلیوالي سیمو د ډرون الوتکو څخه په استفاده تر کومه حده یوه غیر قانوني او غیر انساني جګړه جریان لري. ډرون الوتکي اکثره مهال په اطرافي سیمو ګزمي کوي او په هر چا یي چي شک راشي ورباندي بريد کوي. ډرون الوتکو ډير ځله عام بزګران، شپانه، ماشومان او حتی د خوښيو او جنازو مراسم په نښه کړي دي. له دي علاوه د ډرون الوتکو د ګشت او د شپي د ټیټو پروازونو له امله په کلیوالي سیمو کي عامو خلکو ته رواني ستونزي پیدا شوي دي. په زرګونه ښځي او کوچني ماشومان چي د ډرون له اواز سره حساسیت لري په رواني او عصبي امراضو مبتلا شوي. داسي وحشت چي ښايي تاریخ یي بیلګه ونه لري امریکایانو د خپلو هوایي روبوټانو ( ډرون) په واسطه په افغان کلیوالو پيرزو کړی دی.

۸ ـ په اطرافي سیمو کي په تیر کال په زرګونو ملکي تاسیسات په قصدي عملیاتو کي له منځه وړل شوي د بیلګي په توګه ۱۱۶ مساجد، ۱۸ بابه ښوونځي، ۲۰ صحي مراکز، ۱۶۵۰ د ملکي خلکو کورونه ۱۱ دیني مدارس، ۱۷۱۹ دوکانونه او د څو ښارګوټو په شمول لوی شمیر عامه تأسیسات د کابل رژیم عسکرو په قصدي ډول منفجر کړي اوتخریب کړي دي. نه پوهیږو د ملل متحد د تعریف له مخي ملکي تأسیسات یوازي هغه دي چي په ښار کي وي او که د اطرافو او کلیو عامه تأسیسات هم په دې ردیف کي راځي؟؟ په راپور کي دغو تخریبي جنایاتو ته اشاره نه ده شوي.

۹ ـ د کابل رژیم استخباراتي ډلي په خاص ډول په خوست کي د سي آی ای تر امر لاندي (

(Khost Protection Force) د خوست، پکتیا، پکتیکا او غزني په ولایاتو کې داسې جنایات ترسره کړي چې شاید د بشر تاریخ یې هم بیلګې ونه لري. مثلا داسې هم پیښ شوي چې دغه ځواکونه یوه کور ته ورغلي، په کور کې د تلاشي په مهال یې کومه وسله نه ده پیدا کړې، خو یوه کوچنۍ بطرۍ یې موندلې وي. وروسته یې په دې بهانه کور په بمونه الوزولی وي چې دا د مخابرې بطرۍ ده او تاسو له طالبانو سره رابطه لرئ. حال دا چې کوچنۍ بطرۍ د دیوالي ساعت او ډیرو نورو شیانو لپاره خلک کاروي. بله دا چې ځواکونه په کوم کور کې کتابونه پیدا کړي، نو پوښتنه کوي چې دا کتابونه د کوم طالب یا ملا دي، که د کتابونه څښتن ومومي، سمدستي یې د طالبی په جرم قتلوي او که په لاس ور نشي نو کتابونه او ټول کور په بمونو الوځوي. د دغسې تکراري جنایاتو له امله خلک مجبور شوي چې کتابونه وسوځوي او یا یې تر خاورو لاندې کړي موږ نه پوهیږو یوناما چې د علم او تنویر شعار بدرګه کوي ولې د دغسې وحشتونو په اړه خاموشه ده.

۱۰ ـ په وروستیو کلونو کې په خاص ډول په تېر میلادي کال کې د امریکایانو له همکارۍ برخمنو د کابل رژیم عسکرو د چاپو او عملیاتو په نوم خلکو ته لوی مقدار مالي زیانونه هم اړولي. دوی چې څومره کورونه تلاشي کړي، نو پیسې، مبایلونه، قیمتي توکي او حتی د ښځو زیورات یې غلاء کړي دي. ستاسو په راپور کې دغو پلان شویو لوټماریو ته هیڅ اشاره نه ده شوې.

۱۱ـ ستاسو په راپور کې موږ د ۲۶ فدایي بریدونو مسئول بلل شوي یو چې بیا ښودل شوي چې ټول د ملکي خلکو په ضد را منځته شوي، آیا موږ ملکي تأسیسات په نښه کړي دي؟

که تاسو د فدايي بریدونو موارد یو یو مشخص کړي، ټول په نظامي اهدافو ترسره شوي، یو ځای هم ملکي ځای نه وو، البته هغه پیښې چې ریښتیا د امارت لخوا شوي او مسئولیت یې هم اخیستل شوی، خو ستاسو په راپور کې داسې وانمود شوی چې ګنې دا بریدونه ټول په عامو خلکو شوي دي، چې موږ یې مغرضانه او ستره بې انصافي ګڼو، په زرګونه ټنه امریکایي باروت چې په کلیو او خلکو غورځي هغه له پامه غورځي، خو په باګرام، د ناټو په قومنداني ګرینج ویلج، امینتي قطارونو، نظامي قرارګاوو او مهمو نظامي هستو برید بیا د ملکیانو په ضد عمل تلقي شوی.

نو ځکه موږ ستاسو دغه راپور ردوو، بې پرې یې نه بولو او په ریښتوني توګه د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي په مقصد تیار شوی نه راته ښکاري.

طبعا جګړه ده، امکان لري د مجاهدینو په پېښو کې هم ملکي خلکوته زیانونه اوښتي وي، خو موږ یوه خبره په صراحت سره کوو چې د اسلامي امارت هیڅ یو برید هم د ملکي خلکو د وژلو په قصد نه دی ترسره شوی.

بلې خوا موږ د اکثرو هغو ملکي پېښو چې په غیر قصدي ډول په خطا کې هم د مجاهدینو لخوا اوښتي وي عاملین پیدا کړي او همدا اوس هم په زندانونو کې پراته دي او دوسیې په محکمه کې تر دروان لاندې دي.

له دومره احتیاط او توجه سره سره بیا موږ ته د زیاتو ملکي تلفاتو نسبت کول او مقابل جهت ترې خلاصول هغه سوالونه دي چې موږ مخکې هم له تاسو سره پرې بحث کړی او قناعت مو نه دی تر لاسه کړي.

ستاسو د راپور له خېړیدو سره سم موږ دا راپور په رسنیو کې هم ردوو او بې پرې یې بولو، په راتلونکې کې هیله لرو چې خپل ارقام دقیق کړي، ریښتیا هم د ملګرو ملتو له آدرسه راپوررونه خپاره کړي، د امریکایانو پلو مه نیسي. مننه

1 یوناما همدارنګه هغه پېښې مستند او تاییدوي چې ملکي شتمنۍ د زیان لامل شوې وي.

2 د لا زیاتو مالوماتو لپاره، لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ، او په دویمه ضمیمه: د اصطلاح ګانو په قاموس کې د ملکیان او ملکي تلفاتو تعریف وګورئ.

3 د سره صلیب نړیواله کمیټه، د ۱۹۴۹ کال د جنیوا لومړي کنوانسیون، د ۳ مادې تبصره، ۵۳۰ پاراګراف ۲۰۱۶.

4 د بشرپالنې د نړۍوال قانون په اساس، په جګړو کې د مستقیمې ونډې اخیستنې په اړه د نړۍوال سره صلیب (آی سي آر سي) تفسیري لارښود ، مئ ۲۰۰۹، ۳۲ مخ.

[5] د همدې ماخذ، ۳۲-۳۵ مخونه.

[6] د نړیوال سره صلیب (آی سي آر سي) د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون، ۲۰۰۵، لومړی ټوک: قواعد ("د آی سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څیړنه")، ۶ قاعده: پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده: https://ihl-databases.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1

[7] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه د یوناما د کلنیو راپورونو ۲۰۱۳ ۳۲ مخ؛ ۲۰۱۴ ۷۴ مخ؛ ۲۰۱۵ ۵۴ مخ؛ ۲۰۱۶ ۷۸ مخ؛ ۲۰۱۷۶ او ۵۶ مخونه (چې ټول د دولت ضد عناصرو په اړه دي)؛ او ۲۰۱۸ ۲۸ مخ وګورئ.

[8] د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۲ نېټه د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالی د هوايي بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور چې د ( ۲۰۱۸ کال په مئ کې خپور شوی)؛ او د نشه يي توکو د پروسس پر مرکزونو د بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور چې د ( ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شوی) وګورئ؛ چې پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: available at: https://unama.unmissions.org/ protection-of-civilians-reports

[9] همدا ماخذ. دا په ۲۰۱۸ په اپریل کې د کندز ولایت دشت ارچي ولسوالی تر ماموریت وروسته، د طالبانو تر کنترول لاندې سیمه کې د حقیقت موندنې دویم هیئت/ماموریت و چې د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره په ګډه ترسره شوی.

[10] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما ۱۰۹۹۴ ملکي تلفات (۳۸۰۳ مړه او ۷۱۹۱ ټپیان) تایید کړي.

[11] په دولت ضد عناصرو کې "طالبان او د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) د خراسان څانګه او نوري وسله والې ډلې چې د افغان دولت او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو سره په وسله وال مخالفت یا جګړه کې ښکیلې دي، شاملې دي. *دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې او دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ.* "

[12] "دولت پلوه ځواکونه" افغان ملي امنیتي ځواکونو او نورو هغو ځواکونو او ډلو ته ویل کیږي چې د بلواګرۍ ضد په نظامي یا نیمه نظامي عملیاتو کې فعالیت ترسره کوي او په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د افغان دولت تر کنټرول لاندې وي. په جګړو کې د یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب د راپورونو په اساس ، په دولت پلوه ځواکونو کې دولت پلوه وسله والې ډلې هم شاملې دي. *دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې او دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ.*

[13] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما شپږ میاشتنی (جولای ۲۰۱۹) معلومات وګورئ، چې په لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[14] د ۲۰۱۹ کال د جولای له لومړۍ نېټې د ډسپتمبر میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما ۴۴۸۹ ملکي تلفات (۱۲۵۶ مړه او ۳۲۳۳ ټپیان) مستند کړي.

[15] د ۲۰۱۹ د اکتوبر له لومړی نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما ۱۹۳۰ ملکي تلفات (۷۲۵ مړه او ۱۲۰۵ ټپیان) مستند کړي چې د ۲۰۱۸ کال په ورته موده کې ۲۷۵۴ ملکي تلفات(۹۳۳ مړه او ۱۸۲۱ ټپیان) ثبت شوي.

[16] په ۲۰۱۹ کال کې، د عراق او شام اسلامي دولت (داعش) د خراسان څانګې اووه ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ترسره کړي، چې د ۴۵۵ ملکي تلفاتو (۱۸۳ مړو او ۲۷۲ ټپیانو) لامل شوي. په ۲۰۱۸ کال کې د ۳۶ بریدونو په پرتله چې د ۱۸۹۲ ملکي تلفاتو (۵۵۷ مړو او ۱۳۳۵ ټپیان) لامل شوي، ۷۶ سلنه کموالیځرګندوي..

[17] په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۱ بریدونو په پرتله چې د ۶۴۲ ملکي تلفاتو (۲۱۶ مړو او ۴۲۶ ټپیانو) لامل شوي، په ۲۰۱۹ کال کې، طالبانو ۲۹ ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ترسره کړي، چې د ۱۴۹۹ ملکي تلفاتو (۱۶۵ مړو او ۱۳۳۴ ټپیانو) لامل شوي او د ۱۳۳ سلنه زیاتوالی ځرګندوي.

[18] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو د بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي ۲۸۳۲ ملکي تلفات (۸۱۷ مړه او ۲۰۱۵ ټپیان) مستند کړي..

[19] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور د *څلورمې (ب) (آی) هوايي بریدونه* برخه وګورئ.

[20] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د افغان هوايي ځواک له خوا د اپریل پر ۲ د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د هوايي برید له امله ۱۰۷ ملکي تلفات مستند کړي (د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۲ د کندز ولایت د دشت ارچي د هوايي برید په اړه د یوناما ځانګړی راپور (مئ ۲۰۱۸) وګورئ، چې پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports). تر دغې یواځینۍ پېښې پرته به یوناما په ۲۰۱۹ کال د افغان هوايي ځواک له خوا په ملکي تلفاتو کې ۱۷ سلنه زیاتوالی مستند کړی و.

[21] د مثال په ډول، په دې کې هغه اشخاص شامل دي ځوک چې ښايي "مالیه" یا زکات راغونډ کړي، او دغه راز هغه اشخاص ځوک چې ښايي د نا قانونه نشه يي توکو د پروسس کولو یا نورو وسیلو له لارې د دولت ضد عناصرو سره په مالي ملاتړ کې ښکیل وي. د یوناما ځانګړی راپور: د ۲۰۱۹ کال د مئ پر ۵ په فراه ولایت کې د نشه يي توکو د پروسس پر شکمنو مرکزونو هوايي بریدونه (د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شو) وګورئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports .

[22] د بشرپالنې د نړیوال قانون په اساس، په وسله واله جګړه کې د مستقیمې ونډې اخیستنې په اړه د نړۍ وال سره صلیب (آی سي آر سي) تفسیري لارښود، مئ ۲۰۰۹، ۳۵-۳۲ مخونه.

[23] د آی سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال قانون څېړنه، ۶ قاعده. د دغې موضوع اړوند د حقوقي شننې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د یوناما ځانګړی راپور: د ۲۰۱۹ کال د مئ پر ۵ په فراه ولایت کې د نشه يي توکو د پروسس پر شکمنو مرکزونو هوايي بریدونه (د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شو) وګورئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[24] د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ۲۰۱۹ کال د جون د ۲۹ راپو ((A/73/907 تر لومړی ضمیمې لاندې لیست شوې خواوې وګورئ.

[25] بچه بازي یوه مضره کړنه ده، چې هلکان د شتمنو یا ځواکمنو نارینه وو له خوا د ساعت تیرۍ په ځانګړي ډول د نڅا او جنسي فعالیتونو لپاره استثمار کیږي، ؛ دغه کړنه د جزا په تعدیل شوي قانون کې چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې نافذ شوی، جرم ګڼل شوی.

[26] د جرم مرتکبین د دولت پلوه ځواکونو یا د دولت ضد عناصرو غړي نه وو.

[27] د راپور ۴. ب. ۲: *ځانیزو عملیاتو برخه* وګورئ.

[28] د فیصدي مجموعه د اعشاریه له امله کله د سلو څخه زیاته او یا کمه شي. چې نتیجه کې د سلنې د جوړولو په وخت ارقام د مجموعه فیصدي سره شاید یو ډول نه وي.

[29] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور ۵. د. *د پولې په اوږدو کې پېښو* برخه وګورئ.

[30] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۶۹۷۰ ملکي تلفات (۲۲۳۸ مړه او ۴۷۳۲ ټپیان) منسوب کړي.

[31] د هغو پیښو له جملې چې طالبانو ته منسوب شوي، طالبانو په ښکاره د ۸۱ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي چې د ۱۷۱۲ ملکي تلفاتو (۲۰۴ مړه او ۱۵۰۸ ټپیان) لامل شوي.

[32] د هغو پیښو له جملې چې د عراق او شام اسلامي دولت(داعش) د خراسان څانګې ته منسوب شوي، نوموړې ډلې په ښکاره د ۵۰ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي (چې زیاتره یې ملکي وګړي په نښه کړي) چې د ۷۸۸ ملکي تلفاتو (۱۸۱ مړه او ۶۰۷ ټپیان) لامل شوي.

[33] په ۲۰۱۸ کال کې، افغان ملي امنیتي ځواکونه د ۱۶۲۹ ملکي تلفاتو (۶۴۰ مړه او ۹۸۹ ټپیان) لامل شوي.

[34] دا له ۲۰۱۸ کال سره هغه مهال پرتله شوي، کله چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو د هوایي بریدونو له امله ۱۰۱۳ ملکي تلفات (۵۳۴ مړه او ۴۷۹ ټپیان) ثبت کړل.

[35] دا له ۲۰۱۸ کال سره هغه مهال پرتله شوي، کله چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو د چاپیزو عملیاتو له امله ۳۵۳ ملکي تلفات (۲۸۴ مړه او ۶۹ ټپیان) ثبت کړل.

[36] د افغانستان سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړې استازي له طالبانو سره په دوحه کې د فبرورۍ له ۲۵ د مارچ تر ۱۲، د مۍ له ۱ تر ۹، د جون له ۲۹ د جولای تر ۹ او د اګست له ۳ تر ۱۱ پورې خبرې اترې ترسره کړې. خبرې له هیواد څخه د امریکایي ځواکونو پر وتلو او دا چې افغانستان به یو ځل بیا د نړیوال تروریزم پر مرکز نه بدلیږي، متمرکزې وې. د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت د اغیزو په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راتلونکي راپورونه وګورئ: A/73/902-S/2019/493; A/74/348-S/2019/703 (3 September 2019); A/74/582-S/2019/935 (10 December 2019).

[37] د ازادۍ عملیاتو ساتونکی، د متحده ایالاتو کانګریس د سر مشر څیړونکي جنرال راپور (د جنورۍ له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، ۲۰۱۹)، ۳ مخ، پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده: https://www.stateoig.gov/system/files/fy2019_lig_oco_report.pdf.

[38] د ۲۰۱۸ کال د دویمې ربعې په پرتله چیرې چې طالبان د ۳۷۹ پیښو مسوول وو چې له امله یې ۱۰۲۰ ملکي تلفات (۳۶۹ مړه او ۶۵۱ ټپیان) رامنځ ته شوي وو، د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې هغوی د ۲۶۹ پیښو مسوول دي چې له امله یې ۷۹۸ ملکي تلفات (۲۵۷ مړه او ۵۴۱ ټپیان) رامنځ ته شوي.

[39] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.afghanistan-analysts.org/aanqa-what-came-out-of-the-doha-intra-afghanconference/ and https://foreignpolicy.com/2019/07/10/the-taliban-have-a-road-map-for-peace/.

[40] A/74/582-S/2019/935 (۱۰ دسمبر ۲۰۱۹) او همدارنګه https://media.defense.gov/2019/Nov/20/2002214020/-1/-1/1/Q4FY2019_LEADIG_OFS_REPORT.PDF وګورئ. په دغه برید کې همدارنګه یو روماني سرتیری هم وژل شوی.

[41] د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما ځانګړي راپور : د ۲۰۱۹ کال ټاکنو اړوند تاوتریخوالی (اکتوبر ۲۰۱۹) وګورئ، چې پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[42] درېیم څپرکی: د دولت ضد عناصر وګورئ.

[43] پاکستان نظامي ځواکونو ته د ښځو درې نور تلفات (دوه مړي او یوه ژوبله) منسوب شوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ددغه راپور د پولې په اوږدو کې د ډزو برخه وګورئ. د ښځو اته تلفات (څلور مړي او څلور ژوبلې) له جګړې څخه د هغو پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځته شوي چې نه شوای کیدای کوم مشخص لوري ته منسوب کړی شي.

[44] په افغانستان کې د بشري مرستو د اړتیاوو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ۲۰۲۰ لپاره د افغانستان د بشري اړتیاوو بیا کتنه (۱۷ دسمبر ۲۰۱۹) وګورئ، د بشري مرستو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-humanitarian-needs-overview-2020.

[45] طالبان د ماشومانو ګمارنې او کارونې، وژنې او ژوبلونې، پر ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو او د ماشومانو د تښتونو لپاره لیست شوي؛ د عراق او د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) د خراسان څانګه د ماشومانو د ګمارنې او کارونې، وژنې او ژوبلونې لپاره لیست شوي؛ او افغان ملي پولیس او افغان سیمه ییز پولیس د ماشومانو د ګمارنې او کارونې لپاره لیست شوي. افغان دولت له ملګرو ملتونو سره یو ځای په ۲۰۱۱ کال کې د عمل یو پلان او د "انطباق/التزام لار نقشه" نهایي کړې.

[46] یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د هلکانو ۲۲۲۶ تلفات او نجونو ۹۱۰ تلفات مستند کړي. یوناما د ماشومانو د ۱۳ تلفاتو د جنسیت د معلومولو جوګه نه وه.

[47] د لا زیاتو معلوماتو لپاره ددغه راپور د سرحد په اوږدو کې د پېښو برخه وګورئ.

[48] یوناما د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو راتلونکي تلفات ثبت کړي: ۲۰۰۹- ۱۵۲ (۹۲ مړه او ۶۰ ټپیان)؛ ۲۰۱۰- ۴۲ (۲۸ مړه او ۱۴ ټپیان)؛ ۲۰۱۱- ۱۸۳ (۱۲۷ مړه او ۵۶ ټپیان)؛ ۲۰۱۲- ۷۴ (۵۱ مړه او ۲۳ ټپیان)؛ ۲۰۱۳- ۴۹ (۳۵ مړه او ۱۴ ټپیان)؛ ۲۰۱۴- ۵۴ (۳۲ مړه او ۲۲ ټپیان)؛ ۲۰۱۵- ۹۱ (۳۶ مړه او ۵۵ ټپیان)؛ ۲۰۱۶ – ۲۰۰ (۷۸ مړه او ۱۲۲ ټپیان)؛ ۲۰۱۷- ۲۶۶ (۱۱۴ مړه او ۱۵۲ ټپیان)؛ ۲۰۱۸- ۴۹۲ (۲۳۶ مړه او ۲۵۶ ټپیان).

[49] د ماشومانو د حقونو د ملاتړ قانون، تقنیني فرمان (شمېره : ۳۶۲) (۵ مارچ ۲۰۱۹).

[50] د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د ۷۹ مادې پر بنسټ، تقنیني فرمانونه "باید ملي شورا د هغې د لومړۍ دورې تر پرانیستو وروسته د ۳۰ ورځو په دننه کې وړاندې شي. کله چې ملي شورا ته وړاندې شي، که چیرې فرمان مسترد شي، باطلیږي او د تنفیذ وړ نه دی. تر هغې چې فرمان د دواړو ولسي او مشرانو جرګو له خوا نه وي مسترد شوی، خپل حقوقي ځواک لري." د یوې تشریفاتي/طرز العملي موضوع په څېر، تقنیني فرمانه لومړی ولسي جرګه تصویب وي او د تایید لپاره مشرانو جرګې ته لیږدول کیږي.

[51] درېیمه ضمیمه: د اصطلاحګانو قاموس وګورئ.

[52] یوناما د لوی څارنوال په دفتر کې د لوړې کچې د کمېټې له خوا د لوګر ولایت په ښوونځیو کې د ماشومانو په وړاندې د جنسي تیري د تورونو چې د ۲۰۱۹ کال په نومبر کې په رسنیو کې خپاره شول ، د رواني څېړنو یادونه کوي. په داسې حال کې چې لا تر اوسه نه ده معلومه چې دغه

قضیه له جګړې سره کوم تړاو لري او که نه، یوناما دغه تورونه تعقیبوي او د لوي څارنوال دفتر ته تخنیکي مرستې برابروي.

[53] د ماشومانو د حقونو کنوانسیون (۱۹۸۹)، ۱۹ (۱) او ۳۴ مادې.

[54] همدا ماخذ، ۳۷ ماده.

[55] طالبانو پر خپله ټویټر پاڼه ددغه برید مسوولیت پر غاړه اخیستی، لاندې ټویټر پاڼه وګورئ:
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1145704786181939200.

[56] یوناما ۱۸ پېښې طالبانو، اووه د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) د خراسان څانګې ډلې او څلور نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې.

[57] په دغو شمیرو کې هغه پېښې نه دي شاملې، په کومو کې چې ښوونځي او ښوونیز مرکزونه په تصادفي ډول اغیزمن شوي.

[58] د هغو پېښو له جملې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي، څلور یې افغان ملي اردو، درې یې د ملي امنیت ریاست، دوه یې نړیوالو نظامي ځواکونو، او دوه یې نا معلومو یا ګډ شمیر دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

[59] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ د جنیوا کنوانسیون الحاقي پروتوکول ۴ (۳)(الف) ماده، او په غیر نړیوالو وسله والو جګړو کې د قربانیانو د ساتنې په اړه (الحاق دویم پروتوکول)، ۸ جون ۱۹۷۷، ۳۸ قاعده، آی سي آر سي، د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون ډیټابیس.

[60] اوچا، د ۲۰۲۰ کال د بشري اړتیاوو بیا کتنه، پر دغې انټر پاڼه د لاس رسي وړ دي:
https:// www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afg_humanitarian_needs_overview_2020.pdf.

[61] د هغو پېښو له جملې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي، شپږ یې افغان ملي اردو، پنځه د ملي امنیت ریاست، یوه یې افغان ملي پولیسو، یوه یې افغان سیمه ییزو پولیسو، یوه یې په ګډه مختلفو دولت پلوه ځواکونو، او درې یې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي.

[62] د روغتیا پر نړیوالې اداري بندیز د پولیو واکسین د کور په کور کمپاینونو پورې محدود شوي. په ورته موده کې د سره صلیب د نړیوالې کمېټې پر فعالیتونو هم موقت بندیز لګیدلی وو.

[63] د ۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲ د ژنیو کنوانسیون دویم الحاقي پروتوکول ۳ مشترکه ماده ("دریمه مشترکه ماده")؛ د دویم الحاقي پروتوکول ۴ (۲)، ۷، ۱۳ مادې؛ د سره صلیب نړیواله کمیټه، د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۱، ۶ او ۷ قواعد. روغتیايي کارمندان، روغتیايي مرکزونه او طبي ټرانسپورت، که نظامي وي یا ملکي، چې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د روغتیايي چارو لپاره په ځانګړي ډول ګمارل شوي وي، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې له بریدونو خوندي دي. دریمه مشترکه ماده؛ د الحاقي دویم پروتوکول ۹ (۱) ماده؛ د اي سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۲۵، ۲۸ او ۲۹ قوانین وګورئ. دغه راز د نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامې ("روم اساسنامه") ۸ (۲) (سي)، (ای) (آی)، (ای) (۲) وګورئ.

[64] د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې (۱۹۴۸) ۲۵ ماده؛ د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۶) ۱۲ ماده؛ د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د کمېټې ۱۴ شمیره عمومي تبصره (۲۰۰۰) وګورئ. همدارنګه د عدالت د نړیوالې محکمې، په اشغال شوي فلسطین کې د دیوال د جوړولو پر سر د حقوقي پایلو په هکله مشورتي نظر، د ۲۰۰۴ کال د جولای ۹، ۱۰۶ پاراګراف وګورئ.

[65] په دغو شمیرو کې هغه ملکي تلفات هم شامل دي چې له معمولو ځمکنیو ماینونو د چاودنې په پایله کې رامنځ ته شوي.

[66] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۶۹۷۰ ملکي تلفات (۲۲۳۸ مړه او ۴۷۳۲ ټپیان) منسوب کړي. دولت ضد عناصرو ته د ملکي تلفاتو په شمیرو کې هغه پېښې نه دي شاملې په کومو کې چې د ځمکنیو نښتو پر مهال رامنځ ته شوي ملکي تلفات په ګډه د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. مهرباني وکړئ د دغه راپور پنځم: ځمکنۍ نښتې، په وړو کې ډګر ملکیانو، برخه وګورئ.

[67] د طالبانو او د متحده ایالاتو د مرکچیانو ترمنځ مذاکرات د سپتمبر په ۷ وځنډیدې او د دسمبر په لومړیو کې بیا پیل شوې. د دغه راپور لومړۍ: هغه سیاسي او امنیتي لاملونه چې د ملکي وګړو ساتنه اغیزمنوي، برخه وګورئ.

[68] یوناما د پېښو مسوولیت د دولت ضد عناصرو یوې مشخصې ډلې ته هغه مهال منسوبوي کله چې ډلې مسوولیت پر غاړه اخیستی وي، یا کله چې د پېښې مسوولیت د کوم لوري له خوا نه وي منل شوی خو د ټولو موجوده شواهدو شننه یوناما دې پایلې ته ورسوي چې یوه مشخصه ډله د پېښې مسوله وګڼي . په خاص ډول د ځانمرګو بریدونو او په لاس د جوړو شویو ماینونو (تعبیه شویو چاودیدونکو توکیو) په تړاو شننه کې هر ډول موجوده معلومات ، چې د دولت یا نورو سرچینو له خوا برابر شوي وي، چې ځینې یې په محرم ډول برابر شوي وي، د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابیس کې ساتل کیږي. په کومو پېښو کې چې یوناما ملکي تلفات نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوبوي، نومورې اداره همدارنګه د دې شننه ترسره کوي څو یقیني کړي چې پېښې له جګړې سره تړاو درلود. د یوناما دملکي تلفاتو په راپور کې د ملکیانو هغه تلفات نه دي شامل شوي کوم چې د جنايي ډلو له خوا چې د جګړې ښکېله خوا نه وي، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او نورو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي وي.

[69] دغه راز وګورئ: https://www.aihrc.org.af/home/press_release/8497; او https://www.aihrc.org.af/home/press-release/8499.

[70] وګورئ A/HRC/22/47 . د ۲۰۱۹ په اکتوبر کې، د باور ورکونې په اړه فرعي کمیټې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لپاره د "الف" باور ورکولو سپارښتنه وکړه: (https://nhri.ohchr.org/EN/AboutUs/GANHRIAccreditation/Pages/SCAReports.aspx).

[71] "د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون له خوا مخالفو رسنیزو چینلونه ته اخطار" (۲۴ جون ۲۰۱۹)، پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://alemarahenglish.com/?p=47329. دا لومړی ځل نه دی چې طالبان د اعلامیو په خپرولو سره رسنیو ته ګواښ کوي. د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر ۱۲، د طالبانو نظامي کمیسیون د یوې اعلامیې په خپرولو سره د طلوع او ۱ تلویزیونونو راپور ورکوونه وغندله، او دغه تلویزیوني چینلونه یې د خپلو اهدافو او نا مشروعو رسنیو په نوم و نومول.

[72] دغه راز د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۲۷ نېټه د یوناما اعلامیه وګورئ: https://unama.unmissions.org/statementtadamichi-yamamoto-taliban-threats-againstmedia-afghanistan.

[73] د دغه راپور دریم: ب: دویم: هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي، برخه وګورئ.

[74] په ۲۰۱۸ کال کې او د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، طالبانو مخابراتي شبکو ته امر کړی چې د شپې له خوا خپل خدمتونه بند کړي، څو هغوی د امنیتي ځواکونو له خوا د څرک معلومولو یا د هغوی د جنګیالیو په وړاندې د عملیاتو د ترسره کولو مخنیوی وکړي. د روشن، افغان بیسیم، ایم ټي این او اتصالاتو د کندز، بغلان او تخار ولایتونو په ګډون د هیواد

په مشخصو سیمو کې د شپې له خوا خپل خدمتونه ودرول؛ سلام مخابراتي شبکه یوازینۍ هغه وه چې د شپې له خوا یې د خدمتونو وړاندې کول جاري وساتل. د مثال په ډول وګورئ: https://iwpr.net/global-voices/overnight-bantelecoms-afghan-provinces.

[75] د یوناما د ملکیانو د ساتنې په ډیټابیس کې ساتل شوې اعلامیه؛ چې پخوا پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ وه: http://alemarahenglish.com/?p=50587 (لینک اوس کارنده نه دی).

[76] د ۲۰۱۹ کال له شمیرو سره سم چې د ملګرو ملتون د خوندیتوب او امنیت د څانګې له خوا ثبت شوي، په کابل کې امنیتي پېښې کمې شوې، په داسې حال کې د کونړ او ننګرهار ولایتونو کې زیاتې شوې.

[77] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) د خراسان څانګې  له خوا رامنځ ته شوي ۲۱۸۱ ملکي تلفات (۶۸۱ مړه او ۱۵۰۰ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله یې ۱۱۸ سلنه زیاتوالیپه ډاګه کاوه.

